IslamHouse.com

مرکز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

Rabwah

# د اسلامي دين ښېګړې او فايدې

Pashto
پښتو

ليکوال
عبدالعزيز بن محمد السلمان

ژباړن
لقمان حکيم حکمت

# من محاسن الدين الإسلامي

المؤلف
عبدالعزيز بن محمد السلمان

المترجم
لقمان حكيم حكمت

PASHTO
بشتو

**ⓒ المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤١هـ**

**فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر**

عبدالبصير، لقمان حكيم

من محاسن الدين الإسلامي: اللغة البشتو . / لقمان حكيم عبدالبصير. - الرياض، ١٤٤١هـ

١٢٤ ص، ١٤ سم x ٢١ سم

ردمك : ٤-٤٤-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨

١- الإسلام ٢- الإسلام والمجتمع أ. العنوان

**ديوي ٢١٠ ١٤٤١/١٥٥٨**

**رقم الايداع: ١٤٤١/١٥٥٨**


**ردمك : ٤-٤٤-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨**

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.


+966 504 442 532
+966 11 445 4900
+966 11 497 0126
P.O.BOX 29465 Riyadh 11457
osoul@rabwah.com
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# لړلیک

| | |
|---|---|
| د ژباړن پېلیزه | ۹ |
| د لیکوال سریزه | ۱۳ |
| د اسلامي دین ښېګڼو یادونه | ۱۵ |
| دویم فصل | ۲۱ |
| دریم فصل | ۳۱ |
| څلورم فصل | ٤۵ |
| پنځم فصل | ۵۵ |
| شپږم فصل | ۵۹ |
| اوم فصل | ٦۳ |
| اتم فصل | ۷۱ |
| نهم فصل | ۷۷ |
| لسم فصل | ۸۳ |
| یولسم فصل | ۹۱ |
| دولسم فصل | ۹۷ |
| دیارلسم فصل | ۱۰۳ |
| په پای کې درته د یو عالم دین لنډه خبره | ۱۱۱ |
| د لیکوال د ژوند سوانح | ۱۱۳ |



# د ژباړن پېلیزه

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ رَضِيَ الاِسْلاَمَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ دِيْناً، ونَصَبَ الأَدِلَّةَ عَلَى صِحَّتِهِ وَ بَيَّنَهَا تَبْيِيْناً، وَجَعَلَ دِيْنَ يُسْرٍ وَ سَمَاحَةٍ فَقَال: ﴿هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖ﴾، وَأَشْهَدُ أَنَّ لاَ اِلَهَ اِلاَّ الله وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ الَّذِيْ قِيْلَ عَنْهُ: (مَا خُيِّرَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلَّا اخْتَارَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ مَأْثَمًا)، صَلَّى الله عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَمَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِهِ اِلَى يَوْمِ الدِّيْنِ، وَبَعْدُ:

هغه اسلامي منهج او الهي دين چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رب العلمین له پلوه د تام بشریت د سعادت په منظور فاني دنیاګۍ ته راوړی دی، واقعا چې د صلاح او سهولت حقیقي دین دی، د رحمت او بښګړې دین دی، د انسانیت په جامه کې د انسانانو دین او د ابدي سعادت ځانګړې لاره ده.

همدغه اسلامي دین دی چې الله رب العلمین پرې مونږ ټولو انسانانو ته د خپل ډېر رحم او مهربانۍ له مخې د تمسک او په دنیاوي چارو کې د تطبیق امر او د تنفیذ حکم کړی دی.

په دغه هکله الله رب العلمین فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾ [سورت ال عمران: ١٠٢]

ژباړه: ای مومنانو! د الله پاک څخه په حقه توګه وډار شئ او تاسو د اسلامي دين پرته به بل هېڅ دين مه مرئ.

او همدغه دين دی چې وربانديې ابراهيم عليه السلام ټولو بچو ته د پيروۍ امر کړی دی، الله رب العلمين له هغه څخه حكايةً فرمايي:

﴿رَبَّنَا وَٱجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةٗ مُّسۡلِمَةٗ لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ﴾ [سورت بقره: ١٢٨]

**ژباړه**: ای زمونږ ربه مونږ ستا لپاره تل تابعداره وګرځوه او ځمونږ له اولادې څخه هم یوه ډله همېشه تابعداران او منونکي وګرځوه، مونږ ته مو مناسک راوښایه او توبه راباندې اوباسه ته توبه قبلونکی او نهایت زیات مهربان یې.

نو د اسلامي شریعت احکام ګران او سترې کونکي نه دي بلکې اسان او د هر چا زیر توان دي، الله رب العلمین د دیني اسانتیاو په هکله فرمایي:

﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ﴾ [سورت بقره: ١٨٥]

**ژباړه**: الله پاک پر تاسو د اسلامی دین منلو کې اسانتیاوې غواړي او درباندې سترې او تکلیف نه غواړي.

او دا حقیقت دی چې د اسلامي شریعت احکام د دنیا په چارو کې تنفیذول اسان کار دی ځکه چې الله پاک د اسلامي دین په منلو کې د ټولو انسانانو د احوالو مراعات او خیال ساتلی دی، ټول واجب شوي احکام یې د هغوی لپاره رحمت ګرځولی دی.

په روژه کې یې د مسافر په هکله د افطار حکم راستولی دی، څلور رکعتیز لمونځ یې ترې په دوه رکعتیز لمونځ د مکمل اجر او ثواب څخه ډک ګرځولی دی.

ناجوړه اړوند یې د قران کریم په نصوصو کې ګڼ شمېر سهولتونه او اسانتیاوې په نښه کړې دي، ناجوړه یې د خپل توان په اندازه د لمونځ په ادا مکلف کړی دی.

له دې کبله خو یې په ټولو انسانانو باندې په اسلامي دین کې غلو حرام او ناروا بللې ده ترڅو دغه زیاتی کول د اسلامي دین د سماحت سره منافات ونه لري.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغسې غلو کونکو او د شاق کارونو انجامولو اړوند فرمایي: «**هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ قَالَهَا ثَلَاثًا**». [صحیح مسلم: ٢٦٧٠]

**ژباړه**: درې ځل یې وویل: په دین کې تشدد او سختي کونکي تباه او برباد شول.

خو دومره ده چې د اسلامي شریعت د سهولت معنا دا نه ده چې د هغه واجبات دې پرېښودل شي او یا دې د هغه په چارګاه او ممنوعه علاقه باندې تېرې وشي، بلکې هغه شخص چې په دغسې بې معنا او لا بنیاده خبره باندې د جرم ارتکاب وکړي هغه ته اسلامي شریعت سنګینه سزا اوروي ترڅو دغه ډول خلک بېرته د اسلامي شریعت په احکامو ملزم وګرځي.

نو دا کتاب چې شيخ عبدالعزيز بن محمد السلمان د دين په ښېګڼو او ګڼ شمېر ګټو باندې ليکلی دی، د ډېر قدر او احترام وړ ليکنه ده زه هم په دې خوښ شوم چې د خپلو پښتنو ورونو د سعادت او هدايت په خاطر يې له عربۍ څخه پښتو ته د ژباړلو زيار د ثواب او اجر په نيت په غاړه واخلم ترڅو له دې نعمت څخه بې برخې ورونه د برخې خاوندان شي.

په کتاب کې مې د هر ذکر شوي ايت سورت او ايت شمېر ذکر کړی دی، او هر نبوی حديث مې هم الحمدلله خپل مصدر ته منسوب او د حديث شمېر مې هم ذکر کړی دی.

الله رب کائنات دې زما دا عمل د قيامت په ورځ د حسناتو په تله کې حساب کړي او الله دې پرې تمامو لوستونکو او د دين مينوالو ته په خير او سعادت او ګټه تمام کړي.

د کتاب د نشر او اشاعت په برخه کې چې کومو ورونو معنوي او مادي زيار په غاړه اخستی دی رب دې ورله د قبر او دوزخ له عذاب څخه د نجات ستر لامل وګرځوي او الله دې د دوی سعي قبوله کړي.

امين ثم امين يا رب العلمين

**لقمان حکيم حکمت**



# د لیکوال سریزه


الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ تَفَرَّدَ بِالجَلاَلِ، وَالعَظَمَةِ وَالْعِزَّةِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالجَمَالِ، وَأَشْكُرُهُ شُكْرَ عَبْدٍ مُعْتَرِفٍ بِالتَّقْصِيْرِ عَنْ شُكْرِ بَعْضِ مَا أُولِيْهِ مِنَ الاِنْعَامِ وَالاِفْضَالِ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ اِلَهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَشَرِيْكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ تَسْلِيْماً كَثِيْراً، وَبَعْدُ:

ما پخپل کتاب **(موارد الضمآن لدروس الزمان)** په ځنګ کې د اسلامي دين ځينې ښيګڼې او ګټې ذکر کړې وې، ځينو نېکانو ملګرو پسنده بوله چې ياد **محاسن** په ځانګړي توګه راغونډ شي، چاپ او بيا پر مسلمانانو باندې توزيع شي، شايد د دغه کتاب د چاپ په برکت هغه خلک چې الله پاک يې د هدايت او سمې لارې ته د ارشاد اراده کړې وي پرې هدايت ومومي.

له الله پاک څخه سوال کوو چې زمونږ دغه عمل يواځې د هغه د رضا په خاطر وګرځوي او ترځنګ يې چاپ کونکي، خپرونکي، لوستونکي او اورېدونکي ته اجر او ثواب ورکړي.

الله ښه اورېدونکی، نږدې او دعا قبلونکی دی.

اللّٰهُمَّ صل على محمد وآله وسلم



# د اسلامي دين ښېګڼو یادونه

ای د الله بندګانو! الله پاک فرمايي او هغه تر هر چا رښتیا ګوه دی:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا﴾ [سورت مائده: ۳]

**ژباړه**: همدا نن ورځ مې ستاسو لپاره ستاسو دين بشپړ کړ، خپله لورينه مې درباندې پوره کړه او په اسلام باندې ستاسو لپاره په ديني بڼه راضي يم.

دين يې د خپلې مرستې له مخې بشپړ او پر ګردو اديانو يې پورته کړ، د خپل بنده او استازي کومک يې وکړ او د شرک پېروکار يې په لويه کچه رسوا کړل، وروسته له دې چې مومنان بندګان يې له دين څخه رابندول او طمع توقع يې لرله چې بېرته به کفر ته وګرځي، خو چې کله يې د اسلام پياوړتيا او پر نورو اديانو برېمن وليد نو له د مسلمانانو له ارتداد څخه په پوره توګه نا امېده شول، برسېره پر دې به يې ترې خوف او ترس درلود، رب پروردګار په خپلو بندګانو باندې د هدايت او توفيق، د عزت او تاييد لورينه پوره کړه او زمونږ لپاره په اسلام باندې د دين په توګه راضي شو او د نورو اديانو ترمنځ يې زمونږ لپاره اسلام غوره کړ، د الله په وړاندې قابل قبول دين ايکې يواځې اسلام دی او بس، الله پاک فرمايي:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾

[سورت ال عمران: ۸۵]

**ژباړه**: که څوک له اسلام پرته د بل دين پلټنه وکړي نو هېڅکله به ورڅخه قبول نه شي او په اخرت کې به له زيانمنو څخه وي.

ای د الله بندګانو! غير مسلم هوښيارانو او د سليم عقل څښتنانو د اسلامي دين پر احکامو غور وکړ نو غاړه يې ورته کېښوده، د اسلام په حکمتونو کې يې سوچ وکړ نو مينه يې ورسره پېدا شوه، د اسلام حکيمانه قانون او ضوابطو يې زړونه خپل کړ نو تعظيم يې ورله وکړ، ترڅو چې څوک روغ عقل، روښانه بصيرت او د مستقيم

فکر ښنتن وي له اسلام سره يې د ښايسته محاسنو له کبله او له سترو فضيلتونو له کبله اړيکه ټينګه وي، اسلامي دين د توحيد داسې عقيده راوړې ده چې هم يې سليم عقل ايجابوي او هم پرې روغ طبيعت اقرار کوي، خلک دې ته دعوت کوي چې نړۍ يو برحق معبود لري او هېڅ برخه دار ورسره نشته، دغه معبود برحق داسې لومړی ذات دی چې لومړی دی اول نه لري او اخر دی فناء نه لري:

﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾ [سورت شورى: ١١]

**ژباړه**: د الله د ذات په څېر هېڅ شی نشته او همدغه الله پاک اورېدونکی او ليدونکی دی.

الله پاک مطلقه اراده او پوره قدرت لري هغه محيط (ګېره اچونکی) علم لري، په مخلوق باندې واجب دي چې سرونه ورته ټيټ کړي او سرغړونه يې ونه کړي، د الله د اوامرو په منلو او له نواهيو څخه يې په ځان ژغورلو د هغه د رضا سره سم اعمال ترسره کول د انسان واجب دي، د مخلوق په نفسونو او د دنيا په کنارو کې يې براهين او دلايل قايم کړي دي، پر استدلال او غور سوچ يې عقلونه هڅولي دي ترڅو د الله پېژندګلو او عظمت ته د دليل پر بنسټ ورسيږي او په سمه توګه يې حقوق ادا کړي، کله الله پاک ستا پام دې ته راړوي چې ناشونې ده ته خپل ځان دنيا کې شته کړې او نه له کوم موجد پرته شته کېدی شې، هغه فرمايي:

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ﴾ [سورت طور: ٣٥]

**ژباړه**: ايا دوی له کوم پيدا کونکي پرته پيدا شوي دي او که نه دوی پخپله د ځانونو پيدا کونکي دي.

اما دا دعوه چې مخلوق ځان په خپله پيدا کړی دی داسې دعوه ده چې هېڅ چا يې دعوه نه ده کړې، او له پيدا کونکي بغېر د انسان شته کېدل داسې دعوه ده چې فطرت يې ابتداءً نه مني، هېڅ ډول لړ يا ډېر جنګ جدل ته په کې اړتيا نشته.

کله چې دواړه فرضونه باطل دي نو له هغه حقيقت پرته نور څه پاتې نه شول چې قران کريم پرې غږېدلی دی، هغه دا چې هغه رب پروردګار چې ايکې يواځې دی، بې نيازه دی، نه له چا پيدا او نه ورڅخه څوک پيدا دی، نه يې څوک هم صفت او هم نامی نشته، هغه دا مخلوق پيدا کړی دی او بس.

او کله قران زمونږ نګاهونه اسمانونو او ځمکې ته اړوي چې ایا دا مخلوق پېدا کړي دي ځکه چې خپله خو یې ځان نه دی پېدا کړی لکه څنګه چې انسانانو خپل ځانونه نه دي پیدا کړي.

کله قران کریم زمونږ تر نظر وړاندې د اسمان پانه بېرته کړي چې پر ساحه یې وړانګین لمر، روښانه سپوږمۍ او ځلانده ستوري شته دي، الله پاک فرمايي:

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا ﴾ [سورت فرقان: ٦١]

**ژباړه:** برکت والا دی هغه ذات چې پېدا کړي دي په طرف د اسمانونو کې د ستورو منزلونه او پیدا کړی یې دی په هغې کې وړانګین لمر او ځلانده سپوږمۍ.

بیا په بل ایت کې فرمايي:

﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ﴾ [سورت يونس: ٥]

**ژباړه:** الله هغه ذات دی چې لمر یې وړانګین ګرځولی دی او سپوږمۍ یې د تتې رڼا والا ګرځولې ده او د هر یو لپاره یې منزلونه ټاکلي دي، په دې خاطر چې تاسو پرې د کلونو حساب معلوم کړئ.

او فرمايي:

﴿ فَالِقُ ٱلْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيْلَ سَكَنًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ حُسْبَانًا ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴾

[سورت انعام: ٩٦]

**ژباړه:** الله د سبا (صباح) څیرونکی دی او شپه یې د ارام لپاره پیدا کړې ده، لمر او سپوږمۍ یې د حساب لپاره پېدا کړي دي، دا د زورور ذات اندازه ده چې په هر څه باندې پوهیږي.

او فرمايي:

﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴾ [سورت ق: ٦]

**ژباړه:** ایا دوی اسمان ته نه ګوري چې د دوی له بره مو څنګه جوړ کړی دی؟ او هیڅ ډول چاودونه نه لري.

او فرمايي:

﴿ أَوَلَمۡ يَنظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ ﴾ [سورت اعراف: ۱۸۵]

**ژباړه**: ايا د وی نه ګوري په بادشاهۍ د اسمانونو او ځمکو کې او نورو هر هغه شيان چې الله پاک پېدا کړي دي.

او فرمايي:

﴿ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ۝٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ﴾ [سورت ملک: ۳- ٤]

**ژباړه**: الله پاک هغه ذات دی چې اووه اسمانونه يې لاندې باندې پېدا کړي دي او ته به د رحمن ذات په پېدا کولو کې هېڅ راز نقصان ونه وينې * سترګې دې اخوا دېخوا واړوه نو ايا څه چاودونه به ووينې؟ بيا ورته بار بار سترګې وګرځوه همدغه سترګې به تا ته عاجزې راستنې شي او ستړې به وي.

او کله قران کريم زمونږ نظرونه ځمکې او پر ځمکې بېلابېلو ولاړو ونو بوټو ته واړوي، الله پاک فرمايي:

﴿ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴾ [سورت رعد: ٤]

**ژباړه**: او په ځمکه کې له يو بل سره په ګاونډ کې ټوکړې دي او د انګورو او فصلونو او کجورو باغونه دي چې (صنوان) له بيخ څخه يې ډېرې ښانګې راوتې دي او (غير صنوان) چې له بېخ نه يوه تنه وي، په يو ډول اوبو باندې خړوبيږي، خو په خوند او خوراک کې بيا مونږ ځينو ته په نورو ځينو بهتري ورکو.

د ځمکې په يوه ټکړه به ته ووينې چې انګور او مړغونې به سره راټوکېدلي وي، پر يو ډول اوبو به خړوبيږي، هر بوټي يې په ځمکه کې جرړې لري او له ځمکې څخه د ځان مناسب غذا روي چې ياد بوټي پرې ژوندی وي، خو د مېوې په مهال بيا هر بوټی خپله خپله مېوه ورکوي چې له بلې څخه په خوند او مزه کې، په رنګ او بوی کې جلا وي.

همداراز نورې ونې بوټي چې د ځمکې پر يوې برخې ولاړې وي، خاوره يې يوه، اوبه يې يوې، ايا دا ډول خلقت د يو حکيم او قادر او مقتدر ذات په شتون دلالت نه کوي؟ (**إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً**) په ډېر يقين سره چې په دې کې د الله د توحيد نښې نښاني دي.

او کله قران زمونږ نظرونه هغه اوبو ته اړوي چې له اسمان څخه راښکته کيږي او ژوند پرې ولاړ دی، که د الله خوښه وه نو تروې تروشې به يې ګرځولې وی، بيا به په کې هيڅ ګټه نه وه.

کله الله پاک په قران کريم کې زمونږ توجه دې ته واړوي چې له هغه سره د نړۍ په تدبير او واک کې هيڅ څوک برخه دار نشته، الله فرمايي:

﴿مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍ﴾ [سورت مؤمنون: ۹۱]

**ژباړه:** الله پاک هيڅ څوک په زوی ولی نه دي نيولي او نه له هغه سره بل څوک معبود شته.

په بل ايت کې په خورا څرګند ډول او سترې معنا سره وايي:

﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا﴾ [سورت انبياء: ۲۲]

**ژباړه:** که په ځمکه يا اسمان کې له الله پرته بل برحق معبود وی نو خامخا د اسمان او ځمکې انتظام او تدبير له منځه تللی وی.

داسې نور ډېری ايتونه چې په دې معنا غږېدلي دي.

د احسان له مخې الله د خپلو بندګانو لپاره د داسې عبادتونو تجويز ورکړی چې نفسونه پاک صفا کوي، اړيکې پياوړې او ترتيبوي، زړونه راټولوي او تزکيه يې کوي، د اسلام عبادتونه د مخکنو ټولو انبياء کرامو له دعوتونو سره سمون خوري، الله پاک فرمايي:

﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِۦٓ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓ ۖ أَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا۟ فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى ٱلْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ ٱللَّهُ يَجْتَبِىٓ إِلَيْهِ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِىٓ إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ﴾ [سورت شوری: ۱۳]

**ژباړه:** له دين څخه الله پاک ستاسو لپاره هغه څه مقرر کړي دي چې وړاندې يې پرې نوح عليه السلام ته حکم کړی و، او هغه چې مونږ يې ابراهيم او موسی او عيسی عليهم السلام ته پرې پوخ حکم کړی و چې په دې دين باندې کلک او مضبوط شئ، او ورپکې ډلې ټپلې مه جوړئ، څکه چې په مشرکانو د هغې احکامو منل ډېر ګران تماميږي چې تاسو يې ورته دعوت کوئ، الله پاک غوره کوی د دين لپاره هغه څوک چې يې خوښه شي، او د دين منلو لپاره چې څوک د الله خوښ شي نو هدايت ورته کوي.

ای الله د ايمان په نور مو زړونه روښانه کړه، د شيطان او زمونږ د نفسونو له شر څخه راته پناه راکړه، ستا د فرمانبرداری توفيق او ستا د امر څخه د سرغړونې نه مو وژغوره، مونږ ته، زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته په خپل ځانګړي رحم بخشش او درګزر وکړه ای ارحم الراحمين ذاته، ای الله په محمد صلی الله عليه وسلم او دهغه په ټولې کورنۍ او ملګرو يې رحم وکړه.

# دويم فصل

ځېنو انصافدارو شنونکو په دې اعتراف کړی دی چې هر ګټور علم ديني او که دنيوي او که سياسي وي خو اسلامي دين پرې له کوم شک او شبهې پرته ښکاره دلالت کوي، په اسلام کې داسې څه نشته چې عقل يې نه مني، بلکې په اسلام کې داسې څه دي چې سليم عقل يې په صدق او ګټې او صلاح ګواهي ورکوي، اوامر يې د عدل او انصاف څخه ډک دي، هېڅ راز تېری او ظلم په کې شتون نه لري، په څه شي چې يې امر کړي دی نو سوچه خير دی او چې له څه يې منعه فرمايلې ده سوچه شر دی او يا يې شر او فساد په خير او ګټې درووند دی، چې کله هم هوښيار او عاقل انسان د اسلام په احکامو کې له سوچ او غور نه کار واخلي د هغه ايمان او اخلاص د مخکې په پرتله زيات او ټينګ شي، او که همدغه هوښيار په هغه څه کې له غور نه کار واخلي چې اسلام ورته بلنه ورکوي ورته به په ډاګه شي چې اسلام غوره اخلاقو ته دعوت ورکوي، رښتيا، عدل، پاک دامنۍ، ښو اخلاقو او نېکې روېې، په وعدو وفاء کول، دامانت سپارتل، له يتيم او مسکين سره ښه چلند کول، ميلمه او ګاونډي پالل او په ښو اخلاقو ځان سمبالولو ته دعوت ورکوي.

له دنيا څخه په خپلې معياري اندازه دنيوي خوند څښل او په تقوا او محاسنو ځان سمبالولو ته بلنه ورکوي، له بدې روېې او فاحشه کارونو، ګناه او تېري څخه منعه کوي، په هغه څه امر کوي چې ورېکې د مخلوق سعادت نغښتل شوی وي او له ټولو هغه څه منعه کوي چې ورېکې د بشريت لپاره ګردې بدبختياني او زيانونه وي.

د اسلامي شريعت په لويو لويو محاسنو کې سوچ وکړه لکه لمونځ قائمول، زکات ورکول، د رمضان روژه نېول، حج کول.

که ته په لمونځ کې له غور نه کار واخلې نو به وېتيلې چې لمونځ يواځې د الله پاک او بنده ترمنځ غښتلې اړيکه ده نو ورېکې به د الله پاک لپاره زيات مخلص شې،

هغه ته مخامخ ودرېدل، د هغه په وړاندې د ادب او احترام خيال ساتل، په الله پاک باندې ثنا ويل او ورڅخه د اړتياو غوښتل، پايله دا شي چې د بادار تعظيم او برايي او له شريک څخه د هغه پاکوالی په سمه توګه ادا شي او الله پاک راضي شي.

چې کله هم انسان د خپل رب مخې ته ودرېږي او په دې اعتراف شروع وکړي چې الله پاک له هر شي څخه لويي دی، هغه د دې حقدار دی چې لويي او براېي يې بيان شي، (الله اکبر) بيا دغه انسان په الله پاک باندې دومره ثنا د عاجزۍ په هغه کيفيت ووايي چې څومره له الله سره مناسب دي او ورسره ښايي، بنده خپل عبادت د الله لپاره خاص کړي او ورڅخه په خپلو ټولو کړو وړو کې کومک او مرسته وغواړي، په ډېر عاجزانه انداز د الله پاک څخه د سمې صحيح لارې غوښتنه کوي، د هغو خلقو لاره ترې غواړي چې الله پاک ورباندې د توفيق او هدايت لورينه کړې وي، او د هغو خلکو له لارې ورڅخه پناه غواړي چې الله پرې خپل غضب کړی و، وروسته له دې چې له سمې صحيح لارې څخه يې کجروي غوره کړه سره له دې چې روغه لاره ورته تر هرڅه ښکاره او روښانه معلومه وه.

ترڅنګ يې د هغو خلکو له لارې او انجام څخه پناه غواړي چې ګمراهان ول، د خپلو خواهشاتو او د شيطان په عبادت بوخت ول.

دغه مهال نو بيا نفس د الله پاک د عظمت او هيبت څخه ډک شي، سمدستي الله پاک ته د بدن په قدر وړ غړي سجده او خضوع وکړي.

خپل ذلت او بې چارګي د هغه چا پر وړاندې ښکاره کوي چې د اسمانونو او ځمکو کونجياني يې په لاس کې دي، له ديني ناحيې نه د لمونځ له خوندونو څخه دا هم ده چې وريکې د الله پاک په عظمت او کبريا اعتراف کول دي، لکه څنګه چې لمونځ کول په خپله عاجزي هم ده.

چې زړه کله هم په دغه معنا پوهه شي او نفس د الله پاک څخه له ويرې او هيبت نه ډک شي نو فورا له محرماتو او ناروا څخه رابند شي.

او دا بيخي د تعجب خبره ځکه نه ده چې الله پاک د لمونځ اړوند فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ﴾ [سورت عنكبوت: ٤٥]

**ژباړه:** يقينا چې لمونځ له ښکاره بدۍ او ناروا وو څخه منع کوي.

همدا راز لمونځ له انسان سره په ديني او دنيوي کارونو کې فعال مرستندوی دی، الله پاک فرمايي:

﴿وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِ﴾ [سورت بقره: ٤٥]

**ژباړه:** په صبر او لمونځ کولو مرسته حاصله کړئ.

په ديني امورو کې د لمونځ ښېګړه دا ده چې کله هم سړی لمونځ وکړي او ځانګړی خيال يې وساتي، نو د هر نېک کار لپاره يې رغبت لا پسې غښتلی شي، هر ډول اطاعت ورته اسان شي، د نورو خلکو سره ښه رويه اختياروي، هر وخت د خپل ځان سره محاسبه کوي او ورته په غټه پيمانه نفسي اطمئنان حاصل وي او د ثواب او اجر امېدوار وي.

او په دنيوي کړو وړو کې د لمونځ مرسته دا ده چې انسان ته هر سخت کار اسان وي، او په هر مصيبت او سختۍ کې تسلي ببښي او څوک چې ښه عمل وکړي الله پاک يې اجر نه ضايع کوي، الله پاک بيا دغه انسان ته داسې بدله ورکوي چې ورته تمام او شاق کارونه اسانه وي او ترڅنګ يې په مال او دولت کې برکت و زيادت اچوي.

په جماعت سره لمونځ کولو باندې صله رحمي او منځنی تعارف حاصليږي، مينه او محبت او پر يو بل ترحم زړوي، همدغه لمونځ دی چې د هر کشر او مشر ترمنځ عزت او محبت شته کوي، يواځې دا نه بلکې په جماعت سره لمونځ ادا کول د لمونځ کولو صحيح زده کړه او عملي تعليم هم دی.

زکات ته ځير شه چې الله پاک پر خپلو بندګانو واجب کړی دی، ګڼ شمېر ښېګړې او بلا ډېرې ګټې لري چې له جملې څخه يې يوه ګټه دا ده چې د خوار او فقير طبقه خلکو ژوند او د هغوی ژوند مربوطه اړيکي برابرول دي، په زکات د اړينو اړتياوې او د پور وړې پور له منځه ځي.

د زکات بله ښېګړه دا ده چې انسان د باوقاره خلکو په اخلاقو زيور کوي، ورکړه او سخا په کې پيدا کوي، د ناکاره او بوزديله بخيل خلکو له اخلاقو اوعادتونو څخه

يې لرې کوي، په لږه صدقه او خيرات باندې د انسان زړه د دنيا له محبت څخه کنګالوي، په زکات سره مال او شتمني له پراړ دوکو او حسي او معنوی مکدراتو نه پاکيږي، په زکات سره د الله پاک په لاره کې جهادونه او نور ټول د ژوند په رابطه د خير ښېګړې کارونه تر سره کيدی شي چې پر مسلمان يې ترسره کول تر هرڅه اړين دي، په زکات سره د فقيرانو فقر او فاقت له منځه ځي، زکات د ټولنې دارو درمل دي، د زړونو يخوالی او پاکوالی دی او په زکات سره انسان د بخل او شح له رنځ څخه نجات مومي، الله پاک فرمايي:

﴿وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾ [سورت حشر: ٩]

**ژباړه**: له شديد بخل نه چې څوک ځان بچ وساتي نو دغه خلک کامياب او بريالي دي.

د زکات بله ګټه دا ده چې که بډايان يې په صحيح معنا اوباسي نو د شدت پسند اشتراکي نظام اقتصادي بنې ريښي به وشکيږي، فضول خرڅه شيوعيت به له منځه ولاړ شي او که په سمه توګه ادا شي نو د ټولواکانو ته به ايله بېله سکون وړيه برخه شي او د ټولو زيار به هغه اړخ ته متوجه شي چې رعيت او ټولنې ته به خير او ګټه او پرسکون پراخه زندګي وړيه برخه شي.

**شعر:**

**يَـا فَاطِـرَ الْخَلْـقِ الْبَدِيـعِ وَكَافِـلاً *** أَرْزَاقَ مَـنْ هُـوَ صَامِـتٌ أَوْ سَـائِلُ**

اى د مخلوق نااشنا پيدا کونکی او هغه چا ته رزق ورکونکی چې خاموش او يا د رزق غوښتونکي دي.

**أَوْسَـعْتَهُمْ جُـوْداً فَيَـا مَـنْ عِنْـدَهُ *** رِزْقُ الْجَمِيْعِ سَـحَابُ جُوْدِكَ هَاطِلُ**

تا ورته خپله سخا پراخه کړې ده، اى الله له تاسره د ټولو رزق دی او ستا د سخا وريځ تل څڅېدونکي ده.

**يَا مُسْـبِغَ الْبَرِّ الْجَزِيلِ وَمُسْبِلَ الْعَفْوِ *** العَظِيْـمِ عَظِيْـمُ فَضْلِـكَ وَابِـلُ**

اى د سترې نېکۍ او لويې عفوې راښکته کونکيه، ستا غټې لورينې هر وخت مخ په ښکته رارواني دي.

**يَا صَاحِبَ الِاحسَانِ يَا مُرْخٍ لَنَا السِّتْرَ *** الجَمِيْـلَ عَمِيـمُ طُوْلِـک طَائِـلُ**

ای د غټې لورینې څښتنه او ښايسته پردې اچونکی! ستا عامې لورينې بیخي ډېرې دي.

**يَـا عَالِمَ الـسِّرِّ الْخَـفِيِّ وَمُنْجِـزَ الْـ *** ـمِيْعَادِ صِدْقٍ قَـدْ حَـكَاهُ الفَاصِلُ**

ای په پټو رازونو خبره ذاته او رښتنې وعدې پوره کونکی ربه ستا پرېکړه غزوه بدر رانقل کړې ده.

**يَامَنْ عَلَى الْعَرْشِ اسْـتَوَى يَا صَادِقَ الـ *** ـوَعْدِ الوَفِيِّ قَضَـاءُ عَدْلِـک عَادِلُ**

ای پر عرش مســـتوي ذاته او په خپلو وعدو کې رښـــتينه وفاداره! ســـتا کړدې پرېکړې عادلانه دي.

**عَظُمَـتْ صِفَاتُكَ يَا عَظِيـمُ فَجَلَّ أَنَّ *** يَـأْتِيْ المُشَـبِّهُ ظَالِمـاً وَيُشَـاكِلُ**

ای عظیم ذاته ستا ټول صفتونه لوی دي، ډېره د غټې ګناه خبره ده چې مشبّه ظالم دې له مخلوق سره تشبيه ورکوي.

**جَلَّـتْ فَضَائُلُـک الْعِظَامُ فَلُـمْ نَجِدْ *** يُحْـصَى الثَّنـاءُ عَلَيْـک فِيهَـا قَائِلُ**

ســـترې لورينې دې تر هر څه لوې دي، تر دا مهال مو داسې هېڅ څوک ونه موند چې درباندې لائقه او پوره ثناء ووايې.

**الذَّنْـبُ أَنْـتَ لَهُ بِمَنِّـكَ غَافِـرٌ *** مَا لَمْ يَكُـنْ شِرْكاً فَفَضُلُک حَاصِلُ**

تـــه د خپلې لورينې له مخې ګناه بخشـــش کوې ترڅو ګناه شرک نه وي او ســـتا لورينې تر هر چا حاصلې دي.

**يَعْصِيـک جَـمٌ ثُـمَّ تَصْفَـحُ عَنْهُمُ *** وَلِتُوبَـةِ العَـاصِيْ بِحِلْمِـک قَائِـلُ**

ډېری خلک دې سرغړوني وکړي او ته بيا هم درګزر کوې! او د توبې پر قبولولو ګناهګار انسان ستا په صبر او حلم اعتراف کوي.

**رَبٌّ يُـرَبِّي الْـعَـالَـمِينَ بِـبِرِّهِ *** وَنَـوَالُهُ أَبَـدًا إِلَيْهِـمْ وَاصِـلُ**

ته داسې پالونکی يې چې ګرد مخلوقات د خپل احسان له مخې پالې، او لا ورته خپل فضل مزيد هم ورکوې.

تَعْصِيهِ وَهُوَ يَسُوقُ نَحْوَكَ دَائِمًا *** نِعَماً وَعَنْ شُكْرٍ لَّهَا أَنْتَ غافِلُ
ته (انسان) يې له حكمونو سرغړونه کوې او هغه ستا پلو ته د تل لپاره خپل نعمتونه رالېږي چې ته يې له شكر څخه ناخبره يې.

سَتَرَ الذُّنُوبَ وَزَادَ فِيْ بَذْلِ العَطَا *** مَا لا تَكُونُ لِبَعْضِهِ تَسْتَاهِلُ
په ګناهونه يې پرده اچولې ده او په وركړه كې بلا ډېر زيادت کوي چې ته د دغې زيادت وړ هم نه يې.

مُتَفَضِّلٌ أَبَدًا وَأَنْتَ لِجُودِهِ *** تَنْسَى وَتَغْفَلُ هَلْ تَعِي يَا غَافِلُ
د تل لپاره هغه پر تا لورينه کوي او ته د هغه لورينه بيا هم هېره وې، اى غافله انسانه لا هم نه پوهېږې.

يَدْنُو وَتَبْعَدُ ثُمَّ أَنْتَ لِفَضْلِهِ *** بِقَبَائِحِ العِصْيَانِ مِنْك تُقَابِلُ
هغه درته نزدې کېږي او ته ورځخه لرې کېږې او د لورينې بدله لا هم په بدترينو ګناهونو وركوې.

وَإِذَا دَجَى لَيْلُ الْخُطُوبِ وَأَظْلَمَتْ *** طُرُقُ الْسَّلاَمَةِ بَلْ قَلاَكَ النَّازِلُ
او چې كله د مصيبتونو ډكه تورتمه شپه راشي او د خلاصون لارې وركې او وتړل شي او ستونزې دې وډاروي...

وَعَلِمْتَ أَنْ لاَ مَنْجَى ثُمَّ تَلاَحَمَتْ *** سُبُلُ الْخَلاصِ وَخَابَ فِيهَا الآمِلُ
او په دې هم وپوهېږه چې د نجات ځاى هم نشته او د خلاصون لارې هم غوښې غوښې شوي دي او امېدوار هم په كې ذليله او خوار دى.

وَآيَسَتْ مِنْ وَجْهِ النَّجَاةِ فَمَا لَهَا *** طُرُقٌ وَقَدْ عَظُمَ البِلاَ المُتَنَازِلُ
او بيا چې لا د خلاصون له لارو نا امېده هم شې او د نجات كوم سبب هم نه وي او راغلى مصيبت مخ په غټېدو شي.

وَقَنَطْتَ مِنْ ضُعْفِ اليَقِيْنِ وَلَمْ يَكُنْ *** سَبَبٌ وَلا يَدْنُو لَهَا مُتَنَاوَلُ
د كمزورې يقين له مخې لا پسې نا امېده شې، نه د خلاصون كوم سبب پاتې وي او نه ورته څوک نزدې كېدى شي.

يَأْتِيك مِنْ أَلْطَافِهِ الْفَرَجُ الَّذِي *** لَمْ تَحْتَسِبْهُ وَأَنْتَ عَنْهُ غَافِلُ

نابېره درته د الله پاک له بارګبينۍ له مخې حل (وسعت) راشي چې هم په کې ستا نجات وي او هم ورځخه ځوک په بل څه بوخت کېداى شي.

**فِيْ لَحْظَةٍ يَأْتِيْکَ لُطْفٌ فَارِجٌ *** لَمْ تَحْتَسِبْهُ وَأَنْتَ عَنْهُ غَافِلُ**

درته به په يوه لحظه کې له داسې ځاى څخه کولاووالى راشي چې بيخي به پرې ستا ګومان نه وي او ته به ترې ناخبره يې.

**يَا مُوجِدُ الأَشْيَاءِ مِنَ أَلْقَى إِلَى *** أَحَدٍ سِوَاکَ فَإِنَّ ذَلِکَ بَاقِلُ**

اى د ګردو شيانو شته کوونکى ربه! چې له تا پرته ځوک ځان بل چا ته وسپاري نو هغه ډېر کم عقل دى.

**يَا طَيِّبَ الأَسْمَاءِ مَنْ يَقْصِدْ اِلَى *** أَبْوَابِ غَيْرِكَ فَهُوَ غِرٌّ جَاهِلُ**

اى د پاکو نومونو والا ربه! چې ځوک ستا له دروازې پرته د بل چا پر دروازه خپل مرادونه غواړي نو ښکاره جاهل دى.

**وَمَنِ اسْتَرَاحَ بِغَيْرِ ذِكْرِكَ أَوْ رَجَا *** مِنْ غَيْرِكُمْ فَضْلاً فَذَاکَ المَائِلُ**

او چې ستا له ذکر پرته ځوک بل څه کې راحت او سکون غواړي او يا له بل چا نه عزت غواړي نو دغه انسان ميلان کوونکى دى.

**وَمَنِ اسْتَظَلَّ بِغِيْرِ ظِلِّکَ راجِياً *** أَحَدًا سِوَاكَ فَذَاكَ ظِلٌّ زَائِلُ**

او که ځوک دې له سيورې څخه د بل چا په سيورې کې ځان سيورى کول غواړي نو دغه له منځه تلونکى سيورى دى.

**وَمَنِ اسْتَعاذَ اِذَا عَرَتْهُ مُلِمَّةٌ *** بِجَلاَلِكُمْ ذَا الرَأْيُ رَأْيٌ بَاسِلُ**

چې کله پر چا ستونزه راشي او ستا په دربار کې پر تا پناه ونيسي نو دا رايه ډېره دروسته او صحيح رايه ده.

**وَالرَّأْيُ فِيْ عَكْسِ الَّذِيْ حَبَّرْتَهُ *** بِسِوَى جَنَابِکَ فَهُوَ رَأْيٌ مَائِلُ**

تا د ښايسته کړې دين په مقابل کې هغه رايه چې ستا له اړخه نه وي نو کږه رايه ده

**عَمَلٌ أُرِيدَ بِهِ سِوَاكَ فَإِنَّهُ *** عَمَلٌ يُرَدُّ عَلَى الَّذِيْ هُوَ عَامِلُ**

داسې نېک عمل چې ستا پرته پرې نور ځوک موخه وي نو پر هغه چا بېرته رد دى چې ځوک يې کوي.

**لَوْ صَلَّى ذَاكَ وَ صَامَ حَجّ فَإِنَّ ذَا *** عَمَلٌ وَإِنْ زَعَمَ الْمُرَائِي بَاطِلُ**

که څوک لمونځ، روژه او حج هم وکړي که څه هم ریا کار پرې د نېک عمل ګومان لري خو عمل یې بې ثوابه دی.

**وَإِذَا رَضِيتَ فَكُلُّ شَيْءٍ هَيِّن *** حَسْبِيْ رِضَاكَ فَكُلُّ شَيئٌ زَائِلُ**

چې تهکله راڅخه خوشحاله شې نو هر څه اسان دي، ستا رضا مې ځکه بس ده چې پاتې هرڅه له منځه تلونکي دي.

**أَتَتِ الْمُنَى وَرِضَاكَ سُؤْلِيْ فِيْ الدُّجَى *** وَإِذَا حَصَلْتَ فَكُلُّ شَيْءٍ حَاصِلُ**

مرګ راته راغی او یواځې ستا رضا مې په تورتمونو کې سوال دی چې ته راته حاصل شې نو هر څه راته حاصل دي.

**أَنَا عَبْدُ سُوءٍ آبِقٌ كُلٌّ عَلَى *** مَعْبُوْدِهِ يَا بِئْسَ مَا أَنَا فَاعِلُ**

زه ډېر بدترین او له بادار څخه تختیدلی مری یم او پر خپل معبود بوج هم یم، های زه څومره بد کاره یم!!

**وَلَقَدْ أَتَى الْعَبْدُ الْمسِيئُ مُيَمّما *** مَوْلاهُ أَوْزَارُ الْكَبَائِرِ حَامِلُ**

په ډېر یقین سره ګناهګار بنده راغی او خپل ګناهونه یې بار کړي دي او خپل بادار یې مقصود دی (ورته روان دی)

**قَدْ أَثْقَلَتْ ظَهْرِي الذُّنُوبُ وَسَوَّدَتْ *** صُحُفِي الْعُيوبُ وَسِتْرُ غَفْوِكَ شَامِلُ**

زما ګناهونو مې شاه نور درنه کړه او مخ یې هم راته تور کړ، خو زه دا دی اوس هم له رب نه غوښتونکی یم چې...

**مَالِيْ سِوَاكَ وَ لَسْتُ أَرْجُوْا غَافِراً صَفْحَ الْعُيُوْبِ وَسَتْرُ عَفْوِكَ شَامِلُ**

له تا پرته نور څوک نه لرم، او نه ستا پرته د بل بښونکي ذات امید لرم چې له عیبونو او ګناه څخه بخشش کوي، ستا عفوه ډېره شامله او کامله ده.

**هَا قَدْ أَتَيْتَ وَحُسْنُ ظَنِّي شَافِعِي *** اِذْ لَمْ يَكُنْ عَمَلٌ لَدَيَّ يُقَابِلُ**

ربه! دا دی تا ته راغلم او زما ښه ګومان مې درته سفارشي دی، ځکه زه د قابل شفاعت لپاره بل هېڅ عمل نه لرم

وَلَبْسْتُ ثَوْبَ الخُوْفِ مِنْكَ مَعَ الرَّجَى *** وَوَسَائِلِي نَدَمٌ وَدَمعٌ سَائِلُ

له امېد سره مې ستا څخه د وېرې پوښاک را په تن کړی دی، تا ته مې وسیله د پښېمانتیا او روانې اوښکې دي.

فَاغْفِرْ لِعَبْدِكَ مَا مَضَى وَارْزُقْهُ تَوْ *** بَةَ مُقْلِعٍ فِيهَا الشُّرُوطُ كَوَامِلُ

خپل بنده ته د تېرو ګناهونو بخشش وکړه او ورته د داسې توبې توفیق ورپه برخه کړه چې په شروط بېښې پوره وي.

وَارْزُقْهُ عِلْماً نَافِعاً وارْزُقْهُ تَوْ *** فِيقًا لِمَا تَرْضَى فَفَضْلُكَ كَامْلُ

او ورته ګټور علم ورپه برخ کړه او چې تا راضي کوي د هغه عملونو توفیق ورکړه ځکه چې ستا مهرباني او لورینه ډېره پوره ده.

وَافْعَلْ بِهِ مَا أَنْتَ أَهْلُ جَمِيْلِهِ *** يَا مَنْ لَهُ اسْماً حِسَانُ فَوَاضِلُ

او ورسره د خپلې ښې روېې چال چلد وکړه ای هغه ذاته چې تا لره ښایسته نومونه دي.

فَإِذَا فَعَلْتَ فَحُسْنُ ظَنِّيْ صَائِبٌ *** وَالظَّنُّ كُلَّ الظَّنِّ أَنَّكَ فَاعِلُ

که چرته تا داغعه (مغفرت) راته وکړه نوو ښه کمان مې خطا نه دی او زما پوره یقین دی چې ته به دغه کار وکړې.

ای الله ستا شکرګوزار او ذکر کونکي بندګان مو جوړ کړه، ستا له هغو صابرینو، محسنینو او متقیانو بندګانو له جملې څخه مو وګرځوه چې د خپل خدمت وړ دې ګرځولي دي، خپل محبت او فرمانبرداری ته دې ورله توفیق ورکړی دی، مونږ ته، زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته په خپل ځانګړي رحم او احسان د ګناهونو بخشش وکړه، ای الله! په نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د هغه په کورنۍ او ټولو ملګرو یې رحم وکړه.

# دریم فصل

په روژه کې غور وکړه چې څومره ګټې پکې پرتې دي، یوه ګټه یې دا ده چې روژه په انسان کې په غریب غربه باندې د رحمت او احسان خصلت شته کوي، په نا امېده انسان باندې د رحم لامل دی، ځکه چې کله انسان وږی تږی شي نو د ناداره او بې وسه خلکو ولږه او تنده یې تر مخ ودرېږي، بله ګټه یې دا ده چې کله انسان له خوراک او څښاک څخه رابند شي نو د الله د لورینې او نعمت قدر او ارزښت ورسره پیدا شي، بله ګټه یې دا ده چې انسان ته په صبر او حوصلې درس ورکوي او صبر او حوصله له ټولو هغه شیانو نه انسان رابندوي چې پایله یې غصه وي، ځکه روژه نیم صبر دی او صبر نیم ایمان دی، د روژې بله ګټه دا ده چې د انسان نفس له ګردو بداخلاقیو څخه تصفیه کوي او نفس په نېکو اخلاقو روزي، اروا یې تازه کوي، جسم یې له رنځونو پاکوي، روژه په باطني قوت حیرانونکې اغېز لري او زیانمنو توکو څخه یې سالم ساتي، روژه خپله عبادت او د الله فرمان ته غاړه کېښودل دي، د الله د رضا او له هغه څخه د اجر او ثواب امېد ساتلو په مقابل کې او هغه ته د نزدېکت په سبب له روژې څخه راپېدا ستومانې او مشقت له هېڅ سره سمون خوري، روژه له دې پرته بلا ډېرې ګټې لري.

له بیت الله څخه حج کولو کې سوچ وکړه چې څومره ګټې او فائدې لري، یوه ګټه یې دا ده چې په یو مېدان د ځمکې له ختیځ او لویدیځ نه د مسلمانانو پیادل ټول سره راغونډوي، دوی ټول د یو معبود عبادت کوي او زړونه یې سره یو څېر وي او ارواګانې یې سره کلک ائتلاف لري، مسلمانان پکې تر خپل منځ د دیني ټینګو اړیکو یاداشت کوي او په اسلامي وحدت سره غږېږي، په حج کې د الله د پیغمبرانو تذکره او د هغه د نیکانو بندګانو د درېځ زده کړه ده الله پاک فرمایي:

﴿وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلّٗىۖ﴾ [سورت بقره: ۱۲۵]

**ژباړه:** او له مقام ابراهیم څخه د لمونځ ځای ونیسئ.

په حج کې د ټولو پېغمبرانو سردار او امام د احوالو او دعوت يادداشت دی او د هغه د حج ستر مراسمو يادګېرنه ده، په يادداشتونو دا يادداشت تر هر يو ستر او لوی دی، دا يادداشت انسان ته د الله لوی لوی پېغمبران رايادوي، انسان ته ابراهيم او محمد صلى الله عليه وسلم او د هغوی نېک اثرات وريادوي، انسان ته د هغوی عبادتونه وريادوي، ځوک چې په حج کې ځان ته د پېغمبرانو دعوتونه او ذکريات رايادوي معنا دا ده چې په پېغمبرانو ايمان لري، د هغوی په عظمت قايل دي او له يادداشتونو يې ګټه او فايده اخلي، د هغوی په نقش قدم تلونکي دي، د هغوی مناقب او فضائل ځان ته رايادوي، نو په دې سره د انسان ايمان او يقين لا پسې وده وکړي.

د حج له ګټو څخه بله ګټه دا ده چې انسان له ګناهونو نه پاکوي، د الله په لاره کې په نفقه او خيرات يې روزي، په دين کې سترو ستومانۍ باندې د تحمل درس ورکوي، له دنيوي زينت او تکبر څخه يې ساتي، حج انسان ته د دې درس ورکوي چې که هر څومره لوړه مرتبه لرې خو له انسانانو سره په انسانيت کې مساوي يې، باچا او ګدا، بډا او بې وسه بلکې ټول يو شان دي، د حج بله ګټه دا ده چې په ښارونو او ملکونو باندې انسان ګرځوي او د خلکو په خوی اخلاقو يې پوهوي، د هغوی په سکونت او ژوند علم ورکوي، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د معززو پېغمبرانو د وحي ځايونو ورته ښايي، د حج بله ګټه دا ده چې انسان ته په يوه ځمکه د ټولو انسانانو محشر وريادوي، ملائک به ورته اواز وکړي او دوی به ورته ګوري:

﴿يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ [سورت مطففين: ٦]

**ژباړه:** په هغه ورځ چې ټول خلک به د کائناتو پالونکي ته ودرېږي.

داسې به ورته راغونډ شي چې پښې ابله او ناسونته به وي، د حج بله ګټه دا ده چې انسان ته له خپل کور کلي او بچو نه اخرت ته په سفر درس ورکوي چې هرومرو به ورڅخه فراق مومي، خو که نابېره ورڅخه له فراق سره مخامخ شي شايد له سترې صدمې سره مشت ګرېوان شي، د حج بله ګټه دا ده لکه څنګه چې انسان د حج لپاره د تګ راتګ د توښې په تيارولو بوخت او ورته شديده اړتيا لري، دا ډول انسان اخرت کې هم توښې ته اړتيا لري نو د نېکو عملونو توښه به ورله تياره کړي ځکه اخرت ته سفر تر هر سفر ستر دی، انسان تر هغه بېرته دنيا ته نه راځي ترڅو الله پاک ګرد لومړني او اخرني راپورته کړي.

د حج بله ښيګړه دا ده چې ځينې مهال انسان خپلې اړتياوې له خپل کور کلي بهر مومي، همدا ډول چې په اخرت کې څه ته اړتيا لري نو هلته نه بلکې په دنيا کې يې پيدا کولی شي، الله پاک فرمايي:

﴿وَتَزَوَّدُوا۟ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ﴾ [سورت بقره: ۱۹۷]

ژباړه: او توښه له ځان سره واخلئ او غوره توښه پرهېزګاري ده.

د حج بله ګټه دا ده چې انسان الله باندې پر توکل روزي، ځکه انسان د حج په سفر کې ټول هغه څه نه شي اخستلی چې ورته اړتيا لري نو څه چې يې اخستي وي د شته اسبابو په شتون او د ځينو اسبابو په نه شتون کې پر الله توکل کوي، نو بيا چې څه ته د اړتيا احساس کوي نو پر الله بروسه لري، د حج بله ګټه دا ده چې انسان کله احرام وتړي نو له ځان څخه د ژوندو ګنډل شوی پوښاک لرې کړي او پر ځای يې هغه څه پر تن وځړوي چې د مړو له لباس سره پوره ورته والی لري، نو د راروان ژوند لپاره عبادتونو ته ترقي ورکړي او له ځان سره يې توښه کړي، داسې نورې ګڼ شمېر ګټې او فايدې چې حسابول يې ناشونې دي.

دا ډول د الله په لاره کې جهاد کې سوچ او غور وکړه چې څومره ښېګړې او ګټې لري! په جهاد في سبيل الله کې د الله د دښمنانو جرړې ويستل دي او د نېکانو خلکو مرسته کول دي، په جهاد سره د الله کلمه پورته کيږي، په جهاد سره کافر دې ته اړ کيږي چې ګنده ترين کفر پريږدي او پر ښايستونو سمبال اسلام ته غاړه کيږدي، په جهاد في سبيل الله سره ډېری انسانان له حيوانيت او همجيت څخه راوځي، الله پاک فرمايي:

﴿إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَـٰمِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا﴾ [سورت فرقان: ٤٤]

ژباړه: دوی (کافران) نه دي مګر د حيواناتو په څېر بلکې د لارې په اعتبار دوی له حيواناتو هم بدتر دي.

بله ګټه د جهاد في سبيل الله دا ده چې ابدي او سرمدي ژوند پرې ګټل کيږي، ځکه که څوک په جهاد کې څوک مړه کړي نو د الله دين يې پورته کړ او څوک چې پکې خپله مړ شي نو ځان يې ابدي ژوندی کړ، الله پاک فرمايي:

﴿وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُونَ﴾ [سورت ال عمران: ١٦٩]

**ژباړه**: پر هغه چا دمړو ګومان مه کوه چې د الله پاک په لاره کې وژل شوي وي، دوی ژوندي دي او د رب له اړخه ورته رزق روزي ورکول کيږي.

د جهاد في سبيل الله بله ګټه دا ده چې مجاهد پرې نهايت زيات ډېر اجر ګټي، په جهاد في سبيل الله سره د مسلمانانو شمېر زياتيږي او کافران ورسره کميږي، او تر هر څه يې لويه ګټه دا ده چې جهاد في سبيل الله کول د الله امر ته غاړه کېښودل دي، الله پاک فرمايي:

﴿وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٌ﴾ [سورت بقره: ١٩٣]

**ژباړه**: او ترهغه ورسره جنګ وکړئ چې کفر پاتې نه شي.

او فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ﴾ [سورت توبه: ١٢٣]

**ژباړه**: ای هغه خلکو چې ايمان مو راوړی دی له هغو خلکو سره جنګ وکړئ چې تاسو ته نزدې دي او کافران دي، او خامخا دې هغوی په تاسو کې سختوالی محسوس کړي او پوهه شئ چې الله له متقيانو سره دی.

د جهاد في سبيل الله له ښېګړو نه بله ښېګړه دا ده چې مسلمانان به پکې برلاسي شي او غنيمتونه به تر لاسه کړي، هم به پرې د الله شکر ادا کړي او هم به يې له ځان سره ذخيره کړي، خو که کافران پرې برلاسي شي پوهه به شي چې دا يې د ګناه او سرغړونو لامل دی، دا له دې کبله چې دوی سره خپل منځ کې په اخ ډب اښته دي او جګړې کوي، نو الله ته به په داسې حالت کې رجوع وکړي چې له تضرع او خاکسارۍ به ډک وي، بله ګټه يې دا ده چې جهاد في سبيل الله پرېښودل د ذلت او مهانت ستر لامل دی، له ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ**». [سنن ابي داود: ٣٤٦٢]

**ژباړه:** کله چې تاسو په عينې بيع سره اخستل او خرخول شروع کړئ او د غواګانو لکۍ مو کلکې ونيولې، او په کښت کر خوشحاله شوئ، او في سبيل الله جهاد مو پرېښود نو الله پاک به درباندې داسې ذلت او مهانت راولي چې تر هغه به يې درنه بېرته پورته نه کړي چې بېرته مو دين ته رجوع نه وي کړې.

د جهاد في سبيل الله بله ګټه دا ده چې انسان پرې له نفاق څخه سالم پاتې کيږي، حديث کې راځي: «**مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ**». [سنن ابي داود: ۲۵۰۲، سنن النسائي: ۳۰۹۷]

**ژباړه:** که څوک ومري او نه يې غزا کړې وي او نه يې له ځان سره ياده کړې وي نو د نفاق په يوه برخه باندې ومړ.

په بل حديث کې راځي: «**مَنْ لَقِيَ الله بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ لَقِيَ الله وَفِيهِ ثُلْمَةٌ**». [جامع الترمذي: ۱۶۶۶]

**ژباړه:** څوک چې له الله سره د جهاد له کوم اثر او نښې پرته مخامخ شي نو په داسې حالت کې به ورسره مخامخ شي چې عيب به پکې وي.

په بل حديث کې رآځي: «**مَا تَرَكَ قَوْمٌ الْجِهَادَ إِلَّا عَمَّهُمُ الله بِالْعَذَابِ**». [المعجم الأوسط: ۳۸۳۹]

**ژباړه:** هېڅ قوم جهاد في سبيل الله نه پرېږدي مګر الله به ورته عام عذاب ورکړي.

بله ګټه يې دا ده چې په جهاد في سبيل الله سره په سخته او اسانه کې، په خوښه او ناخوښه کې د الله د اولياؤ له عبوديت څخه د انسانانو راويستل دي، نور داسې ډېر دليلونه چې د الله په لاره کې د جهاد په محاسنو دلالت کوي.

د اسلامي شريعت په راوړو معاملاتو کې له غور څخه کار واخله، په اسلام کې د پلور او پېر يوه ګټه دا ده چې انسان پرې خپلې د خوراک، څښاک او پوښاک او هستوګنځای اړوند اړتياوې پوره کولی شي، بله ګټه يې دا ده چې انسان پرې بلا ډېره مسافه مقدار له منځه وړلی شي، که څوک توکې له خپلې کارخانې راونيسي نو بايد ده چې سفرونه وکړي، سورلۍ ولري، له ستونزو سره به هرومرو مخامخ کيږي، خو که څوک نفس توکې په خپل بازار کې راونيسي نو د سفرونو له ستونزو ستړو

نه به په امان کې شي، د نمونې په توګه عطر او مشک عنبر، ګاڼي او موټرې، رانګارنګ ماشينونه او ربنت او چيني (بوره) او داسې نور... چې کارخانې يې لرو پرتو سيمو کې وي، نو د الله لطف او احسان پر انسان دا دی چې ځينې انسانان يې د ځينو نورو لپاره تابع کړي دي، او ترڅنګ يې اسلامي شريعت د پلور او پېر تړول ډولونه حل او فصل کړل لکه اجارې، شرکتونه، مګر هغه مهال چې شريعت يې په تحريم دلالت وکړي چې يا پکې خلکو ته تکليف، يا ظلم، يا جهالت او يا داسې نور څه وي.

که د اسلامي شريعت په معاملاتو کې څوک سوچ وکړي نو ورته به جوته شي چې د دين او دنيا ترمنځ کلکې اړيکې لري، د الله په وسيع ترين رحمت به ګواهي ورکړي، پر بندګانو به د الله د رحم او لطف اعتراف وکړي، د پاکيزه خواړو په تحليل کې به د الله پاک ډېر حکمتونه ووينې، او وبه ګوري چې ټول هغه خواړه الله پاک په خپلو بندګانو حرام کړي دي چې يا پليت او نجس وي او يا د انسان په دين، يا عقل، يا بدن او مال باندې بدې اغېزې لري.

د اجارې له ګټو او فايدو څخه يو ه ګټه دا ده چې په لږ عوض او کم ماليت سره پرې د خلکو ډېرې اړتياوې پوره کيږي، ځکه هر څوک د هستوګنې لپاره کور نه لري او نه هر څوک موټرې او ګاډي لري، نه هرڅوک جهازونه لري او نه هرڅوک د غنمو لپاره ژرندې لري او نه هرڅوک داسې دي چې د خپلو تجارتي توکو لپاره ګودامونه لري، داسې نور ډېر شيان چې شايد شمېر يې له توانه ووځي، نو د مذکوره اړتياو په بنسټ هم اجاره روا وبلل شوه او نور متعلق پلور او پېر.

د صلح ګټې ذکر کولو ته هېڅ اړتيا نشته، همدومره به بسنه وکړي چې رب کائنات فرمايي:

﴿وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞ﴾ [سورت نساء: ١٢٨]

**ژباړه:** او جوړ جاړې ډېر غوره دی.

وکالت او کفالت هم ډېرې ګټې لري، په دواړو کې دومره احسان دی چې پر هغه چا پټ او پناه نه دي چې د اسلامي شريعت پېروکار وي او عقيده پرې لري، که

يې د اسلامي شريعت احکام زده وي او که نه خو کفالت او وکالت ته ټينګه اړتيا لري، ځکه رب کائنات خلق پيدا کړي دي او موخو او همت کې يې هر چا ته مختلف طبيعتونه ورکړي دي، هرڅوک دا پسند نه بولي چې خپله دې براه راست کارونه انجام کړي او نه هرڅوک په پلور او پېر پوهيږي، د الله پاک په خپل مخلوق باندې لورينه دا ده چې کفالت او وکالت يې ورته مباح کړل، د کور له مشرانو او د چارو مسؤلينو او داسې نورو سره نه ښايي چې د پلور او پېر اجراءات سمبال کړي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم ځينې کارونه د تواضع تعليم او د جواز په خاطر په خپله کړي دي خو ولې ځينې نور کارونه يې بيا نورو ته سپارلي دي، د اختر لپاره يې اضحيه خپله ذبحه کړې ده خو ځينې نورې قربانۍ يې بيا علي رضي الله عنه ته وسپارلې.

د کفالت ښېګړه دا ده چې په دې کې د ورولۍ خيال ساتلو او د شفقت او رحمت اظهار دی، ذمه ورپکې بلې ذمې ته نږدې کيږي نو د مطالبې مجال لا پکې پراخيږي، زړه ته پکې ډاډ حاصليږي، الله پاک فرمايي:

﴿وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ﴾ [سورت ال عمران: ٤٤]

**ژباړه:** ته ورسره هغه مهال نه وې چې دوی سره قلمونه په دې خاطر ګوزارول چې د مريم کفالت به څوک په ذمه واخلي.

تر دې چې کفالت يې زکريا عليه السلام واخست، الله پاک فرمايي:

﴿وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا﴾ [سورت ال عمران: ٣٧]

**ژباړه:** او زکريا عليه السلام يې کفالت (پاللو) ذمه واخسته.

د کفالت او وکالت په محاسنو سره به وکړی شي چې د حوالې محاسن په واضحه توګه وپېژني، ځکه په حواله کې کفالت او وکالت دواړه پراته دي مزيد ورپکې د اصيل (مدين) ذمه له اوږد غم او خفګان نه هم فارغيږي، که ته يې د چا حواله قبوله کړې نو د مسلمان ورور زړه ته به بلا خوشحالي ورکړې، او په دې کې شک نشته چې د مسلمان زړه ته خوشحالي ورکولو کې څومره ډېر ثواب دی.

د شفعې له ګټو او فايدو څخه يوه ګټه دا ده چې کله ناکله ګاونډي د ځمکې ځينې

برخې ته شدیده اړتیا لري، یا یې کور تنګ وي او پراخول یې غواړي، یا یې د کښت او کر ځمکې ترڅنګ شریکه ځمکه وي او دا ورته اړین وي، د شفعې لویه ګټه دا ده چې د ګاونډېو او ګډونوال په عظمت انسان ته درس ورکوي چې له نورو څخه یې د پېر حق لومړی دوی لري، مګر هغه مهال چې دوی خپل حق ساقط کړي، بله ګټه یې دا ده چې له ګاونډېو او ګډونوال ته تکلیف نه رسول دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ». [سنن ابن ماجه: ۲۳٤۰]

**ژباړه:** تکلیف رسول په اسلام کې نه ځان ته شته او نه بل ته.

او په دې کې شک نشته چې له ګاونډېو څخه د تکلیف او ضرر په رابندولو سره ښه ګاونډېتوب دوام پېدا کوي، لکه ترڅنګ یې تکلیف ده اورونه بلول، پر هغه خپل دېوال پورته کول، ترڅنګ یې لوګي او لوخړې جوړول، په لوړ غږ تلویزیون او راډیو اورېدل، یا د داسې څه تصرف کول چې د هغه ملکیت ته لوی مشقت وي، او داسې نور...

د ودیعې محاسن خو لا پسې څرګند دي، په ودیعه کې د انسانانو د مالونو تحفظ او پر امانت وفاء کول چې د شریعت او عقل له مخې تر هر څه لوی او ستر انساني خوي او عادت دی، بله ګټه یې دا د چې ودیعه د الله له بندګانو سره احسان دی او محسنین د الله خوښ شي، بله ګټه یې دا ده چې په ودیعه کې د مسلمانانو ترمنځ مینه او محبت او وروروولي راځي.

د اسلامي دین بله ګټه دا ده چې له ښځې سره د خاوند بده رویه او کردار په کلکه غندي، له خاوند سره دا لایق ده چې د خپلې ښځې ښه او بد سره پرتله کړي، که خاوند د انصاف څښتن وي نو له بدو یې باید سترګې هله پټې کړي چې محاسن یې ډېر وي، له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «لَا يَفْرُكُ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ». [صحیح مسلم: ۱٤٦۹]

**ژباړه:** مومن سړی دې له مومنې ښځې سره نفرت نه لري، که یو خوی خصلت یې بدې شي نو بل به یې خوښ شي.

په میراث سره په وارثانو باندې شتمني په سمه توګه تقسیمیږي، میراث خپله الله پاک ایښی دی، هغه د انسان له انسان سره په نزدېکت، لریوالي او خیر باندې ډېر ښه پوهیږي، هغه ډېر ښه پوهیږي له انسان سره په احسان کولو څوک ډېر حقدار دی، سم دروست عقلونه یې د برخو ترتیب په حسن او احسان ګواهي ورکوي، خو که د میراث د برخو واک د چارو مسؤلینو او د خلکو ارادو ته ورکړل شوی وی، له امله به یې بې سارې ګډوډې منځ ته راغلې وه، نظم انتظام به له منځه تللی و، بله ګټه یې دا ده چې سبب یې له نسب سره تړلی دی، سبب لکه نکاح او ولاء، دا چې الله پاک نکاح د محبت او الفت، د ازدواج او د خلکو ترمنځ د مینې او الفت ذریعه جوړه کړې ده، نو ښه خبره نه ده چې دواړو کې د یو په مړینه بل د فراق په درد دومره درمند شي چې بیخي د یو بل له مالیت څخه مرسته حاصله نه کړي، بیا الله پاک د خاوند برخه د ښځې دوه چنده ګرځولې ده.

بله ګټه یې دا ده چې د پور په مهال به له مړي څخه میراث نه شي وړلی او نه کافر له مسلم څخه میراث وړي، ځکه کافر که څه هم د نسب له مخې قریب وي خو د دین له نګاه نه بعید دی، ځکه کافر مړ دی او مړی میراث نه شي وړلی، الله تعالی فرمايي:

﴿أَوَمَن كَانَ مَيۡتٗا فَأَحۡيَيۡنَٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهُۥ نُورٗا يَمۡشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ﴾ [سورت انعام: ۱۲۲]

ژباړه: ایا هغه څوک چې مړ وي او مونږ یې راژوندی کړو او رڼا ورله وګرځو او د خلکو ترمنځ ګرځي راګرځي.

او الله پاک فرمايي:

﴿يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ﴾ [سورت یونس: ۳۱]

ژباړه: ژوندی له مړي څخه او مړی له ژوندي څخه راوباسي...

خو دا چې کافر د کافر په څېر دی نو له یو بل څخه میراث هم وړی شي.

هبه هم مستحبه ده خو هله چې د الله رضا پرې اراده کړی شي، له اجماع وړاندې پرې د الله پاک دا قول دلیل دی:

﴿فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا﴾ [سورت نساء: ٤]

**ژباړه**: که څه شی درته په خپله خوښه درکړي نو پاک او حلال يې وخورئ.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ﴾ [سورت بقره: ۱۷۷]

**ژباړه**: او په خپله خوښه باندې شتمني او مال ورکوي.

الله پاک خپله کريم، جواد او وهاب ذات دی، بله ګټه يې دا ده چې هبه د محبت او مينې لوی سبب دی، په حديث کې راځي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**تَهَادَوْا، فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تَسُلُّ السَّخِيمَةَ**». [المعجم الأوسط: ۱۵۲۶]

**ژباړه**: يو بل ته ډالۍ ورکړئ، ځکه ډالي ورکول کينه اوباسي.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم خپله نجاشي ته يوه چپن او مشک ډالي کړي ول، نبي کريم صلى الله عليه وسلم به خپله ډالۍ قبلولې او حتى بدله به يې پرې هم ورکوله، بله ګټه يې دا ده چې ډالۍ منځنۍ اړيکې تقويه کوي او اړيکې چې کله قوي شي نو امت ثابت قدمه شي او د امت د افرادو ترمنځ ښې اړيکې د نجاح او فلاح راز او فلسفه ده، بله ګټه يې دا ده چې د ډالۍ ورکونکو يو پر بل باور پيدا کيږي، نورې هم بلا شمېر ګټې لري.

نکاح هم مستحب کار دی، ګڼ شمېر ګټې او فايدې لري، يو ګټه يې دا ده چې د انسان فرج په کې له ګناه نه محفوظ ساتل کيږي، د ښځې ابرو عزت په کې خوندي وي، بله ګټه يې دا ده چې د ښځې ساتل او د هغه حقوق او خرچه اخراجات برداشت کول، بله ګټه يې دا ده چې نکاح پيغمبري عمل دی، امت پرې ډيريږي، نسل ورڅخه براويږي، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم فخر او وياړ پرې ښه محقق کيږي، د نکاح بله ګټه دا ده چې له کبله يې د خپل کور او بچيانو تربيه کېدی شي، بله ګټه يې دا ده چې په نکاح سره نارينه ته سکون او کامل ډاډ په لاس ورځي نورې ګڼ شمېر ګټې لري چې دلته يې شايد ونه شو شمېرلی.

طلاق هم په اسلام کې ګڼ شمېر ګټې لري، لومړۍ خوبي يې دا ده چې د طلاق واک الله پاک نارينه ته ورکړی دی، بله خوبي په کې دا ده چې له دريم طلاق وروسته په خاوند باندې ښځه په شدت سره حراميږي، ځکه ظاهر خو په دې پرېکړه

کوي چې څوک خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکوي نو په فراق يې خوشحاله دی او اسلام دا مهال ښځې ته اجازه ورکوي چې له بل چا سره حلاله نکاح وکړي دا په دې خاطر چې له دوهم خاوند سره نکاح د مخکني خاوند سره د بېرته نکاح مانع وګرځوي، بله ګټه يې دا ده چې له طلاق وروسته دوهم خاوند سره د ښځې نکاح په دې پرېکړه ده چې د طلاق معنا دا نه ده چې مطلقه ښځه په لومړي خاوند بيخي حرامه ده او بېرته ورته د بل چا له طلاق وروسته هم رجوع نه شي کولی، ځکه کله نا کله داسې هم کيږي چې لومړی خاوند له خپلې مطلقې ښځې څخه صبر نه شي کولی نو ژوند له لاسه ورکړي، نو اسلامي شريعت ورته د بېرته نکاح لپاره د بل خاوند نکاح او بيا طلاق ډېره ښه ذريعه وګرځوله، خو دا هله چې دوهم خاوند د ښځې ګبين ګوتې وڅکوي او ښځه د خاوند، هغه هم په دې شرط چې حلاله به نه وي ځکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**لَعَنَ اللهُ الْمُحَلِّلَ، وَالْمُحَلَّلَ لَهُ**». [سنن ابن ماجه: ١٩٣٦]

**ژباړه**: په محلل (څوک چې ښځه د حلالې لپاره په نکاح اخلي) او محلل له (د چا په خاطر چې ښځه په نکاح اخستل کيږي) دواړو باندې د الله لعنت دی.

د طلاق بله خوبي دا ده چې طلاق بايد په طهر کې وي چې خاوند له ښځې سره پکې جماع نه وي کړې، په طلاق کې سنت طريقه هم دا ده، که يې ورڅخه خپل حاجت پوره کړی وي نو طبعي ده چې ميلان به يې ورڅخه کم شوی وي، نو په لږ څه به وکړی شي چې هجران ته يې زړه پوره جوړ وي، ځکه کوم مهال چې انسان له څه شي موړ شي نو له سترګو يې هم ولويږي، ډېر سپک ورته ښکاره شي، خو چې کله يو څه ته وږی تږی وي نو بيا طلاق له ډېر سوچ او غور نه وروسته ورکول کيږي، خو دا چې کله څوک په خپله پرېکړه پښېمانه وي او د طلاق فيصله بېرته اخستل غواړي، نو ښه او په سنت برابر طلاق دا دی چې په داسې طهر کې طلاق ورکړل شي چې خاوند په کې له ښځې سره همبستري نه وي کړې، ځکه دا د پوره رغبت او ميلان وخت وي، او ظاهره ده چې په دې حالت کې خاوند ښځې ته طلاق نه شي ورکولی مګر دا چې طلاق ته شديد حاجت وي نو بيا ورته اسلام د طلاق اجازه ورکړې ده.

په طلاق کې بله خبره دا ده چې ټوکې ټکالې په کې هم اسلام حقيقت ګرځولی دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**لَا يَجُوزُ اللَّعِبُ فِي ثَلَاثٍ: الطَّلَاقِ وَالنِّكَاحِ وَالْعِتَاقِ، فَمَنْ قَالَهُنَّ فَقَدْ وَجَبْنَ**». [مسند الحارث: ٥٠٣]

**ژباړه**: په درېو شيانو باندې ملنډې وهل جواز نه لري، طلاق، عتاق او نکاح، که څوک پرې تلفظ وکړي نو احکام يې واجب شول.

کله چې انسان وخبرېږي او عاقل او دانا وي چې په مجرد تلفظ باندې که څه هم د ټوکو ټکالو حالت ولې نه وي او طلاق واقع کېږي نو د الله په اذن سره به ترې راستون شي.

د قصاص او عقوباتو په تنفيذ کې، د ياغي او باغي نفسونو په رټلو او تاديب کې، هغو سخت زړو ته چې هېڅ رحمت او شفقت نه لري ورته د ردع په ورکولو کې هم ډېرې خوبياني او ګټې او فايدې شته، يوه ګټه يې دا ده چې د بغاوت او طغيان ټولو ډلو ته پرې ادب ورکولی شي، اسلام د قاتل په وژلو، د غل څخه د لاس په غوڅولو کې په دې خاطر امر کړی دی چې د خلکو مال او جان په کامل تحفظ کې وي، الله پاک فرمايي:

﴿وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَـٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَـٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [سورت بقره: ١٧٩]

**ژباړه**: او ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی ای د عقلونو څښتنانو! شايد تاسو کې تقوا او وېره پېدا شي.

او د لاس غوڅول په دې خاطر دي چې د خلکو شتمني په تحفظ کې شي نو خلک به ايله بېله په ارام او ډاډ ژوند وکړي، الله پاک فرمايي:

﴿وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓا۟ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَـٰلًا مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ [سورت مائده: ٣٨]

**ژباړه**: د غل نارينه او غلې ښځې د دواړو لاسونه غوڅ کړئ په سبب د دې چې کوم کار يې کړی دی، دا د الله له اړخ نه ورته سزا ده، او الله پاک غالب او حکيم ذات دی.

زنا او زنا ته ټول مقدمات او سببونه يې حرام کړي دي لکه پردۍ ښځې ته کتل، له هغې سره يواځې کېدل، هغه مجول او لاسونه پرې وهل، دا ډول اسلام د زناکار - سړی وي او که ښځه - په رجم امر کړی دی، د خلکو تر مخې يې د لوطي انسان د وژلو حکم کړی دی، د ناواده زاني په سل دورو او د يو کال په موده له کلي څخه په شړلو يې فيصله کړې ده، دا ټول په دې خاطر چې انساني نسبونه او ابروګانې خوندي پاتې شي، اخلاق تر رزالت ونه رسيږي، ټولنې څخه د فناء او فساد مخه په کلکه ونيسي، شراب يې حرام کړي دي او د ګردو خباثتونو او پليتۍ زېږنده يې ګرځولې ده، د شراب خور په حد يې امر کړی دی، دا ټول په دې خاطر چې عقل روغ او سالم پاتې شي، د انسان شتمني خوندي پاتې شي، شرف او عزت، ابرو او نيک اخلاق پاک صاف او ښايسته پاتې شي.

**شعر:**

**لَقَدْ أَيْقَظَ الإِسْـلامْ لِلْمَجْـدِ وَالعُلاَ *** بَصَائِـرَ أَقْـوَامٍ عَـنِ المَجْـدِ نُـوَّمِ**

د شرف او ترقۍ لپاره اسلام د داسې قومونو سترګې خلاصې کړې چې ويدې ترې پاتې وې.

**فَـأَشْرَقَ نُـورُ العِلْـمِ مِـنْ حُجُرَاتِهِ *** عَلَى وَجِـهِ عَـصْرٍ بِالجَهَالَـةِ مُظْلِـمِ**

د جهالت پر عصر يې د علم وړانګې له خپلې غېږې راپورته کړې چې دوخت خلک د جهالت په تورتمونو کې ول

**وَدَكَّ خُصُـونَ الجَاهِلِيِّـةِ بِالهُـدَى *** وَقَـوَّضَ أَطْنَـابَ الضَّـلالِ المُخَيَّـمِ**

په هدايت سره يې د جهالت ودانۍ په حرکتونو کړې او د ضلالت ودل شوي څېر تارونه يې وشکول.

**وَأَنْشَـطَ بِالعِلْـمِ العَزَائِـمِ وَابْتَـنَى *** لأَهْلَيْـهِ مَجْـداً لَيْـسَ بَالمُتَهَـدِّمِ**

په علم يې جذبې رابيدارې کړې او د خپلو بچيانو لپاره يې د شرافت وداني ودانه کړه چې نه غورځيږي

**وَأَطْلَـقَ أَذْهَـانَ الوَرَى مِـنْ قِيُودِهَا *** فَطَـارَتْ بِأَفْـكَارٍ عَلَى المَجْـدِ حُـوَّمِ**

علم د خلکو ذهنيت له قيوداتو څخه رها کړ چې اوس د شرافت ارد ګرد تاوېږي راتاوېږي.

**وَفَــكّ أُسَــارَ القَــوْمِ حَــتَّى تَحَفَّــزُو *** نُهُوضًــا إِلَى العَلْيَــاءِ مِــنْ كُلِّ مَجْثِــمِ**

له اسارت او بند څخه يې خلک خلاص کړل او له هر ځای څخه يې پر پرمختګ يې راوهڅول

**وَعَمَّــا قَلِيــلٍ طَبَّــقَ الأَرْضَ حُكْمُهُ *** بِــأَسْرَعَ مِنْ رَفْــعِ الْيَدَيْــنِ إِلَى الفَمِ**

لږ وروسته به يې ځمکه حکم ومني، له دې هم په جلتۍ سره چې خولې ته دې لاسونه پورته شي.

ای رب پروردګاره! ستا په مينه او محبت او فرمانبردارۍ مو زړونه وپاله، ستا په ثابت قول مو په دنيا او اخرت کې کلک او ټينګ کړه، ستا ذکر او شکر راته الهام کړه، په دنيا او اخرت کې راته حسنات راکړه او د اور له عذاب څخه راته نجات راکړه، مونږ ته او زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته ستا په ځانګړې رحم مغفرت او بخشش وکړه ای ارحم الراحمين ذاته، ای الله! په نبي کريم صلی الله عليه وسلم، د هغه په کورنۍ او ټولو ملګرو يې رحم وکړه.

# څلورم فصل

د اسلامي شریعت بله ښېګړه دا ده چې د مشورې په ورکولو او هغه وخت د مشورې په منلو تیزی ورکوي چې مشوره روغه رمټه وي، له عقل، منطق او تجربې سره سمون خوري، الله پاک فرمايي:

﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ﴾ [سورت شورى: ٣٨]

ژباړه: او د دوی چارې سره خپل منځ کې مشوره وي.

د اسلامي شریعت بله ګټه دا ده چې غوره په کې هغه څوک دی چې د زیاتې تقوا او صلاح څښتن وي الله پاک فرمايي:

﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾ [سورت حجرات: ١٣]

ژباړه: په تاسو کې کریم ترین او غوره د الله په نېز هغه څوک دی چې په تاسو کې ډېر تقوا دار وي او الله پاک پوهه او باخبره ذات دی.

د اسلامي شریعت بله ګټه دا ده چې د مریانو په ازادولو او مریانو سره په ښه سلوک نصیحت کوي،، بله ګټه یې دا ده چې له ګاونډي او له میلمه او ناچاره او یتیم سره په ښه رویه تیزي ورکوي.

بله ګټه یې دا ده چې اسلامي شریعت متبادل احترام او محبت او له منافقت څخه پاک تعاون او مرستې ته دعوت ورکوي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا**». [صحيح البخاري: ٢٤٤٦]

ژباړه: مومن د مومن لپاره د ابادۍ صفت لري چې ځینې یې نوره ځینې برخه تقویه کوي.

د اسلامي شریعت بله ګټه دا ده چې نفرت، کراهت او جنګ جګړې په کلکه غندي، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْ﴾ [سورت ال عمران: ١٠٣]

**ژباړه**: د الله په رسۍ کلکې منګولې ولګوئ او تفرقه بازي مه کوئ.

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا**». [صحيح البخاري: ٢٤٤٦]

**ژباړه**: مومن د مومن لپاره د ابادۍ صفت لري چې ځينې يې نوره ځينې برخه تقويه کوي.

بله ګټه يې دا ده چې نميمت او غيبت څخه، له حسد او جاسوسۍ څخه، له دروغو او خيانت څخه په کلکه منعه کوي، په دې باب کې خو ايتونه او حديثونه بلا ډېر دي.

بله ګټه يې دا ده چې له ظلم او استبداد څخه منعه او له قريب او بعيد سره پر عدل باندې امر کوي، الله پاک فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْ﴾ [سورت مائده: ٨]

**ژباړه**: اى هغه خلکو چې ايمان مو راوړى دى د الله لپاره په حقوقو کلک ودرېږئ، د هېڅ قوم عداوت او بغض دې تاسو په دې مجبور نه کړي چې عدل ونه کړئ.

الله پاک فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ ﴾ [سورت نحل: ٩٠]

**ژباړه**: په يقين سره الله پاک په عدل او احسان باندې امر کوي.

د اسلام بله ګټه دا ده چې له ظالم څخه په عفوې او درګزرۍ باندې امر کوي، الله پاک فرمايي:

﴿وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْ﴾ [سورت نور: ٢٢]

**ژباړه**: او ضرور دې عفو او درګزري وکړي.

او فرمايي:

﴿ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ﴾ [سورت فصلت: ٣٤]

**ژباړه:** په هغه طریقه یې دفع کړه چې سمه او ښه وي.

او فرمایي:

﴿وَأَن تَعۡفُوٓاْ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰ﴾ [سورت بقره: ۲۳۷]

**ژباړه:** خو که تاسو عفوه وکړئ نو دا تقوا ته ډېره نزدې ده.

د اسلامي دین بله ګڼه دا ده چې د وروڼو ترمنځ جوړ جاړي ته خلک دعوت کوي او له هجران څخه یې منعه کوي، الله پاک فرمايي:

﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ﴾ [سورت حجرات: ۱۰]

**ژباړه:** په یقین سره چې مومنان خپل منځ کې وروڼه دي نو تاسو د خپلو وروڼو ترمنځ جوړ جاړی وکړئ او له الله څخه وډار شئ نزدې ده رحم دربانديې وکړي.

او فرمایي:

﴿وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞ﴾ [سورت نساء: ۱۲۸]

**ژباړه:** او جوړ جاړی ډېر غوره دی.

د اسلامي دین بله ګڼه دا ده چې له خپلولۍ پرېښودلو او یو بل ته له شا اړولو نه منعه کوي، متقابل بغض او حسد څخه د ځان ساتنې امر کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**لَا تَقَاطَعُوا وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا**». [جامع الترمذي: ۱۹۳۵]

**ژباړه:** له یو بل سره اړیکې مه شکوئ، شا یو بل ته مه اړوئ، بغض او حسدونه یو له بل سره مه کوئ.

د اسلامي دین بله ګڼه دا ده چې خلکو پسې له ټوکو ټکالو، د هغوی خوګانو او عیبونو ذکر کولو نه منعه کوي، الله پاک فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ﴾ [سورت حجرات: ۱۱]

**ژباړه:** ای هغه خلکو چې ایمان مو راوړی دی یو قوم دې له بل پسې مسخرې او ټوکې ټکالې نه کوي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې انسان له دې څخه رابندوي چې د بل ورور په بيع باندې بيع وکړي، يا يې چا ته د نکاح په پيغام خپل پيغام واستوي، مګر هغه مهال چې يا خو يې ورور بيع يا د پيغام نکاح پرېږدي او يا ترې په شا شي، ځکه له دې څخه دښمني او لويه مقاطعه منځ ته راځي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې پر مسلمان يې سلام کول مشروع بللی دی که څوک سره پېژني يا نه خو سلام به پرې کوي، او بله ګټه يې دا ده چې د سلام په ځوابولو يې هم امر کړی دی چې بايد په ښه توګه ورته ځواب ووېل شي، الله پاک فرمايي:

﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا۟ بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَآ﴾ [سورت نساء: ٨٦]

**ژباړه:** او کله چې درباندې سلام وکړی شي نو سلام ته په ښه توګه ځواب ورکړئ او يا ورته د سلام په مثل بېرته ځواب ورکړئ.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې مونږ ته امر کوي چې څه اورو بايد تحقيق په کې وکړو، الله پاک فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوٓا۟ أَن تُصِيبُوا۟ قَوْمًۢا بِجَهَـٰلَةٍ فَتُصْبِحُوا۟ عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَـٰدِمِينَ﴾ [سورت حجرات: ٦]

**ژباړه:** ای هغه خلکو چې ايمان مو راوړی دی که چرته درته فاسق په يو خبر راشي نو پلټنه يې وکړئ مخکې له دې چې يو قوم ته به په ناخبرۍ کې تکليف ورسوئ او بيا به په خپلو کړو وړو پښېمانه ياست.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ﴾ [سورت اسراء: ٣٦]

**ژباړه:** له هغه څه پسې مه ګرځه چې علم او معرفت يې نه لرې.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې په ولاړو اوبو کې د متيازو کولو نه منعه کوي، په دې کې د الله په اذن سره له ټولو رنځونو او پليتۍ نه ځان ساتل او د انسان په روغتيايي اړخ باندې د اسلامي دين پوره خيال ساتلو ته اشاره ده.

داسلامي دين بله ګټه دا ده چې مسلمانانو ته له تکليف او سترې رسولو نه منعه کوي، الله پاک فرمايي:

﴿ وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ بِغَيۡرِ مَا ٱكۡتَسَبُواْ فَقَدِ ٱحۡتَمَلُواْ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ﴾ [سورت احزاب: ٥٨]

**ژباړه:** او هغه خلک چې مومنانو سړيو او ښځو ته په ناکرده څه باندې تکليف او خفګان رسوي نو دوی د ښکاره دروغو او ګناه پيټی -پر ځان- بار کړی.

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**مَنْ أَكَلَ الثُّومَ وَالْبَصَلِ وَالْكُرَّاثِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا؛ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ الْإِنْسَانُ**». [صحيح ابن خزيمه: ١٦٦٥]

**ژباړه:** څوک چې اوږه، پياز يا ګندنه وخوري نو زمونږ مسجد ته دې نه نږدې کيږي، ځکه ملائک له هغه څه نه تکليف کې کيږي چې انسان ورڅخه په تکليف کې واقع کيږي.

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې په کيڼ لاس له خوراک او څښاک نه منع کوي، ځکه ګڅ لاس د ګندګۍ لرې کولو لپاره دی او حديث کې راغلي چې په ګڅ لاس باندې شيطان خوراک څښاک کوي.

داسلامي دين بله ګټه دا ده چې د مسلمان جنازه پسې په تللو يې امر کړی دی، ځکه په دې کې مړ شوي مسلمان ته دعا، هغه لپاره رحم غوښتل، پر هغه باندې جنازه کولو ته تيزي ده، په دې سره د هغو خلکو غم هم سپکيږي چې پر چا دغه درون غم راغلی وي.

د اسلامي شريعت بله غټه ګټه دا ده چې پرنجي کونکي ته په دعا امر کوي، له يو چا سره په قسم خوړلو کې هغه نه حانث کولو باندې امر کوي، ځکه دا ورورولی او ميني محبت ته دعوت دی، مسلمان ورور ته د رحمتونه دعاګاني دي، څوک په قسم کې نه حانث کولو کې د هغه خاطر راغونديږي، غوښتنه يې منل دي خو په دې شرط چې له اسلام سره ټکر ونه لري.

داسلام بله ګټه دا ده چې د مسلمان د دعوت قبلولو باندې امر کوي او په ځانګړي توګه چې د وليمي دعوت وي او د ودونو انداز او رواني چارې هم داسې

وي چې له شريعت سره تصادم او تضاد ونه لري او يا وروسته کې هغه څه کيږي چې سرېتوب له منځه وړي، لکه ځينې خلک چې د ودونو په مراسمو کې ګډاګانې او اسلام ضد کارونه کوي، څکه په داسې حالت کې ودونو کې شرکت فاسقانو او بې دينو خلکو ته په فسق او فجور تشجيع ورکول دي، د معاصيو په نشر او اشاعت کې ورسره مرسته کول دي، خو که څوک په کې د خپل شرکت له مخې له بدو نه خلک رامنع کولی شي لکه د تلويزيون ناروا استعمال مخه نيول يا داسې نور منکرات دفع کول نو سمه ده ورنه شرکت کول په کې ناروا دي.

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې پر مسلمان يې د بل مسلمان ډارول حرام کړي دي، که ډارول يې په خبرو وي لکه داسې څه ورته اورول چې هغه ترې ګبراويږي او که په سلاح او اسلحې ورته د اشارې له مخې وي او که په بله وسيله وي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې سړي يې له ښځو او ښځې يې له سړو سره له مشابهت نه په شدت منعه کړي دي، ښځې به ځان د سړيو په څېر نه برابروي او سړي به ځانونه د ښځو په څېر، دا ډول ځان برابرولو کې ډېر تاوانونه دي لکه د ښځو په څېر ځان جوړول ځان هجړا کول، د ښځو په څېر خبرې کول، لباس اچول، د هغوی په څېر حرکتونه کول داسې نور... د ځينو مذهبونو په پېروکارو کې دا شيان شته.

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې د تهمتونو او تورونو له ځايونو څخه په ځان ساتلو امر کوی، ترڅو د خلکو ژبې او زړونه له بدګمانۍ او بدګفتارۍ نه سالم پاتې شي، په حديث کې راځي چې صفيه رضي الله عنها د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ملاقات ته راغله او هغه اعتکاف کړی و، د رخصتولو په مهال ورسره تر دروازې ولاړ نو د دوو انصارو سترګې پرې ولګېدې دواړو پرې سلام وکړ، نبي صلی الله عليه وسلم ورته وويل: توندي مه کوئ، له ماسره صفيه بنت حيي بن اخطب ده، دواړو وويل: سبحان الله د الله رسوله! (معنا: ايا مونږ به پر تا بدګماني وکړو؟) نبي صلی الله عليه وسلم ورته وويل: شيطان په انسان کې داسې ګرځي لکه په رګونو کې چې وينه ګرځي، او زه وډارېدم چې هسې نه ستاسو په زړونو کې بدګماني وانه اچوي.

نو چې د ټولو مخلوقاتو شريف او له ګناهونو څخه پاک صاف انسان د تهمونو او شک له ځايونو ځان بچ ساتي مونږ به ولې ځانونه بچ نه ساتو! عمر رضي الله عنه

وايي: څوک چې د تهمتونو په ځای کې ودرېږي نو هغه څوک دې نه ملامتوي چې بد ګمان پرې لري.

د تېر په څېر عمر رضي الله عنه یو سړی ولید چې د لارې پر سر يې د ښځې سره خبرې اترې کولې نو په دره يې وډبو، سړي ورته وويل: ای امیر المومنین! ولې دې ووهلم دا خو مې له خپلې ښځې سره خبرې کولې! هغه ورته وويل: ولې دې ورسره په خپل کور کې خبرې نه کولې چې چا نه لیدلې!

نو د اسلامي شریعت ګټه هم دا ده چې هرڅوک باید د تهمت له ځایونو ځان سالم وساتي، تاسو څه واياست که یوه ښځه خیاط ته ایکې یواځې ولاړه شي او هغه يې د بدن د غړو ناپ واخلي! یا د تصویرانو په دوکان ورننوځي او هلته ایکې یواځې له پردي سړي په واسطه تصویران واخلي، یا په موټرو ګاړو کې له شرعي محرم پرته ځي راځي، یا مسلمانه ښځه وي او کفري هیوادونو ته له شرعي محرم پرته سفرونه کوي، د طبي فحص په نوم له ډاکټر سره یواځې شي او داسې نور... دا ټول زمونږ په دې وختونو کې هرڅه شوي دي چې فتنې ډېرې او امر بالمعروف او نهي عن المنکر په کې کم شوی دی، شرپسندو او ورانکارو زور په کې اوج ته رسېدلی او په هغه څه کې یو د بل مرسته کوي چې د خیرپسندو ضد وي.

**شعر:**

**أَيَــا عُلَمَــاءُ الدِّيــنِ مَــالِي أَرَاكُــمْ *** تَغَاضَيْتُــم عَــنْ مُنْكَــرَاتِ الأَوَامِــرِ**

ای دیني علماؤ! ولې مو وینم چې له منکراتو څخه د خلکو په رابندولو کې په زوره سترګې پټوئ

**أَمَا الأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ فَرْضُكُمْ *** فَأَعْرَضْتُــمُ عَنْ ذَاكَ إِعْــرَاضَ هَاجِرِ**

په ښو کارونو د امر او منکر نه رابندول ستاسو فرض دي او تاسو له دغو څخه داسې اعراض کړی چې بیخي مو پرېښې دي.

**أَمَّــا أَخْــذَ الْمِيثَــاقَ رَبِّي عَلَيْكُــمْ *** بِــأَنْ تَنْصَحُــوا بِالْحَقِّ أَهْــلَ الْمَنَاكِرِ**

ایا زما رب درڅخه لوظ نه دی اخستی چې د منکراتو والاو ته به تاسو په حق سره نصیحت کوئ؟

فَإِنْ هُمُ عَصَوْكُمُ فَاهْجُرُوهُمْ وَهَاجِرُوا *** تَنَالُـوا بِنَصْرِ الدِّيـنِ أَجْـرَ الْمُهَاجِرِ

که دوی مو له نصیحت سرغړونه وکړي تاسو يې پرېږدئ او هجرت ترې وکړئ، په دې سره به د دين په نصرت کې د مهاجر اجر تر لاسه کړئ.

إِذَا كَانَ هَـذَا حَـالُ قَـاضٍ وَعَالِـمٍ *** وَحَـالُ وَزِيـرٍ أَوْ أَمِـيرٍ مُظَاهِـرِ

چې دا ډول حال تر قاضي، تر عالم، تر وزير او تر مرستندوي ټولواک راورسیږي نو...

وَلَـمْ تَنْتَهَـوُا عَـنْ غَيِّكُـمْ فَتَرَقَّبُوا *** صَوَاعِـقَ قَهَّـارٍ وَسَـطْوَةَ قَاهِـرِ

که تاسو له سرغړونې رابند نه شئ نو انتظار اوباسئ چې قهار ذات له پلوره درته تندرونه راشي او قاهر ذات مو په ګرفت کې واخلي

فَمَـا اللهُ عَمَّـا تَعْمَلُـونَ بِغَافِـلٍ *** وَلَكِنَّـهُ يُمْـلِي لِطَـاغٍ وَفَاجِـرِ

ستاسو له کړو وړو نه الله پاک ناخبره نه دی، دومره ده چې هغه سرکش او فاجر ته مهلت ورکوي.

وَقَـدْ أَرْسَـلَ الآيَـاتِ مِنْـهُ مُخَوِّفـاً *** وَلَكِـنْ غَفَلْتُمْ عَنْ سَـمَاعِ الزَّوَاجِرِ

الله درته د ډار درکولو په حالت کې عذابونه راواستول خو تاسو د عذابونو نه لا هم غفلت کې یئ.

أَجِيبُـوا عِبَـادَ اللهِ صَـوْتَ مُنَاصِحٍ *** دَعَاكُـمْ بِصَوْتٍ مَـالَهُ مِـنْ مُنَاصِرِ

د الله بندګانو! د پوره خيرخواه اواز واورئ او خبره يې ومنئ، تاسو ته يې په داسې اواز درغږ کړ چې هيڅ مرستندويه نه لري.

وَقُومُـوا سِرَاعاً نَحْـوَ نَـصْرَةِ دِينِكُمْ *** إِذَا رُمْتُـمُ فِي الْحَـشْرِ غُفْـرَانَ غَافِرِ

په توندۍ سره د خپل دين مرستې ته وپاځېږئ ترڅو د حشر په ورځ دبښونکي ذات ښښنه کې راپورته شئ

وَحُسْـنُ خِتَـامِ النَّظْـمِ أَزْكَى صَلاتِنَا *** عَلَى الْمُصْطَـفَى وَالآلِ أَهْـلِ الْمَفَاخِرِ

د شعر پای کې دې ښايسته درودونه وي په محمد صلی الله عليه وسلم باندې او دهغه په ګردې کورنۍ چې د وياړونو والا دي.

اى الله! زمونږ په غوږونو او سترګو کې خير او برکت واچوه او زړونه مو روښانه کړه، زمونږ منځنۍ چارې اصلاح کړه، زمونږ زړونو ترمنځ روغې جوړې راوله او دخير ښېګړې لارې راته اساني کړه، له تورتمونو مو د رڼاګانو په لور روان کړه، له فاحش او بدو کارونو ښکاره وي او که پټ، مونږ وساته، مونږ ته، زمونږ مور او پلار ته او ټولو مسلمانانو ته ستا په ځانګړي رحم او مهربانۍ د ګناهونو بخشش وکړه، اى الله په محمد صلى الله عليه وسلم او دهغه په کورنۍ او ملګرو يې رحم وکړه.

# پنځم فصل

د اسلامي دين بله ځانګړنه دا ده چې کله انسان په کوم شرپسند، فاجر او د جرمونو په مرتکب وازمول شي بايد ځان ورڅخه وساتي او له شره يې ځان لري کړي، له مدارات څخه به ورسره کار اخلي او حتی الامکان به يې له شر څخه ځان ساتي، ابودرداء رضي الله عنه وايي: مونږ له ځينو خلکو په مخ کې خوشحالي ښکاره کو او زړونه مو پرې لعنت وايي، له دې څخه له هغو شرپسندو سره مدارات موخه ده چې ته يې له شر څخه نه شې په امن کې کېدی او نه يې له ظلم څخه په لاس نيولو توان لرې او نه پرې انکار کولی شې، يا يې له شر او اذيت نه ډارېږې او يا يې له جرم له ارتکاب نه، خو په زړه کې ورسره کينه لرې.

د اسلامي شريعت بله ځانګړنه دا ده چې په ذات البين اصلاح باندې تيزي ورکوي په دې خو له قران کريم او له نبوي حديثونو څخه دليلونه بلا ډېر دي.

د اسلامي شريعت بله ځانګړنه دا ده چې د مسلمانانو په عيبونو، شرمونو او خوګانو باندې د پردې اچولو امر کوي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰه يَوْمَ الْقِيَامَةِ**». [صحيح البخاري: ۲٤٤۲]

**ژباړه:** اوخوک چې پر مسلمان پرده واچوي نو د قيامت په ورځ به پرې الله پرده واچوی.

او فرمايي: «**يَا مَعْشَرَ مَنْ آمَنَ بِلِسَانِهِ، وَلَمْ يَدْخُلِ الْإِيمَانُ قَلْبَهُ، لَا تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِينَ، وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ**». [سنن ابي داود: ٤۸۸۰]

**ژباړه:** ای هغوخلکو چې په ژبه موايمان راوړی دی او لا مو زړه ته ايمان نه دی ننوتلی شوی، د مسلمانانو غيبتونه مه کوئ او مه يې عيبونو او شرمونو پسې کيږئ.

د اسلامي دين بله ځانګړنه دا ده چې د مسلمان زړه ته د خوشحالۍ په ورکولو امر کوي

او د اړين په اړتياو غور كوي، نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ**». [صحيح البخاري: ١٣]

**ژباړه**: تر هغه تاسو كې څوک پوره مومن نه شي جوړېدی چې د خپل ورور لپاره هغه څه پسند وبولي چې له ځان لپاره يې پسند بولي.

او فرمايي: «**وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللهُ فِي حَاجَتِهِ**». [صحيح البخاري: ٢٤٤٢]

**ژباړه**: څوک چې د مسلمان اړتياوې پوره كوي نو الله به د ده اړتياوې پوره كړي.

د اسلامي شريعت بله ګڼه دا ده چې د مسلمان په عزت او احترام امر كوي په ځانګړې بيا د سپين ږيري، او امر كوي چې پر كوچيانو دې له رحم او ترحم څخه كار واخستل شي، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يُوَقِّرْ كَبِيرَنَا، وَيَرْحَمْ صَغِيرَنَا**». [مسند احمد: ٦٩٣٧]

**ژباړه**: له مونږ څخه هغه څوک نه دی چې زمونږ د مشر احترام نه كوي او زمونږ په كشر رحم نه كوي.

او فرمايي: «**إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ**». [سنن ابي داود: ٤٨٤٣]

**ژباړه**: د الله پاک له تعظيم څخه دا هم دي چې د سپينږيري مسلمان قدر او احترام وكړی شي.

د اسلامي دين بله ګڼه دا ده چې له ناكاره او بدو خبرو او بدزبانۍ نه خلک منع كوي، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ، وَلَا اللَّعَّانِ، وَلَا بِالْفَاحِشِ، وَلَا بِالْبَذِيءِ**». [١٩٧٧]

**ژباړه**: مومن انسان په خلكو عيب نه لګوي او نه لعنت ويونكى وي، او نه كنځلمار وي او نه بې حياء وي.

د اسلامي دين بله ګڼه دا ده چې په مجلس كې له دريم نه بغېر به دوه كسان پټې خبرې نه كوي، په دې خاطر چې د دريم د خفګان سبب ونه ګرځي، شايد هغه به اټكل كړي چې دواړه زما اړوند غږېږي، همدا راز دا د مجلس له ادبونو سره هم منافي عمل دی، دا هم د مجلس ادب دی چې بايد په داسې اجنبي ژبې خبرې

اترې ونه کړی شي چې دریم ګړی یې پرې علم ونه لري، نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ، حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ مِنْ أَجْلِ أَنْ يُحْزِنَهُ**». [صحيح مسلم: ۲۱۸٤]

**ژباړه:** تاسو چې کله درې کسان وئ نو دوه دې له دریم ګړي پرته پټې خبرې نه کوي، ترڅو له نورو خلکو سره ګډوډ شئ، په دې خاطر چې د مجلس دریم غړی خفه کوي.

د اسلامي شریعت بله ګټه دا ده چې مسلمان له دې څخه رابندوي چې باید په داسې څه کې لاس وهنې ونه کړې چې له شان سره یې نه ښايي، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له جوامعو کلماتو څخه دا حدیث هم دی فرمايي: «**مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ**». [سنن ابن ماجه: ۳۹۷٦]

**ژباړه:** د سړي د ښه اسلام له جملې څخه دا هم دي چې هغه څه پرېږدي چې ورسره مناسب نه وي.

ځینو خلکو له دې حدیث څخه د ژوند اړوند قاعده راویستلې ده، هغوی وايي: **[له خپل ځانګړو کارونو اړوند بوخت اوسه].**

خو که مسلمانان د خپل پیغمبر پاک د ارشاداتو اړوند د تنفیذ چارې پر مخ یوسي، نصیحتونه یې ومني، هم به خپله دمه او هم به نور دمه وي، بالعکس که د رامنځ ته شویو ستونزو اړوند پلټنه وکړو راته به جوته شي چې د زیاترو جنګ جګړو، نښتو او درمندو پیښو لاملونه د نور په چارو کې لاس وهنې دي.

د اسلامي دین بله ګټه دا ده چې په لارو کې له ناستو او مجلس کولو نه منع کویو، ځکه په دې کې هغه څه دي چې له انسان سره مناسب نه دي، شاید د لارې پر سر انسان حقوق ادا نه کړی شي، شاید په لاره کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر ونه کړی شي، د مظلوم مرسته ونه شي کړی، ظالم به ونه شي رټلی، شاید د کوم مسلمان مرسته ونه شي کړی، داسې د لارې نور ادبونه شاید تعطیل کړي لکه سلام ته ځواب ورنه کړي، له پردو ښځو سترګې پټې نه کړي او یا چا ته له اذیت نه ځان قابو نه کړي.

د اسلامي دین بله ګټه دا ده چې کله هم څوک راشخه په الله پناه وغواړي باید پناه ورته ورکړو، او که راشخه د الله په نوم څه وغواړي باید ورته یې ورکړو، او له هغه چا سره باید نېکه رویه وکړو چې له مونږ سره یې احسان کړی وي، که مو ورسره د عملي احسان توان نه وي باید د خیر دعاګانې ورته وکړو، ترڅو مو په دې حدیث عمل راشي: «**مَنِ اسْتَعَاذَكُمْ بِاللهِ فَأَعِيذُوهُ، وَمَنْ سَأَلَكُمْ بِاللهِ فَأَعْطُوهُ**».

[سنن ابي داود: ٥١٠٩]

**ژباړه:** که په الله پورې درڅخه څوک پنا وغواړي پناه ورته ورکړئ او که درڅخه د الله په نوم څوک څه وغواړي ورته یې ورکړئ.والله اعلم.

ای الله**!** په محمد صلی الله علیه وسلم باندې، د هغه په کورنۍ او ملګرو یې رحم وکړې.

# شپږم فصل

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې ته بايد له ځان سره انصاف وکړې، له خلکو لپاره هغه څه پسند وبولې چې له ځان لپاره يې خوښ ګڼې، د نورو مسلمانانو ورونو په څېر ځان هم وبولې او داسې کړه وړه ورسره وکړې چې د ځان لپاره يې طمع او توقع لرې او حقوق يې ادا کړې، له عمار بن ياسر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**لَا يَسْتَكْمِلُ الْعَبْدُ الْإِيمَانَ حَتَّى تَكُونَ فِيهِ ثَلَاثُ خِصَالٍ قُلْتُ**: **وَمَا هُنَّ؟ قَالَ**: **الْإِنْفَاقُ مِنَ الْإِقْتَارِ، وَالْإِنْصَافُ مِنْ نَفْسِهِ، وَبَذْلُ السَّلَامِ**». [مكارم الأخلاق: ٣٦٠]

**ژباړه**: تر هغه بنده خپل ايمان تر کمال نه شي رسولی چې درې خويونه پکې شته شي، ما وويل: کوم خويونه؟ هغه وويل: له بخل پرته نفقه کول، له ځان سره انصاف کول او سلام کول.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ [سورت حشر: ٩]

**ژباړه**: دوی نور پر ځان غوره ګڼي که څه هم خپله اړتيا لري.

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**طَعَامُ الِاثْنَيْنِ كَافِي الثَّلَاثَةِ**». [صحيح البخاري: ٥٣٩٢]

**ژباړه**: د دوو کسانو خوراک دريو له بسنه کوي.

په بل حديث کې راځي نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ، فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا ظَهْرَ لَهُ، وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلٌ مِنْ زَادٍ، فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا زَادَ لَهُ، قَالَ**: **فَذَكَرَ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ مَا ذَكَرَ حَتَّى رَأَيْنَا أَنَّهُ لَا حَقَّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِي فَضْلٍ**». [صحيح مسلم: ١٧٢٨]

**ژباړه**: که څوک اضافه سورلۍ لري نو پر هغه چا دې پرې احسان وکړي چې

سورلۍ نه لري، او که څوک اضافه توښه لري نو پر هغه چا دې پرې صدقه وکړي چې توښه نه لري، چې څومره يې ياد ول هغومره يې ماليتونه ياد کړل تر دې چې زمونږ يقين راغی چې په اضافه شيانو کې مونږ بيخي حق نه لرو.

د اسلامي شريعت بله ګټه او لوړ اخلاق دا دي چې مسلمان بايد د خپل مسلمان ورور عزت او ابرو، نفس او مال د توان په اندازه خوندي وساتي، تيری او ظلم ترې دفع کړي، د خپل استطاعت په مقدار بايد ورڅخه دفاع وکړي، له ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مجلس کې يو چا د چا بد وويل، بل سړی يې د بد وځواب وکړ نو نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «**مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ رَدَّ اللهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**». [جامع الترمذي: ۱۹۳۱]

**ژباړه**: څوک چې د خپل ورور له عزت او ابرو څخه دفاع وکړي نو د قيامت په ورځ به يې الله له مخ څخه اور واړوي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې انسان ته په دومره صدقه امر کوي چې د بخل او اسراف ترمنځ وي، الله پاک فرمايي:

﴿وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا﴾ [سورت اسراء: ۲۹]

**ژباړه**: خپل لاس غاړې ته مه تړه او نه يې هم ډېر مه خلاصوه، ورنه ملامت او تش لاس به کېنې.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا﴾ [سورت فرقان: ٦٧]

**ژباړه**: او (**عبادالرحمن**) هغه څوک دي چې کله خرچ او خيرات کوي نو نه خو اسراف کوي او نه بخل کوي، بلکې د دې په منځ کې وي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د صبر په درېواړو ډولونو امر کوي، تر هغه د الله په اطاعت صبر چې په سمه توګه يې ادا کړي، د الله له معصيت څخه صبر تر دې چې بيخي يې پرېږدي، د الله په دردونکو پرېکړو (تقدير) باندې صبر کول.

د اسلامي دين بله ګڼه دا ده چې په کمزرو باندې د عطف او مهربانۍ، په ناداره خلکو باندې د شفقت، په يتيمانانو باندې د ترحم، له غلامانو، وينځو او خادمانو سره د احسان امر کوي، له دوی ښځه ستونزې ستړې پورته کول، له دوی سره نېکه رويه کول، لائقه ناسته پاسته ورسره کول، له دوی سره ټوکې ټکالې کول او اړخ ورته نرمول ټول په اسلام کې مامورات دي، الله پاک خپل پيغمبر ته وايي:

﴿وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ [سورت شعراء: ۲۱۵]

ژباړه: او خپل اړخ دې هغو مومنانو بندګانو ته ټيټ کړه چې ستا فرمانبرداري کوي.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥ﴾ [سورت کهف: ۲۸]

ژباړه: له هغو خلکو سره ځان رابند کړه چې خپل رب د هغه د رضا په خاطر سهار او ماښام راغواړي.

او فرمايي:

﴿فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ۝٩ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ﴾ [سورت ضحی: ۹ – ۱۰]

ژباړه: يتيم ته قهر او غصه مه کوه او ټولګر بيخي مه رټه.

او فرمايي:

﴿أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ۝١ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ۝٢ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ﴾ [سورت ماعون: ۱ – ۳]

ژباړه: ايا ته هغه څوک پېژنې چې د قيامت ورځ تکذيبوي، همدغه کس دی چې يتيم ته دېکې ورکوي او مسکينانو ته په خوراک هيڅ تيزي نه ورکوي.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡعَقَبَةُ ۝١٢ فَكُّ رَقَبَةٍ ۝١٣ أَوۡ إِطۡعَٰمٞ فِي يَوۡمٖ ذِي مَسۡغَبَةٖ ۝١٤ يَتِيمٗا ذَا مَقۡرَبَةٍ ۝١٥ أَوۡ مِسۡكِينٗا ذَا مَتۡرَبَةٖ﴾ [سورت بلد: ۱۲–۱۶]

ژباړه: او تا ته څه معلومات دي غونډې (له اور څخه نجات) څه شی دی؟ د څټ ازادول دي، او يا د ولږې په ورځ ناداره ته خوراک ورکول دي، يا خپلوان يتيم ته

خوراک ورکول دي، او یا هغه مسکین ته خوراک ورکول دي چې له خاورو پورې نښتی وي (یعنې هېڅ شی نه لري بې له خاورو)

او الله پاک فرمايي:

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ۝١ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ۝٢ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ﴾ [سورت عبس: ١ – ٣]

**ژباړه**: مخ یې ګونځې کړ او مخ یې ورڅخه واړو، کله چې ورته نابینا راغی، شاید دا له ګناهونو ځان پاکوي.

# اوم فصل

د اسلامي دين بله ګټه او فايده دا ده چې په رحمت، شفقت او مهربانۍ باندې امر کوي، له قسوت، غلظت او شدت نه په کلکو الفاظو انسان رابندوي، تر دې چې له حيوان سره هم ناسمه د غلظت رويه غندي، له عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ، فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ، لاَ هِيَ أَطْعَمَتْهَا وَلاَ سَقَتْهَا، إِذْ حَبَسَتْهَا، وَلاَ هِيَ تَرَكَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ**». [صحيح البخاري: ٣٤٨٢، صحيح مسلم: ٢٢٤٢]

**ژباړه:** د پېشو باره کې يوه ښځه په اور عذاب شوه چې له ځان سره يې بنديوانه کړې وه تر دې چې بند کې مړه شوه نو اور ته پکې ننوته، چې کله يې په بند کړه نو نه يې ورته خوراک ورکړو او نه څښاک او نه يې پرېښوده چې د ځمکې حشرات وخوري.

بخاري او مسلم او نورو محدثينو مرفوعاً روايت کړي دي: «**دَنَا رَجُلٌ إِلَى بِئْرٍ فَنَزَلَ فَشَرِبَ مِنْهَا وَعَلَى الْبِئْرِ كَلْبٌ يَلْهَثُ فَرَحِمَهُ فَنَزَعَ إِحْدَى خُفَّيْهِ فَغَرَفَ لَهُ فَسَقَاهُ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ فأدخله الجنة**». [صحيح ابن حبان: ٥٤٣]

**ژباړه:** يو سړی څاه ته نزدې ورښکته شو او اوبه يې ورڅخه وڅښلې، د کوهي پر غاړه سپی هم و رحم يې پرې راغی يوه موزه يې وويسته او اوبه يې پکې راوويستې او سپي يې خړوب کړ، الله يې عمل قبول کړ او جنت ته يې داخل کړ.

او مسلم او نور محدثين روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پر يو خر تېر شو چې داغونه پرې لګېدلې ول نو ويې فرمايل: «**لَعَنَ اللهُ الَّذِي وَسَمَهُ**». [صحيح مسلم: ٢١١٧]

**ژباړه:** الله دې پر هغه چا لعنت وکړي چې پر دې خر يې داغونه لګولي دي.

**شعر:**

**أَنَــا الْعَبْــدُ الذِي كَسَــبَ الذُّنُوبَا *** وَصَدَّتْــهُ الأَمَــانِي أَنْ يَتُوبَــا**

زه هغه بنده يم چې ګناهونه يې کړي دي او ارزوګانو يې له توبې بند کړی دی

**أَنَــا الْعَبْــدُ الذِي سُــطِرَتْ عَلَيْــهِ *** صَحَائِــفُ لَمْ يَخَــفْ فِيهَــا الرَّقِيبَا**

زه هغه بنده يم چې د ګناهونو کتابونه يې ليکل شوي دي او په ځان ګمارل شوي ملائکو نه يې هيڅ نه دی ډاريدلی

**أَنَــا الْعَبْــدُ الْمُسِيءُ عَصَيْــتُ سِرّاً *** فَمَــا لِي الآنَ لا أُبْــدِي التَّحِيبَــا**

زه هغه بنده يم چې پټ ګناهونه مې کړي دي اوسمهال ولې په خپلو ګناهونو ژړا ونه کړم؟

**أَنَــا العَبْدُ المفــرِّطُ ضَــاعَ عُمْرِي *** فَلَــمْ أَرْعَ الشَّــبِيْبَةَ وَ المَشِــيْبَا**

زه هغه کوتاه بنده يم چې خپله زندګي مې ضايع کړې ده، د ضياع په جريان کې مې د بوډاوالي خيال هم نه دی ساتلی

**أَنَــا الْعَبْــدُ الْغَرِيــقُ بِلُــجِّ بَحْــرٍ *** أَصِيــحُ لَرُبَّمَــا أَلْــقَى مُجِيبَــا**

زه هغه بنده يم چې بحر ځپو لاهو کړی يم او نارې وهم له اواز اوريدونکي سره به لا کله مخامخ کېږم!!

**أَنَــا الْعَبْدُ السَّــقِيمُ مِــنَ الْخَطَايَا *** وَقَــدْ أَقْبَلْــتُ التَمِــسُ الطِّبِيبَــا**

زه د ګناهونو او سرغړونو له کبله پر ځان رنځور شوی يم، په مخه يم او د ډاکټر پلټنه کوم.

**أَنَــا الْعَبْــدُ الْمُخَلَّفُ عَــنْ أُنَاسٍ *** حَــوَوْا مِــنْ كُلِّ مَعْــرُوفٍ نَصِيبَــا**

زه هغه بنده يم چې له هغو خلکو پس پاتې يم چې له هر ډول ښو کارونو څخه يې خپلې برخې اخستې دي.

**أَنَا العَبْــدُ الشَّرِيــدُ ظَلَمْتُ نَفْسِي *** وَقَــدْ وَافَيْــتُ بَابَكُــمْ مُنِيبَــا**

زه هغه شړل شوی انسان یم چې له ځان سره مې ظلم کړی دی، او ستاسو پر دروازه په داسې حالت کې ولاړ یم چې له ګناهونو رجوع کونکی یم.

**أَنَـا الْعَبْــدُ الْفَقِــيرُ مَــدَدْتُ كَفِّي *** إِلَيْكُــمْ فَادْفَعُــوا عَــنِّي الْخُطُوبَا**

زه بې وسه بنده یم او د لاس دواړه ورغوي مې تاسو ته دراوږده کړي چې راپېښې ستونزې راڅخه واړوئ.

**أَنَـا الْغَدَّارُ كَــمْ عَاهَــدْتُ عَهْداً *** وَكُنْــتَ عَلَى الْوَفَــاءِ بِــهِ كَذُوبَــا**

زه ډېر دوکه باز انسان یم چې څومره بلا وعدې مې ماتې کړې دي، او هر مهال به خپل لوظ کې دروغژن وم.

**أَنَـا الْمَقْطُــوعُ فَارْحَمْــنِي وَصِلْنِي *** وَيَــسِّر مِنْــكَ لِي فَرَجــاً قَرِيبَــا**

له ما سره خلکو خپلولي پالل پرېښې دي، پر ما ورحمېږه او پر خلکو مې وپاله، او له دې تنګې نه راته ډېره نږدې پراخي راوله.

**أَنَـا الْمُضْطَــرُّ أَرْجُو مِنْــكَ عَفْواً *** وَمَــنْ يَرْجُــو رِضَــاكَ فَلَــنْ يَخِيبَا**

زه ډېرې اړتیا اخستلی بنده یم او له تا څخه ستا کرم غواړم، او ستا عفوه چې څوک غواړي هېڅکله به له زیان سره مخ نه شي.

**فَيَــا أَسَــفِي عَلَى عُمْــرٍ تَقَــضّي *** وَلَــمْ أَكْسِــبْ بِــهِ إِلا الذُّنُوبَــا**

های په هغې زندګۍ بلا افسوسونه چې راڅخه تېره شوه او ما پکې له ګناه پرته نور هېڅ نه دي کړي.

**وَأَحْــذَرُ أَنْ يُعَاجِلُــنِي مَمَــاتٌ *** يُحَــيِّرُ هَــوْلُ مَصْرَعِــهِ اللَّبِيبَــا**

په دې ډار نېولی یم چې هغه مرګ به مې راته زر راشي چې له هیبت څخه یې دانا او عاقل له هوشه وځي.

**وَيَــا حُزْنَــاهُ مِنْ حَــشْرِي وَنَشْرِي *** بِيَــوْمٍ يَجْعَــلِ الْــوِلْدَانَ شِــيبَا**

زما د هغه حشر او نشر پر ورځ ډېر خفګان په کار دی چې له هیبت او ډار څخه به یې ماشومان سپینږیري شي.

تَفَطَّـرَتْ السَّـمَاءُ بِـهِ وَمَـارَتْ *** وَأَصْبَحَـتِ الْجِبَـالُ بِـهِ كَثِيبَـا

په دغه ورځ به اسمان دوه پړقه شي او خوځښت کې به راشي، او غرونه به هم د شګو ډېرکۍ شي.

إِذَا مَـا قُمْـتُ حَيْرَانـاً ظَمِيئـاً *** حَسِـيرَ الطَّـرْفِ عُرْيَانـاً سَـلِيبَا

پر دغه ورځ به زه هک پک تږی جل نیولی راپورته شم، د سترګو په دید به ستړی او لوڅ لغړ به یم

وَيَـا خَجْلاهُ مِـنْ قُبْحِ اكْتِسَـابِي *** إِذَا مَـا أَبْـدَتْ الصُّحُـفُ الْعُيُوبَا

له خپلو بدو کړو وړو له کبله به مې څومره د شرم ورځ وي چې کله عمل نامې پکې عیبونه رابرسېره کوي.

وَذِلَّـةُ مَوْقِـفٍ وَحِسَـابِ عَـدْلٍ *** أَكُـونُ بِـهِ عَلَى نَفْـسِي حَسِـيبَا

داسې ورځ چې ښېې به کې خوېږي او حساب به هم د عدل وي، له ماسره به په خپل ځان حساب کېدای شي.

وَيَـا حَـذْرَاهُ مِـنْ نَـارٍ تَلَظَّـى *** إِذَا زَفَـرَتْ وَأَقْلَقَـتِ الْقُلُوبَـا

له غومبرو اور څخه څومره ډار ورځ ده چې غومبرې به په اوازونو راشي او زړونه به هم ډار ونیسي.

تَـكَادُ إِذَا بَـدَتْ تَنْشَـقُّ غَيْظـاً *** عَلَى مَـنْ كَانَ ظَلامـاً مُرِيبَـا

نزدې ده چې غومبره شوی اور هر ظالم او شکمن انسان باندې له ډېرې غصې له امله د راښکاره کېدو سره وچوي.

فَيَا مَـنْ مَـدَّ فِي كَسْـبِ الْخَطَايَا *** خُطَـاهُ أَمَـا يَـأْنِي لَـكَ أَنْ تَتُوبَا

ای انسانه چې په سرغړونو کې مخکې تللی يې! ايا وخت نه دی راغلی چې نور له ګناهونو توبه اوباسې؟

أَلا فَاقْلِـعْ وَتُـبْ وَاجْهَـدْ فَإِنَّـا *** رَأَيْنَـا كُلَّ مُجْتَهِـدٍ مُصِيبَـا

نور له ګناهونو پوره راوګرځه او توبه کړه او په نېکو عملونو کې بوخت اوسه، مونږ ته معلومات شته چې په نېکو کارونو بوخت انسان په سمه روان دی.

**وَأَقْبِلْ صَادِقاً فِي الْعَزْمِ وَاقْصُدْ *** جَنَاباً لِلْمُنِيبِ لَهُ رَحِيبَا**

په خپل عزم کې رښتونی راشه او هغه اړخ دې موخه ونیسه چې له توبه ګار لپاره ډېر پراخه دی.

**وَكُنْ لِلصَّالِحِينَ أَخاً وَخِلا *** وَكُنْ فِي هَذِهِ الدُّنْيَا غَرِيبَا**

د هر نېک انسان ورور او دوست جوړ شه او په دنیا کې د مسافر په څېر شه.

**وَكُنْ عَنْ كُلِّ فَاحِشَةٍ جَبَاناً *** وَكُنْ فِي الْخَيْرِ مِقْدَاماً نَجِيبَا**

له هرې بدکارۍ څخه بوزدیله جوړ شه او په کار خیر کې تر هر چا لومړی او چوست چالاکه جوړه شه.

**وَلاحِظْ زِينَةَ الدُّنْيَا بِبُغْضٍ *** تَكُنْ عَبْداً إِلى الْمَوْلَى حَبِيبَا**

د دنیا زیب او زینت ته په ډېره سپکه وګوره نو الله رب کائنات ته به محبوب بنده جوړ شې.

**فَمَنْ يَخْبُرْ زَخَارِفَهَا يَجِدْهَا *** مُخَالِبَةً لِطَالِبِهَا خَلُوبَا**

که څوک د دنیا سینګار اړوند غږېږي نو وبه یې ګوري چې دنیا غوښتونکی به يې په خپلو پنجو کې ښکار کړی وي.

**وَغُضَّ عَنِ الْمَحَارِمِ مِنْكَ طَرْفاً *** طَمُوحاً يَفْتِنُ الرَّجُلَ الأَرِيبَا**

له ګردو محرماتو څخه دې سترګې ټيټې ونیسه داسې محارم چې عاقل او دانا انسان هم په فتنه کې اچوي.

**فَخَائِنَةُ الْعُيُونِ كَأُسْدِ غَابٍ *** إِذَا مَا أَهْمَلْتَ وَثَبْتَ وُثُوبَا**

د سترګو غلاڅن لکه د ځنګلي ځناور زمری دی، چې کله ترې لږ ناخبره شې نو (ښکار) ته په ټوپونو ور روان يي.

وَمَنْ يَغْضُضْ فُضُولَ الطَّرَفِ عَنْهَا *** يَجِـدْ فِي قَلْبِـهِ رُوحـاً وَطِيبَـا

څوک چې د سترګو اضافي کتل راښکته کړي نو په خپل زړه کې به خوږې شيبې او ښه ژوند وګوري.

وَلا تُطْلِـقْ لِسَـانَكَ فِي كَلامٍ *** يَجُـرُّ عَلَيْـكَ أَحْقَـاداً وَحُوبَـا

په خبرو کې دې ژبه مه بې مهاره کوه چې تا ته د خلکو حسدونه او ظلم راکاږي.

وَلا يَـبْرَحْ لِسَـانُكَ كُلَّ وَقْـتٍ *** بِذِكْـرِ اللهِ رَيَّانـاً رَطِيبَـا

هر مهال بايد ستا ژبه د الله په ذکر او ياد باندې خړوب او لونده وي.

وَصَـلِّ إِذَا الدُّجَى أَرْخَى سُـدُولاً *** وَلا تَضْجَـرْ بِـهِ وَتَكُـنْ هَيُوبَـا

کله چې تورتمونه پردې راوځړوي نو ته پکې لمونځونه شروع کړه، ځان ورته مه تنګوه او په خشيت کې اوسه.

تَجِـدْ أُنْسـاً إِذَا أُودِعْـتَ قَـبْراً *** وَفَارَقْـتَ الْمَعَـاشِرُ وَالنَّسِـيبَا

چې کله قبر کې کېښودل شې او له خپلو خپلوانو او نسبيانو څخه جلا شې نو هلته له اُنس څخه به برخوردراه شې

وَصُـمْ مَـا تَسْـتَطِيعُ تَجِـدْهُ رِيّـاً *** إِذَا مَـا قُمْـتَ ظَمْآنـاً سَـغِيبَا

او چې څومره دې توان وې روژې ونيسه، همدا روژې به هله خړوبونکي اوبه وګورې چې له قبر څخه تږی او جل نيولی راپورته شې.

وَكُـنْ مُتَصَدِّقـاً سِرّاً وَجَهْـراً *** وَلا تَبْخَـلْ وَكُـنْ سَـمْحاً وَهُوبَا

په ښکاره او پټه باندې خيرات کونکی جوړ شه، بخل مه کوه او د ورکړې او ډالۍ ورکونکی جوړه شه.

تَجِـدْ مَـا قَدَّمَتْـهُ يَـدَاكَ ظِـلا *** إِذَا مَـا اشْـتَدَّ بِالنَّـاسِ الْكُرُوبَـا

ستا د لاسونو صدقه به هلته سيوری ووينې چې پر خلکو باندې مشقتونه او ستونزې سختې او ګنې شي.

**وَكُـنْ حَسَـنِ السَّـجَايَا وَذَا حَيَاءٍ *** طَلِيـقَ الْوَجْـهِ لاشَكْسـاً غَضُوبَا**

د ښو اخلاقو څښتن او حيا ناک انسان جوړ شه چې خندا دې پر مخ وي، نه بد اخلاقه او تل غصه او قهر نېولی وي.

ای الله! ستا له سرغړونو څخه راته د نجات توفيق را کړه، هغه کارونه چې تا رضا کوي ته يې مونږ ته ښوونه وکړې، ای الله زمونږ باداره! ستا له عذاب او شرمندګۍ نه راته پناه راکړه، ای الله! ټول هغه څه راته ډالۍ کړې چې ته يې خپلو وليانو او محبوبو بندګانو ته ورکوې، په دنيا کې راته د نېکو اعمالو توفيق او په اخرت کې راته جنت راکړه او د اور له عذاب څخه مو وساته، مونږ ته، زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته په خپل رحم باندې د ګناهونو بخشش وکړه. ای الله! په محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه په کورنۍ او ټولو صحابه کرامو باندې رحم وکړه.



# اتم فصل

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې د حکمت په مراعات کولو امر کوي، معنا دا چې مونږ هر انسان ته هغه مرتبه او مکانت ورکړو چې ورسره مناسب وي، د هغه د کرامت او شعور ته پاملرنه وکړو او ورته لایق منزلت ورکړو.

له عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «**أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ**». [سنن ابي داود: ٤٨٤٢]

**ژباړه:** ټولو خلکو ته خپلې خپلې مرتبې ورکړئ.

دا ډول له عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چې هغه په سفر روانه وه، یو ځای کې یې پړاو واچو او خپل خوراک یې کو، یو ناداره ټولګر راغی عائشې رضي الله عنها ورته وویل: دې مسکین ته د ډوډۍ ټیکلې ورکړئ، بیا بل څوک په اس سپور روان نو وېویل: د خوارو لپاره ورته دعوت ورکړئ، چا ورته وویل: ولې دې ناداره ته د ټیکلې په ورکولو امر وکړ او مالداره بدا دې خوراک ته دعوت کړ؟ هغې ورته وویل: الله پاک هر چا ته خپلې خپلې مرتبې ورکړې دي ضرور ده چې مونږ هم ورته دغه مرتبې ورکړو، همدغه مسکین و چې د ډوډۍ په یو ټیکلې یې ګوزاره وکړه او پرې خوشحاله شو، خو که د ډوډۍ ټیکلې دې همدې بډا ته ورکړی و نو له شان سره یې نه ښائیدل، پر عائشې رضي الله عنها خو دې الله ډېر ورحمېږي چې څومره ښایسته جواب یې ورکړی دی، په ډېر حکمت او عالي ذوق، په نېکو اخلاقو او روا رویه او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پسې په پوره اقتداء دلالت کوي.

له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی چې خپل یو کور ته ننوت، ځیني ملګري یې هم ورسره ننوتل تر دې چې د ناستې ځای ډک شو، په دې لړ کې جریر بن عبدالله بجلي رضي الله عنه راغی د ځای د نه شتون له کبله په دروازه کې کېناست، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل څادر راتاو کړ او هغه ته

يې ورکړ چې پرې کيني، او ورته يې وويل چې په دې ټکړ کېنه، جرير رضي الله عنه ټکړ واخست په خپل مخ يې کېښود ټکړ به يې ښکلو او ژړل به يې په دې خاطر چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له ښې رويې څخه متاثره شو، بېرته يې ټکړ راغونډ کړ او نبي صلی الله عليه وسلم ته يې ورکړاو شکريه يې هم ورله ادا کړه، او دا يې هم ورته وويل: الله دې ستا دومره قدر او احترام وکړي لکه زما چې دې وکړ، زه کله هم ستا په ټکړ نه کېنم، نبي کريم صلی الله عليه وسلم ښي او کيڼ اړخ ته وکتل بيا يې وويل: «**إِذَا أَتَاكُمْ كَرِيمُ قَوْمٍ فَأَكْرِمُوهُ**». [المعجم الأوسط: ٥٢٦١]

**ژباړه:** کله چې درته د کوم قوم مشر راشي نو عزت يې وکړئ.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دې حسن صحبت ته وګوره چې د جرير رضي الله عنه د شعور خيال يې وساته او د هغه قدر او احترام يې وکړ، بيا دې ته ځېر شه چې جرير رضي الله عنه يې له کريم تعامل او ښو اخلاقو څخه څومره متاثره شو!

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د ښځو لپاره يې په خاوندانو داسې حقوق واجب کړي دي لکه خاوندان يې چې په خپلو ښځو لري، لکه ښه صحبت، هغې ته تکليف نه ورکول، خو په خلقت او منزلت کې، د خبرو په منلو کې، په انفاق او د مهر په ورکولو کې، د ښځې د ژوند اړتياو په پور کولو کې، د دنيا او اخرت په فضيلتونو کې الله پاک سړيو ته په ښځو فضيلت ورکړی دی.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د جاهليت په دوران کې به عربانو ښځه د پلار يا خاوند له ميراث څخه يوه برخه ګڼله، ځوی به د خپل پلا کونډه په ميراث کې اخستله، هېره دې نه وي چې د اسلام له راتګ وړاندې به عربانو ښځې د جبر او زور له مخې په ميراث کې اخستلې، وارث به راغی او د پلار په ښځه به يې ټکړ ګوزار کړ بيا به يې غږ کړ چې دا مې د نور ميراث په څېر هم په ميراث کې يوړه، که به يې خوښه وه له مهر پرته به يې په نکاح کړه او که به يې خوښه شوه بل ته به يې په نکاح ورکړه او مهر به يې ترې ځان ته تسليم کړ، او يا به يې پرې په دې خاطر نکاح حرامه کړه ترڅو ميراث ورڅخه يوسي، نو اسلامي شريعت دغه استبداد او ظلم له منځه يوړ، الله پاک فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرۡهٗا﴾ [سورت نساء: ١٩]

**ژباړه:** اې هغو خلکو چې ايمان مو راوړی دی ستاسو لپاره روا نه دي چې ښځې د جبر زور له مخې په ميراث کې واخلئ.

دا ډول به د جاهليت په دور کې عربانو ښځې له نکاحونو څخه هم منعه کولې، ځوی به د پلار کونډه په دې خاطر له نکاح څخه رابندوله چې هغه ميراث په ولقه کې ولري چې د ده له پلار څخه يې په ميراث کې وړی دی، پلار به لور له نکاح څخه په دې خاطر بنده ساتله چې ټول ملکيت يې په ميراث کې واخلي، او کله به سړي ښځې ته طلاق ورکړ او له نکاح به يې بنده ساتلې وه ترڅو د خپلې مرضۍ سره سم ترې ماليت تر لاسه کړي، کينه ګر خاوند به له خپلې ښځې سره روا رويه نه کوله، هغه به يې تنګوله او طلاق به يې هم نه ورکو ترڅو بېرته ورته هغه مهر ورکړي چې له ده يې اخستی و، د اسلام له راتګ نه وړاندې به عربانو په ښځو دغه ډول ظلمونه کول او ناروا تصرف به يې پکې کو، الله پاک فرمايي:

﴿وَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ لِتَذۡهَبُواْ بِبَعۡضِ مَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ﴾ [سورت نساء: ١٩]

**ژباړه:** او ښځې په دې مه ستومانه کوئ چې بېرته ترې ځينې هغه څه واخلئ چې تاسو ورته ورکړي دي.

عربانو به د اسلام نه وړاندې له ښځو سره په نفقه، پوښاک او په ژوند ژواک کې انصاف نه کو، اسلامي دين ورسره په روا تعامل امر وکړ، الله پاک فرمايي:

﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ﴾ [سورت نساء: ١٩]

**ژباړه:** او له دوی (ښځو) سره په ښه توګه ژوند وکړئ.

او الله فرمايي:

﴿فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تَعۡدِلُواْ فَوَٰحِدَةً﴾ [سورت نساء: ٣]

**ژباړه:** که له دې وېرار شئ چې عدل به ونه کړئ نو يوه ښځه په نکاح واخلئ.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَإِنۡ أَرَدتُّمُ ٱسۡتِبۡدَالَ زَوۡجٖ مَّكَانَ زَوۡجٖ وَءَاتَيۡتُمۡ إِحۡدَىٰهُنَّ قِنطَارٗا فَلَا تَأۡخُذُواْ مِنۡهُ شَيۡـًٔاۚ أَتَأۡخُذُونَهُۥ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا﴾ [سورت نساء: ٢٠]

**ژباړه**: که د يوې ښځې پر ځای مو بله راوستله او مخکنۍ ښځې ته مو په مهر کې ډېر مال ورکړی وي نو هېڅ شی ترې هم بېرته مه اخلئ، ايا تاسو دروغ او افتراء او ښکاره ګناه اخلئ؟

او په ديني اړخ کې يې قران وايي:

﴿ مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ [سورت نحل: ۹۷]

**ژباړه**: کوم نارينه يا زنانه چې په داسې حالت کې نېک عمل وکړي چې مومن وي نو هرومرو به ورته په دنيا کې د سعادت او ډاډ زندګي ورکړو او په اخرت کې به ورته د هغو عملونو په بدل کې چې دوی به کول ډېر ښه بدله ورکړو.

د ښځې د اهليت او ملکيت اړوند بيا قران وايي:

﴿لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴾ [سورت نساء: ۷]

**ژباړه**: د نارينه و لپاره له مال څخه معلومه برخه ده چې مور پلار او يا خپلو خپلوانو پرېښی وي، او د زنانه و لپار هم له مال څخه معلومه برخه ده چې مور پلار او يا خپلو خپلوانو پرېښی وي، کمه وي او که ډېره وي خو فرض او معلومه شوې برخه ده.

او فرمايي:

﴿لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبُوا۟ ۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبْنَ﴾ [سورت نساء: ۳۲]

**ژباړه**: د نارينو لپاره د هغه عمل په مقدار جزاء ده چې دوی کړی وي او زنانه و لپاره هم د هغه عمل په مقدار بدله ده چې دوی کړی وي..

د اسلام همدومره ګټې بسنه کوي چې ښځې ته يې ديني او ملکيت او د کار او کسب مساوات ورکړ، د نکاح په باب کې د ده ټول ضمانات قابل باور ګرځولي دي، په نکاح کې يې له اهمال او اکراه پرته د ښځې اجازه او د هغې رضا بنسټي نقطه بللې ده، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**لَا تُنْكَحُ الثَّيِّبُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلَا الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ، وَإِذْنُهَا الصُّمُوتُ**». [سنن ابن ماجه: ۱۸۷۱]

**ژباړه**: د ثيبې سره به په نکاح کې مشوره کيږي او له باکرې څخه به اجازت غوښتلی شی او اجازت يې خاموشي ده.

او د ښځې په مهر کې بيا الله پاک وايي:

﴿فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً﴾ [سورت نساء: ٢٤]

**ژباړه**: او ښځو ته مهرونه ورکړئ چې په تاسو يې مهرونه فرض دي.

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې عربانو د اسلام له راتګ وړاندې خپلې لوڼې ژوندې ښخولې ترڅو له ځان څخه شرم دفع کړي، تر هغه به پلار په خپلې لور خاورې اړولې چې ژوندۍ به يې ښخه کړه او مړه به شوه، اسلامي شريعت راغی او د لورګانو وژل او په خاور کې ژوندۍ ننويستل يې په غوڅو الفاظو حرام کړل او د ژوند حق يې ورته ورکړ، په دې سره اسلام له ښځو سره ډېر انصاف کړی دی او د هغې انساني حقوق يې خوندي ساتلي دي او ژوند ته يې ورله ځانګړې کتنه کړې ده.

ای الله! مونږ ته غم او درد نه پناه راکړه، له کمزورۍ او سستۍ نه راته پناه راکړه، له بوزديلۍ او بخل نه راته پناه راکړه، د پور او د خلکو له غلبې راته نجات راکړه، پر ما دښمنان مه خوشحالوه او ما ته او زما مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته په خپل رحم باندې ګناهونه وبښه ای د ډېر رحم او مهربانۍ ذاته، ای الله! په محمد صلی الله عليه وسلم او کورنۍ او په ټول ملګرو يې رحم وکړه.



# نهم فصل

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې کهانت یې باطل او حرام ګڼلی دی، پر مارغانو بدپالي، قمار بازي، پر غشو تقسیم، غوږ بوچې حیوان، بوتانو ته ډالۍ شوی حیوان، وصیله او حامي حیواناتو عبادتونه یې په سخت شدت سره تحریم کړل.

همدا راز اسلامي شریعت (رمي البعره) هم حرام کړې ده، رمي البعره به داسې وه چې په جاهلیت کې به د کومې ښځې خاوند ومړ، زړې خیمې ته به ننوته او خپل بدترین پوښاک به یې واچو، هېڅ ډول خوشبوي به یې نه لګوله همداسې به پرې یو کال تېر شو، یو کال وروسته به ورته په لومړي ځل خر او یا بل کوم مارغه یا ګډه بزه راوستل شوه، چې ښځګه به ورسره ولګېده نو کله ناکله به هغه حیوان مړ هم شو، بیا به ورته پچه ورکړل شوه او پچه به یې ګوزار کړه، له دې وروسته به خپلې زندګۍ ته ستنه شوه.

بل ناکاره عادت پکې د فقر او فاقت له مخې د بچیانو مړه کول هم ول، یو سړي به خپل ځوی او بچیان په دې خاطر مړه کول چې هسې نه خوراک ورسره وکړي، له دې څخه هم الله پاک خلک رامنع کړل، الله پاک فرمایي:

﴿ وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلْطَٰنًا فَلَا يُسْرِف فِّي ٱلْقَتْلِ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا ﴾ [سورت اسراء: ۳۳]

**ژباړه:** له شرعي حق پرته هېڅ نفس چې وژل یې الله حرام کړې دي مه وژنئ، که د مظلومیت په حالت کې څوک ووژل شي نو مونږ یې وارث او حاکم ته واک ورکړی دی چې قصاصا پرې قاتل ووژني او یا ترې دیت واخلي، خو د بدل په قتل کې به وارث له اسراف څخه کار نه اخلي د مقتول د وارثونو مرستندوی الله دی.

د اسلامي دین بله ګټه دا ده چې له کافرانو، بدپرستانو او مشرکینو څخه یې پاک ښایسته مسلمانان، نېکان، متقیان زاهدان او پرهېزګار جوړ کړل، له الله څخه

ډاريږي او د هغه الله عبادت کوي چې هېڅ شريک نه لري، د حق مرستندويان وي او د الله د رضا په خاطر د هېڅ چا له ملامتيا څخه خوف او ترس نه لري، داسې خلک يې ترې جوړ کړل چې:

﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ [سورت حشر: ۹]

**ژباړه**: پر ځانونو نور غوره کوي که څه يې هم خپله حاجت او فقر وي.

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې غدر او دوکه يې حرامه کړې ده، الله پاک فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوْفُواْ بِٱلْعُقُودِ﴾ [سورت مائده: ۱]

**ژباړه**: اى هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دی په عقدونو (وعدو) باندې پوره والی وکړئ.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَأَوْفُواْ بِٱلْعَهْدِۖ إِنَّ ٱلْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔولًا﴾ [سورت اسراء: ۳٤]

**ژباړه**: په لوظونو باندې وفاء وکړئ ځکه دلوظونو باره کې تپوس کيدی شي.

او له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه روايت دی چې هغه فرمايي: «**لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يُقَالُ: هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانٍ**». [صحيح مسلم: ۱۷۳٦]

**ژباړه**: د قيامت په ورځ به د هر دوکه باز لپاره بيرغ وي، ويل کيږي به چې دا د فلانکي غدر او دوکه ده.

او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، - وَعَدَّ مِنْهَا - وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ**». [صحيح البخاري: ۳٤]

ژباړ: څلور خصلتونه دي چې په چا کې شته شي نو خالص منافق به وي، يو يې دا شمېر کړ: او کله چې وعده کوي نو غدر کوي.

او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**قَالَ اللهُ تَعَالَى: ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ، رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ**». [صحيح البخاري: ۲۲۷۰]

ژباړه: الله فرمايي: درې ډوله کسان دې چې د قيامت په ورځ به ورسره زه جګړه کوم، يو هغه سړی چې زما په نوم څه واخلي او بيا دوکه وکړي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې کار او کسب ته، د رزق ګټلو ته، د سستی پرېښودو ته، له ضرورت پرته له چا نه سوال نه کولو باندې انسان ته تيزي ورکوي، اسلامي شريعت د کار کسب او زيار دين دی، په چا کې چې کسالت، سستي او عجز وي دين هم نه لري، اسلامي شريعت انساني عزت او کرامت خوندي ساتي، الله پاک فرمايي:

﴿وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ﴾ [سورت توبه: ١٠٥]

ژباړه: ورته ووايه چې عملونه کوئ، الله پاک او بيا د هغه رسول مو ويني.

او الله پاک فرمايي:

﴿ وَأَن لَّيۡسَ لِلۡإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ٣٩ وَأَنَّ سَعۡيَهُۥ سَوۡفَ يُرَىٰ ﴾ [سورت نجم: ٣٩ – ٤٠]

ژباړه: او د انسان لپاره د هغه له سعي او عمل پرته نور څه نشته، او د انسان د عمل نتيجه به هرومرو وليدل شي.

اسلامي دين په دې انسان تيزوي چې ديني او دنيوي دواړه عملونه له پامه ونه غورځوي، الله پاک فرمايي:

﴿وَٱبۡتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنۡيَا﴾ [رت قصص: ٧٧]

ژباړه: ټول هر څه چې الله درکړي نو اخرت پکې ولټوه او د دنيا برخه دې هم ترې مه هېروه.

او الله پاک فرمايي:

﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ ﴾ [سورت جمعه: ١٠]

ژباړه: او کله چې لمونځ ترپايه ورسيږي نو بيا په ځمکه کې خواره واره شئ او د الله له فضل او احسان څخه پلټنه وکړئ.

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې په خوراک او څښاک کې ميانه روی باندې امر کوي، الله پاک فرمايي:

﴿وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ وَلَا تُسْرِفُوٓا۟ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ﴾ [سورت اعراف: ٣١]

**ژباړه:** او خوراک او څښاک وکړئ او اسراف مه کوئ الله له اسراف کونکو سره مینه نه لري.

او د مقداد بن معدیکرب رضي الله عنه په روایت نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ، حَسْبُ الْآدَمِيِّ، لُقَيْمَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ، فَإِنْ غَلَبَتِ الْآدَمِيَّ نَفْسُهُ، فَثُلُثٌ لِلطَّعَامِ، وَثُلُثٌ لِلشَّرَابِ، وَثُلُثٌ لِلنَّفَسِ**». [سنن ابن ماجه: ٣٣٤٩، جامع الترمذي: ٢٣٨٠]

**ژباړه:** انسان د خپلې خیټې په څېر بل لوښی له شر نه نه ډکوي، د بنده لپاره یو څو نوړۍ بسنه کوي چې ملا یې پرې قوي وي، که په بنده خپل ځان غالبه وي نو د خیټې دریمه برخه یې د خوراک، دریمه یې د څښاک او دریمه یې د ساه لپاره.

د اسلامي دین بله ګټه دا ده چې په حقوقو کې له تاخیر نه منعه کوي، الله پاک فرمايي:

﴿وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ﴾ [سورت بقره: ٢٨٠]

**ژباړه:** او که پور وړی تنګدسته و نو تر هغه ورته انتظار وکړئ چې اساني پرې راشي.

او له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**كَانَ تَاجِرٌ يُدَايِنُ النَّاسَ، فَإِذَا رَأَى مُعْسِرًا قَالَ لِفِتْيَانِهِ: تَجَاوَزُوا عَنْهُ، لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنَّا، فَتَجَاوَزَ اللهُ عَنْه**». [صحیح البخاري: ٢٠٧٨]

**ژباړه:** یو سوداګر به له خلکو سره په پور معاملات کول، که به یې تنګدسته ولید خپلو مزدورانو ته به یې ویل: پور ورته معاف کړئ کیدای شي الله زمونږ له ګناهونو څخه تجاوز وکړي، نو الله یې له ګناهونو څخه تجاوز وکړ.

او نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا كَانَ لَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ**». [سنن ابن ماجه: ٢٤١٨]

**ژباړه:** څوک چې تنګدسته ته انتظار اوباسي -نو چې څومره ورځې یې ورته انتظار کړی وی- هره ورځ به ورله صدقه وشمېرل شي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې له رشوت څخه انسان رابندوي، له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی: «**لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالمُرْتَشِيَ فِي الحُكْمِ**». [جامع الترمذي: ١٣٣٦]

**ژباړه:** رسول الله صلى الله عليه وسلم فيصلو کې په رشوت اخستونکي او ورکونکي لعنت ويلي دی.

او له ثوبان رضي الله عنه نه روايت دي: «**لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ وَالرَّائِشَ يَعْنِي: الَّذِي يَمْشِي بَيْنَهُمَا**». [مسند احمد: ٢٢٣٩٩]

**ژباړه:** رسول الله صلى الله عليه وسلم په رشوت خور، رشوت ورکونکي او د رشوت لپاره تلونکي راتلونکي باندې لعنت ويلی دی.


د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې په عقد کې د پښېمانه انسان له کبله د عقد په فسخ کولو تيزي ورکوي، ځکه په دې کې له نادم سره احسان او نيکي ده، نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا أَقَالَهُ اللهُ عَثْرَتَه**». [سنن ابي داود: ٣٤٦٠]

**ژباړه:** څوک چې د مسلمان بيع ختمه کړي الله به يې ګناهونه ختم کړي.

او په بل روايت کې راځي: «**مَنْ أَقَالَ نَادِمًا بَيْعَتَهُ، أَقَالَ اللهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**». [صحيح ابن حبان: ٥٠٢٩]

**ژباړه:** څوک چې له پښېمان څخه بيع ختمه کړي د قيامت په ورځ به يې الله ګناهونه ختم کړي.

ای الله! په محمد صلى الله عليه وسلم او کورنۍ او په ټول ملګرو يې رحم وکړه.



# لسم فصل

د اسلامي دين بله ګڼه دا ده چې اسلام د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د نبي صلی الله علیه وسلم لپاره، د مسلمانانو د چارو مسؤلینو او عامو مسلمانانو لپاره نصیحت دی، دین د الله لپاره په دې نصیحت دی چې په هغه ایمان لرل، شریک ورسرنه نه جوړول، د هغه په نومونو، صفتونو کې کږلیچ نه کول او د کمال په صفتونو یې توصیفول چې له هر ډول عیب او نقصان نه پاک وي، د هغه امر منل او له نواهیو نه یې ځان ساتل، د هغه فرمانبردار بندګانو سره مینه او له اوامرو څخه یې سرغړونکو سره نفرت او حسد لرل او داسې نور...

نو په دې معنا دین الله لپاره نصیحت دی.

د کتاب لپاره یې په دې ډول نصیحت دی چې په قران ایمان لرل چې د الله کلام دی، نازل شوی دی او مخلوق نه دی، حلال یې حلال او حرام یې حرام ګڼل، ارشادات یې په عمل کې راوستل او په معناګانو کې یې له غور څخه کار اخستل، د قران حقوق ادا کول او پندونه یې منل، له زواجرو یې عبرت اخستل او داسې نور...

د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره دین په دې معنا نصیحت دی چې په هر څه کې هغه تصدیقول، له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه لرل، په ژوندینه او مړینه د هغه احترام کول، د هغه سنتونه پېژندل او د خلکو ترمنځ نشرول او بیا پرې عمل کول، د هېڅ مخلوق قول - که هر څوک وي - د نبي صلی الله علیه وسلم په قول نه مخکې کول او داسې نور...

د مسلمانانو د چارو مسؤلینو لپاره په دې معنا نصیحت دی چې د حق په دائره کې خبرو ته غاړه کېښودل او پر حق ورته توصیه کول، د خلکو له اړتیاو یې خبرول، په نرمه لهجه د عدل پربنسټ هغوی ته نصیحت کول، په مشری یې

يقين كول او خبرې يې منل په دې شرط چې د الله عصيان پكې نه وي، خلك يې د خبرو منلو ته دعوت كول او د توان په اندازه ورته نصيحت كول، خلك د هغوى په ګټو او تكليف دواړو خبرول او د چارو مسؤلينو د واجباتو ادا كولو ته يې دعوت كول او داسې نور...

د عامو مسلمانانو لپاره دين په دې معنا نصيحت دى چې عام مسلمانان دنيوي او اخروي ګټو ته بېدارول، په سترو ستونزو يې نه اخته كول او ورته ديني تعليمات وركول، په نېكيو ورته امر كول او له بدو څخه يې رابندول، د عامو مسلمانانو لپاره هغه څه خوښ ګڼل چې څوک يې له ځان لپاره خوښ بولي، او د هغوى لپاره هغه څه ناپسند ګڼل چې د ځان لپاره يې ناپسند بولي، او د خير په دې كارونو كې تر توان پورې خپلې هلې ځلې كول...

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د خپلولۍ نه پاللو نه سخته منعه كوي، الله پاك فرمايي:

﴿فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ﴾ [سورت محمد: ٢٢]

**ژباړه:** ايا دې ته نزدې شوي ياست چې له ايمان څخه مخ واړوئ او په ځمكه كې ورانكاري وكړئ او خپلولي هم ورسره وشكوئ؟

او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُولُ مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ الله، وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ الله**». [صحيح مسلم: ٢٥٥٥]

**ژباړه:** خپلولي له عرش پورې نښتي ده او وايي: الله دې هغه څوک وپالي چې ما پالي او هغه څوک دې الله غوڅ غوڅ كړي چې ما غوڅوي.

او امام طبراني د عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه په روايت نقلوي چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**إن الملائكة لا تنزل على قوم فيهم قاطع رحم**». [ضعيف الجامع الصغير و زيادته: ١٧٩١، الباني ورته موضوع ويلي دي]

**ژباړه:** په كوم قوم كې چې خپلولي شكونكى وي نو ملائك ورته نه راښكته كيږي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې په دين كې تشدد په سختو الفاظو باندې غندي،

له حلالو او پاکيزه شيانو څخه ځان ساتل حرام بولي، ځکه اسلام د اسانۍ او سهولت او اعتدال دين دی، له انس رضي الله عنه نه روايت دی: «**جَاءَ ثَلاَثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا، فَقَالُوا: وَأَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ، قَالَ أَحَدُهُمْ: أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا، وَقَالَ آخَرُ: أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلاَ أُفْطِرُ، وَقَالَ آخَرُ: أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلاَ أَتَزَوَّجُ أَبَدًا، فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ، فَقَالَ: «أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا، أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ للهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ، لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ، وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ، وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي**»». [صحيح البخاري: ٥٠٦٣]

ژباړه: د رسول الله صلی الله عليه وسلم ځينو بي بيانو ته درې خلک راغلل او د هغه د عبادت متعلق يې ترې وپوښتل: چې ورته خبر ورکړل شو نو ډېر کم يې وګڼل نو خپل منځ کې يې وويل: مونږ چرته نبي صلی الله عليه وسلم ته رسېدلی شو؟ هغه ته خو الله پاک مخکني او وروستني ټول ګناهونه بخښلي دي، يو پکې وويل: زه به د تل لپاره ټوله شپه لمونځ کوم او خوب به نه کوم، بل وويل: زه به هميشه روژه نيسم او نه به بوزه کېږم، بل وويل: زه به له ښځو څخه جلا شم او د تل لپاره به نکاح ونه کړم، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم راغی ورته يې وويل: ايا فلانکی فلانکی خبرې تاسو کړي دي؟ قسم په الله چې زه په تاسو کې له الله څخه ډېر ډارېږم، خو زه روژه هم نيسم او بوزه کېږمه هم، لمونځ هم کوم او خوب هم او له ښځو سره نکاح هم کوم څوک چې زما له سنتو نه رغبت لري له ما څخه نه دي.

## د اسلامي دين په غربت کې په زړه پورې قصيده:

**أَقُــولُ وَأَوْلَى مَــا يُــرَى فِي الدَّفَاتُـرِ *** وَأَحْسَــنُ فَيْضاً مِنْ عُيُــونِ الْمَحَابِرِ**

زه وايم چې په عمل نامو کې چې له خوشحاله سترګو نه هم ډېر ښايسته ښکاري هغه.

**هُوَ الْحَمْــدُ لِلْمَعْبُودِ وَالشُّــكْرُ وَالثَّنَاء *** تَقَــدَّسَ عَــنْ قَوْلِ الْغُــوَاةِ الْغَــوَادِرِ**

هغه دالله ثنا ده چې حق معبود دی، چې د ګردو ګمراهانو له ناپاکو عقېدو څخه پاک دی.

وَجَلَّ عَنِ الأَنْدَادِ لا رَبَّ غَيْرُهُ *** وَعَنْ شَافِعٍ فِي الابْتِدَا أَوْ مُوَازِرِ

هغه له شريکانو غني او له هغه پرته بل معبود نشته، د نړۍ د پيدايښت په پيل کې يې هيڅ مرستندويه ته هم حاجت نه و.

وَصَلَّى عَلَى مَنْ قَامَ للهِ دَاعِياً *** وَشَيَّدَ أَعْلامَ الْهُدَى وَالشَّعَائِرِ

پر هغه چا دې د الله رحمتونه وي چې د هغه د رضا لپاره داعي راپورته شو او د هدايت او شعائرو تنابونه يې پياوړي کړل.

وَأَوْضَحَ دِيْنَ اللهِ مِنْ بَعْدِ مَا سَفَتْ *** عَلَيْهِ الْسَّوَافِيْ فِيْ القُرَى وَ الجَزَائِرِ

د الله پاک دين يې هله راښکاره کړ چې طوفانونو يې په کليو او ښارونو کې اثر ختم کړی و.

وَعَادَى وَوَالَى فِيْ رِضَى اللهِ قَوْمَهُ *** وَلَمْ يُثْنِهِ عَنْ ذَاكَ صَوْلَةَ قَاهِرِ

د اسلام پر سره يې له خپلو قومونو سره دوستي او دښمني وکړه، له دې څخه د چا زور او غصې او يرغل راستانه نه کړل.

مُحَمَّدٍ المَبْعُوثُ لِلنَّاسِ رَحْمَةٌ *** نِذَارَتُهُ مَقْرُوْنَةٌ بِالبَشَائِرِ

محمد صلى الله عليه وسلم د ټول انسانيت لپاره رحمت دی او ډار ورکول يې له زيري سره يو ځای دي.

وَبَعْدُ فَإِنْ تَعْجَبْ لِخَطْبٍ تَبَلْبَلَتْ *** لِفَادِحَةِ أَهْلِ النُّهَى وَالبَصَائِرِ

که ته دې ته حيران يې چې د ژوند چارې ولې په اضطراب کې راغلې چې د بصيرت څښتن يې په حيرانتيا کې واچو نو...

فَلاَ عَجَباً يَوْمٌ مِنَ الدَّهْرِ مِثْلَ مَا *** أَنَاخَ بِنَا مِنْ كُلِّ بَادٍ وَ حَاضِرِ

دا د حيرانتيا خبره ځکه نه ده چې يو وخت به پر مونږ له هر باندهچي او ښاري له پلوه دغه ډول سترې ستونزې راتلې.

وَمَا ذَاكَ إِلاَّ غُرْبَةُ الدِّيْنِ يَا لَهَا *** مُصِيْبَةُ قَوْمٍ مِنْ عِظَامِ الفَوَاقِرِ

دا په دې خاطر چې دين پر خلکو نااشنا لګېده، های په دې قوم چې څومره لوی ملا ماتونکي مصيبتونه پرې راغلي ول!

تَـرَى أَهْلَـهُ مُسْـتَضْعَفِينَ أَذِلَّـةً *** فَمَـا بَـيْنَ طَعَّـانٍ عَلَيْهِـمْ وَنَافِـرِ

دغه مهال د دين پېروکار بې وسه او خلکو به سپکول، چا به ورته سپورې ستغې ويلې او چا به ترې نفرتونه کول.

وَمُسْـتَهْزِءٍ مِنْهُـمْ فَيُنْغِـضُ رَأْسَـهُ *** وَيَرْمُونَهُـمْ شَزْرَ الْعُيُـونِ التَّـوَاضِرِ

چا به ترې سر ښکته يو او ملندې به يې پرې وهلې، او ترخنګ به يې ورته په قهرجنو سترګو ورکتل.

وَعَادَاهُـمُ مَنْ يَـدَّعِي الْعِلْـمَ وَالْحِجَى *** وَكُلُّ خَلِيـلٍ أَوْ قَرِيـبٍ مُصَاهِـرِ

د علم او عقليت دعوې ترخنګ به يې ورسره خپلو خپلوانو او سخرګنی هم د اسلام پر سر دښمني کوله.

فَمَا شِـئْتَ مِنْ شَـتْمٍ وَقَـذْفٍ وَغِيبَةٍ *** وَتَنْقِيصُهِـم فِي كُلِّ نَـادٍ لِفَاجِـرِ

هر فاجر او فاسق به په خپلو مجلسونو کې ورته سپورې ستغې، قذف اوبهتان، غيبت او بدي به يې ورله کوله.

وَأَكْـبَرُ مِـنْ هَـذَا وَأَعْظَـمُ فِرْيَـةٍ *** مَـوَالاَةُ أَهْلِ الـشِّركِ مِـنْ كُلِّ كَافِرِ

له دې هم غټه خبره او ستره د ګناه کار دا دی چې څوک له مشرکانو او کافرانو سره مينه وپالي

وَأَكْـبَرُ مِـنْ هَـذَا وَأَعْظَـمُ فِرْيَـةٍ *** مَـوَالاَةُ أَهْلِ الـشِّركِ مِـنْ كُلِّ كَافِرِ

له دې ګناه سره يې سترګې يخې او خوشحاله وي، څوک خپل کارونه په پټه کوي او څوک پرې جهر کوي

وَأَعْيُنُهُـمْ فِي فِعْـلِ ذَاكَ قَرِيـرَةٌ *** فَمِـنْ صَامِـتٍ فِي فِعْلِـهِ أَوْ مُجَاهِـرِ

که په ګناه يې څوک انکار وکړي او بد ورته وګوري او افراطي ورته وايي او نزدې ده چې د منبرونو پر سر يې هم وشرموي.

**وَمَـنْ قَـامَ بِالإِنْـكَارِ فَهُوَ مُشَـدِّدٌ *** يَـكَادُونَ أَنْ يُبْـدُوهُ فَـوْقَ الْمَنَابِرِ**

که په ګناه يې څوک انکار وکړي او بد ورته وګوري او افراطي ورته وايي او نږدې ده چې د منبرونو پر سر يې هم وشرموي.

**فَإِنْ يَحْكُموا بِالسَّوْطِ ضَرْباً فَإِنْ يَكُنْ *** رُجُـوعٌ وَإِلا بِالظُّبَـا وَالْخَنَاجِـرِ**

او تر هغه يې په قمچينو وهي چې يا خو بېرته رجوع وکړي ورنه په چړو برچو يې هم وهلو ته تيار وي.

**وَأَصْبَـحَ ذُو الإِيمَـانِ فِيهِـمْ كَقَابِضٍ *** عَلَى الْجَمْـرِ أَوْ فِي الْجَنْبِ صَلي الْمَجَامِرِ**

ترمنځ يې د ايماندار شتون داسې دی لکه په لاس کې چې څوک سکروټه ونيسي اويا له سکروټو ډک نغري ترڅنګ سوځي.

**وَإِخْوَانُـه الـنُّزَّاعُ فِي كُلِّ قَرْيَـةٍ *** لَدَى أَهْلِهَـا فِي ذُلِّهِـمْ كَالأَصَاغِـرِ**

ورونه يې په هر کلي او چم کې د خپلوانو له پلوه تعذيبيږي او د ذلت له مخې يې ترمنځ ډېر ذليل شمېرل کيږي.

**وَمَـا زَادَهُـمْ إِلا ثَبَاتـاً مَـعَ الرِّضَى *** بِقَلْـبٍ سَـلِيمٍ لِلْمُهَيْمِـنِ شَـاكِرِ**

د دې برسېره مظلوم مسلمانان په ډېرې خوشحالۍ او سليم زړه پر دغه حالت سرښندنه کوي او د نګهبان ذات شکر اوباسي.

**فَأَكْـرِمْ بِهِمْ مِـنْ عُصْبَةِ الْحَـقِّ إِنَّهُمْ *** لِحِفْـظِ نُصُـوصِ الدِّينِ أَهْـلُ تَنَاصِرِ**

د ديني نصوصو د تحفظ په خاطر دغه ډله د څومره ډېر عزت ښښتنه ده! چې د حق مرسته کوي.

**إِذَا مَـا بَـدَا نَـصُّ الْكِتَـابِ وَسُـنَّةٍ *** تَنَـادَوا عِبَـادَ اللهِ هَـلْ مِـنْ مُثَابِرِ**

چې قراني ايت يا نبوي سنت ورته راڅرګند شي نو يو بل باندې غږ کړي چې ای د الله بندګانو! په تاسو کې څوک د دوامدار عمل ښښتن نشته؟

**وَعَضُّـوا عَلَيْهَـا بِالنَّوَاجِـذِ فَاهْتَدُوا *** وَمَـا رَغِبُوا عَنْهَـا لِحِـرْصِ الْخَوَاطِرِ**

پر قراني ايت او نبوي سنتو باندې د ژامې غاښونه ښخ کړي او هدايت پرې ومومي، او اتکلونه يې ورځخه نه شي راړولی

عَلَيْـكَ بِهَاتَيْـكَ الصِّفَاتِ مُنَافِسـاً *** فَللـهِ مَـا أَسْـنَا سَـنَاهَا لِسَـائِرِ

پر تا لازم دي چې دغو صفتونو کې له منافسې څخه کار واخلې، الله دې د هغه چا مل شي چې د پرقينده لارې په سر روان دی.

هُـمْ الْقَـوْمُ لا يَثْنِيهُمْ عَـنْ مُرَادِهِمْ *** مَلامَـةُ لُـوَّامٍ وَخُـذْلانُ نَـاصِرِ

دوی (مسلمانان) داسې خلک دي چې د ملامتګر يا مرستندويه مرسته يې له خپلو موخو څخه نه رابندوي.

بِنَفْـسِي فَـتَى مَـا زَالَ يَـدْأَبُ دَائِماً *** إِلى رَبِّـهِ أَكْـرِمْ بِـهِ مِـنْ مُهَاجِـرِ

له هغه ځوان نه مې ځان قربان چې تل خپل رب ته په کوښښ وروان وي او دغه څومره قدرمند مهاجر انسان دی.

مُكِبّـاً عَلَى أَيِ الْكِتَـابِ وَدَرْسِـهِ *** بِقَلْـبٍ حَزِينٍ عِنْـدَ تِلْـكَ الزَّوَاجِرِ

د قرانکريم ايتونو او زواجرو درس ته په ډېر ژړغوني زړه باندې په پوره توجه سره ناست وي.

فَيَـا لَيْتَـنِي أَلْقَـاهُ يَوْمـاً لَعَلَّـهُ *** يُخَـبِّرُنِي عَمَّـا حَـوَى فِي الضَّمَائِـرِ

های کاشکې زه هم ورسره يوه ورځ ملاقات وکړم او له هغه څه مې خبر کړي چې په زړونو کې پټ او پناه پاتې دي.

وَنَرْفَـعُ أَيْدِينَـا إِلى اللهِ بِـالدُّعَا *** لِيَنْـصُرَ دِينَ الْمُصْطَـفَى ذِي الْمَفَاخِرِ

مونږ هم الله پاک ته د نبي صلی الله عليه وسلم ډېرو وياړونو والا دين د نصرت په خاطر لاسونه لپه کوو

وَيَنْـصُرَ أَحْـزَابَ الشَّرِيعَـةِ وَالْهُدَى *** وَيَقْمَـعَ أَهْـلَ الزَّيْـغِ مِـنْ كُلِّ فَاجِرِ

او دا دعا کو چې د اسلامي شريعت ډلې مرسته وکړي او د ضلالت او فجور د ښتنانو جرړې راوباسي.

فَـآهٍ عَلَى تَفْرِيـقِ شَـمْلٍ فَهَـلْ لِمَـا *** مَـضَى عَـوْدَةٌ نَحْـوَ السِّـنِينِ الْغَوَابِرِ

د مسلمانانو په تيت او پرک ډېر افسوس، ايا د تېرو کلونو (د اتحاد او اتفاق) په خېر کلونو ته به بيا ستانه نه شو؟

عَـسَى نَـصْرَةٌ لِلدِّيـنِ تَجْمَعُ شَـمْلَنَا *** تَقَـرُّ بِهَـا مِمَّـا تَـرَى عَـيْنُ نَاظِـرِ

نږدې ده چې د دين مرسته مو سره خپل منځ کې بېرته راټول کړي چې هره ليدونکې سترګه پرې يخه شي.

فَيَرْتَـاحُ أَهْـلُ الدِّيـنِ فِيهَـا أَعِـزَّةً *** وَأَعْـدَاؤُهُ تَحْـتَ الْقَنَـا وَالْحَوَافِـرِ

ديندار‌ه خلک به پکې ډېر معزز او راحت په ژوند کې وي او د دين دښمنان به پکې د نېزو او اسونو خپو له لاندې وي.

وَأَخْتِـمُ نَظْـمِي بِالصَّـلاةِ مُسَـلِّماً *** مَدَى الدَّهْرِ مَا نَاضَـتْ بُرُوقُ الْمَوَاطِرِ

زه خپل نظم په داسې حالت کې پای ته رسوم چې د ټولې زمانې په اندازه چې ترکومه بريښناګانې او بارانونه وي سلام او درودونه وايم په...

عَلَى أَحْمَـدٍ وَالآلِ وَالصَّحْـبِ الذِي *** لَهُـمْ تَابِـعٌ يَسْـعَى بِفِعْـلِ الأَوَامِـرِ

په محمد صلی الله علیه وسلم باندې او د هغه په هغو ملګرو باندې چې يې پېروکار ول او په نېکو کارونو کې تونداو چابکه ول.

ای الله! دنيا مو لويه موخه مه ګرځوه او مه يې زمونږ د علم غايه ګرځوه، او مه اور زمونږ ټيکانه ګرځوه، زمونږ د ګناهونو په سبب پر مونږ داسې چارواکي مه راوله چې زمونږ اړوند له تا څخه ډار نه لري او نه راباندې رحم کوي، مونږ ته او زمونږ مور او پلار ته او ټولو مسلمانانو ته په خپل ځانګړي رحم باندې بخښش وکړه ای رحيم او مهربان ذاته.

ای الله! په محمد صلی الله علیه وسلم او کورنۍ او په ټول ملګرو يې رحم وکړه.

# يوولسم فصل

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې ګرد خير او سعادت او امر بالمعروف او نهي عن المنکرته د دعوت ترغيب ورکوي، له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى، كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ، كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا**». [صحيح مسلم: ٢٦٧٤]

ژباړه: چا چې نېک عمل ته دعوت ورکړ نو د ده لپاره د پېروکارو د عمل په اندازه اجر او ثواب وي او د پېروکارو له اجر نه به بيخي هېڅ نه کمېږي، او څوک چې ګناهونو ته دعوت ورکړي نو د ده به د ګناهګارانو د عمل په اندازه ګناه کيږي چې د ګناهګارانو له ګناه نه به هېڅ شی نه کمېږي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده د ژوند له فرصت څخه فايده او اخرت کې ورته ګټه رسونکو عمل کولو ته هڅونه کوي، له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ: صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ**». [صحيح مسلم: ٢٦٨٢]

ژباړه: کله چې انسان مړ شي له دريو شيانو پرته يې نور عمل هم قطع او غوڅ شي: دوامداره صدقه، ګټور علم چې فايده ترې اخستل شي، نېک او صالح ځوی چې دعاګانې ورته کوي.

او الله پاک هم فرمايي::

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ﴾ [سورت حشر: ١٨]

ژباړه: ای هغو خلکو چې ايمان مو راوړی دی له الله څخه وډار شئ او دې ته دې يو نفس وګوري چې د سبا ورځې لپاره يې څه (تيار) کړي دي، له الله څخه وډار شئ په يقين سره چې الله پاک ستاسو په عملونو باندې اګاه دی.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې انسان پر الله باندې وجوبي باور او اعتماد ته دعوت کوي، دې ته يې دعوت کوي چې پر هغه ايمان ولري او نېک عملونه وکړي، نه په هغه چا باور ولري چې الله ته د نزدې مخلوق سره اړيکې لري، له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې ايت له نزول سره پورته شو:

﴿ وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ ﴾ [سورت شعراء: ٢١٤]

**ژباړه:** او خپل نزدې خپل او خپلوان له الله څخه وډاروه.

پورته شو او وېويل: «**يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ -أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا- اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ، لاَ أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا، يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لاَ أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا، يَا عَبَّاسُ بْنَ عَبْدِ المُطَّلِبِ لاَ أُغْنِي عَنْكَ مِنَ اللهِ شَيْئًا، وَيَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ اللهِ لاَ أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللهِ شَيْئًا، وَيَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَلِينِي مَا شِئْتِ مِنْ مَالِي لاَ أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللهِ شَيْئًا**». [صحيح البخاري: ٢٧٥٣]

**ژباړه:** اى قريشو -يا دېته نزدې بله کلمه يې استعمال کړه- ځانونه وپېرئ، د الله پاک له اړخ نه درڅخه هېڅ نه شم دفع کولى، اى بنوعبدمناف! د الله پاک له اړخ نه درڅخه هېڅ نه شم دفع کولى، اى عباس بن عبدالمطلب! د الله پاک له اړخ نه درڅخه هېڅ نه شم دفع کولى، اى صفيې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ترورې! د الله پاک له اړخ نه درڅخه زه هېڅ نه شم دفع کولى، اى فاطمې د محمد صلى الله عليه وسلم لورې! زما په ماليت کې چې دې څومره خوښه وي رانه يې وغواړه خو د الله پاک له اړخ نه درڅخه زه هېڅ نه شم دفع کولى.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د خپل نفس په اصلاح باندې امر کوي ترڅو د الله د اوامرو په ادا ځان ملزَم وبولي او له نواهيو څخه يې ځان رابند کړي، په نيکو به امر کوي او له نواهيو څخه به ځان ژغوري، په دې باب ډېرى ايتونه او نبوي حديثونه غړېدلي دي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې انسان د تل لپاره خپل رب سره په اړيکه کې ساتي، خوا که د رب لورينې پرې راورېږي او که له سختو سترو سره مشت او ګريوان وي، نبى صلى الله عليه وسلم فرمايي: «**عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ، إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ، وَلَيْسَ ذَاكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ، إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ، فَكَانَ خَيْرًا لَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ، صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ**». [صحيح مسلم: ٢٩٩٩]

**ژباړه**: د مومن شان ته خوشحالي په کار ده، د هغه ټولې چارې خير او ګټه ده، له مومن پرته بل هېڅوک دغه حالت نه لري، که ورته خير ورسيږي شکر پرې اوباسي نو د ده لپاره د خير خبره ده، او که ورته تکليف ورسيږي نو صبر پرې وکړي نو هم ورله د خير خبره ده.

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې انسان په دې تيزوي چې ځان او ټولنه سمه دمه کړي، خير ته يې دعوت کوي او په دې يې پوهوي چې څنګه بايد خپل عقلونه ازاد کړي او د ضلالت له کړو ژورو يې څنګه سالم وساتي، او خپل ځان څنګه بايد د الله په وحدانيت او عبادت وپالي، اسلام ورته توضيحوي چې څنګه بايد دوی ځانونه له زنګونو پاک صفا کړي او په ورځ کې پنځه وخته څنګه بايد خپلو روحو ته په لمونځ باندې غذا ورکړي، اسلام ورته بيانوي چې څنګه بايد انسان خپل ماليت او شتمني د الله د حقونو په ادا سره تصفيه کړي، او څنګه به انسانيت وکولی شي چې سالمه کورنۍ ودانه کړي چې د ټولنې د پرمختګ لپاره اساس او بنسټ دی، ولې نه، په خپلولۍ يې کولی شي، د قريبانو د حقوقو په معرفت يې کولی شي او په دې باندې ايتونه او حديثونه په کافي انداز غربيدلي دي، له ابو ايوب انصاري رضي الله عنه روايت دی: «**أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الجَنَّةَ، قَالَ: مَا لَهُ مَا لَهُ. وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرَبٌ مَا لَهُ، تَعْبُدُ اللهَ وَلاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ**». [صحيح البخاري: ١٣٩٦]

**ژباړه**: يو سړی نبي صلی الله عليه وسلم ته راغی ورته يې وويل: ما ته داسې عمل وښايه چې جنت ته مې داخل کړي، چا وويل؟ دا څه مجبور کړ؟ نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ولې د څه اړوند پوښتنه لري؟ د الله عبادت کوه او هېڅ شی ورسره مه شريکوه، لمونځ کوه او زکاتورکوه او خپلولي پاله.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د علم او پوهې باوجود په باطله توګه جنګ جګړې غندي، هغه ډول شفاعت هم غندي چې د الله د حدودو تنفيذ تعطيلوي، په مسلمان کې داسې څه ويل چې په هغه کې نه وي هم حرام بولي، د اسلام له پاکو سپيڅلو موخو څخه يوه موخه دا هم ده چې د عدالت او ترحم په غښتلو بنسټونو انساني ټولنه ودانوي، د مينې او الفت او د ګټورې مرستې په فضاء کې به

د روح غړی مشري کوي، د کمزورتيا له ګردو لاملونو به سالمه ټولنه وي، له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: «**مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ، فَقَدْ ضَادَّ اللهَ، وَمَنْ خَاصَمَ فِي بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ، لَمْ يَزَلْ فِي سَخَطِ اللهِ حَتَّى يَنْزِعَ عَنْهُ، وَمَنْ قَالَ فِي مُؤْمِنٍ مَا لَيْسَ فِيهِ أَسْكَنَهُ اللهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ**». [سنن ابي داود: ۳۵۹۷]

**ژباړه**: د الله د حدودو تنفيذ کې چې د چا شفاعت واقع شي نو له الله سره يې په حکم کې مخالفت وکړ، او څوک چې په باطل جنګ جګړې کوي او ښه ورته پته وي چې په ناحقه دی نو تر هغه به د الله په غضب او غصه کې وي چې بېرته ترې وتلی نه وي، او څوک چې په مسلمان کې داسې څه ووايي چې ورپکې نه وي الله پاک به يې د جهنم په ختو او چقړو کې ووسوي، تر دې چې له خپلو خبرو بېرته ستون شي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د دروغو ګواهي حرامه بولي، ځکه چې په دې کې ډېری او بلا شمېر ستونزې او نورو مسلمانانو ته تکليف دی، په دې سره انسان خپل دين د بل چا په دنيا پلوري، د کوم چا په حق کې چې ګواهي کوي هم ورسره بد کوي ځکه له هغه سره يې په ظلم او استبداد کې مرسته وکړه، او له هغه چا سره هم بده رويه ده چې ګواهي ورباندې کوي، ځکه چې حق يې ورله له منځه يوړ، او له قاضي سره په دې بد کوي چې په خپلې خولورۍ يې له حق څخه ګمراه کړ، د دروغو په ګواهۍ يې له امت سره بد دا دي چې د هر چا حقوق يې په تزلزل کې واچول او ډاډ او اطمينان يې له هر چا څخه واخست.

د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې د جاهليت د دور ټول کړه وړه يې حرام وبلل، لکه طعن في الانساب او په مړي باندې په نارو سور ژړل، له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**اثْنَتَانِ فِي النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ: الطَّعْنُ فِي النَّسَبِ وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ**». [صحيح مسلم: ٦٧]

**ژباړه**: په خلکو کې دوه شيان د کفر دي: په نسب کې عيب لګول او په مړو باندې په نارو سورو ژړل.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د مخونو له وهلو او د غم او درد په مهال د جامو او کاليو شکولو نه يې منعه کړې ده، له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت

دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَطَمَ الخُدُودَ، وَشَقَّ الجُيُوبَ، وَدَعَا بِدَعْوَى الجَاهِلِيَّةِ**». [صحيح البخاري: ١٢٩٤، صحيح مسلم: ١٠٣]

**ژباړه**: له مونږ څخه هغه څوک نه دی چې مخونه وهي او کالي څيري، او د جاهليت په څېر د هلاکت چغې نارې وهي.


د اسلامي شريعت بله ګټه دا ده چې پر اضافه اوبو بانديز ولګه اچول او يا يې مسافرو ته نه ورکول په سختو الفاظو تحريم کړي دي، له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**ثَلَاثٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ، وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ: رَجُلٌ عَلَى فَضْلِ مَاءٍ بِالْفَلَاةِ يَمْنَعُهُ مِنَ ابْنِ السَّبِيلِ**». [صحيح مسلم: ١٠٨]

**ژباړه**: درې ډوله خلک دي چې د قيامت په ورځ به ورسره الله بيخي خبرې ونه کړي او نه به ورته د رحمت په نظر وګوري، نه به يې له عذاب څخه پاک کړي او برسېره پر دې به ورته دردناک عذاب هم ورکړي، يو هغه څوک دی چې په دښته ميره کې يې اضافه اوبه له مسافر نه بندې کړې وي.

په بل روايت کې لا دا هم راځي: «**وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ فَيَقُولُ اللهُ: الْيَوْمَ أَمْنَعُكَ فَضْلِي كَمَا مَنَعْتَ فَضْلَ مَا لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ**». [صحيح البخاري: ٢٣٦٩]

**ژباړه**: او بل هغه سړی دی چې اضافه اوبه يې منعه کړې وي الله به ورته ووايي: نن درڅخه خپل احسان داسې رابندوم لکه تا چې هغه اوبه رابندې کړې وې چې لاسونو دې نه وې پيدا کړې.

ای الله زمونږ زړونه د ايمان په رڼا باندې روښانه کړه او مونږ د سمې لارې ښونکي او موندونکي وګرځوه، له خپلو نېکانو بندګانو سره مو يو ځای کړه چې نه پرې ډار او نه پرې ترس شته، مونږ ته، زمونږ مور اوپلار او ټولو مسلمانانو ته په خپل ځانګړي رحم د ګناهونو بخښش وکړه، ای الله! په محمد صلی الله عليه وسلم او کورنۍ او په ټول ملګرو يې رحم وکړه.



# دولسم فصل

د اسلامي دین بله ګټه دا ده چې د یو پر بل په نفس، مال، عزت او ابرو او عقل باندې تېرې ناروا بولي، او د تېرې هر ډول ته یې مناسبه سزا ایښې ده، لکه قصاص، حد.

اسلامي اخلاق لکه صدق، امانت، وفا او عفت د اسلام له نظره نه یواځې دا چې کمالي امور دي لکه ځینې خلک چې یې اټکلوي، بلکې واجبات یې بولي او ډېر حرص پرې کوي، که څوک یې له دائرې څخه ووځي ورته یادوي چې که توبه ونه باسي نو په اخرت کې به ترې هرومرو بدله اخستلې شي، له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ؟ قَالُوا**: **الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ، فَقَالَ**: **إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ، وَصِيَامٍ، وَزَكَاةٍ، وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا، وَقَذَفَ هَذَا، وَأَكَلَ مَالَ هَذَا، وَسَفَكَ دَمَ هَذَا، وَضَرَبَ هَذَا، فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ**». [صحیح مسلم: ۲۵۸۱]

ژباړه: ایا تاسو خبر یاست چې مفلس څوک دی؟ هغوی وویل: مونږ کې مفلس هغه دی چې درهم او ساز او سامان ونه لري، هغه وویل: زما به امت کې مفلس هغه دی چې د قیامت په ورځ به لمونځ، روژه، او زکات راوړي، ده ته به یې سپورې ستغې ویلي وي، او په ده به یې بهتان پورې کړی وي، او د ده به یې مال خوړلی وي، او د ده به یې وینه توی کړې وي او دا به یې ډبولی وي، ده ته به یې حسنات ورکړل شي او ده ته هم، که یې حسنات وړاندې له دې ختم شي چې حقوق ترې پوره نه وي اخستل شوي نو د مظلومانو ګناهونه به راواخستل شي او پر ده به واچول شي او بیا به په اور کې ګوزار کړی شي.

د اسلامي دین بله ګټه دا ده چې مسلمان په دې هڅوي چې ښه ژوند یې دا دی چې پاک زبانه وي او د هیڅ چا په غیبت نه وي ښکېل، نه غیبت کوي او نه

نميمت، نه سپورې ستغې وايي او نه په مسلمان تور پورې کوي، نه پرې لعنت وايي او نه ورپورې تهوکې ملنډې کوي، نه پرې افتراء تړي او نه دروغ، له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «**مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ**». [صحيح البخاري: ٦٠١٨]

**ژباړه**: د چا چې په الله او اخرت په ورځ ايمان وي نو يا دې د خير خبرې وکړي او يا دې خاموش پاتې شي.

او فرمايلي: «**فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ، عَلَيْكُمْ حَرَامٌ**». [صحيح البخاري: ١٠٥]

**ژباړه**: په يقين سره چې ستاسو وينې، ستاسو شتمني او ابروګانې مو پر يو بل حرامې دي.

د اسلامي دين بله ګڼه دا ده چې انسان د خپل واجب په ادا راتيزوي، له دې څخه يې منعه کوي چې له خپل اهل او وروڼو څخه، له خپلو خپلوانو او قريبانو څخه، له خپلو دوستانو او ګاونډيانو څخه دې نېکې مشورې احتکار کړي، يا له نورو هغو چا نه خپلې مشورې راونيسي چې د خپلولۍ يو ډول اړيکې ورسره لري، دې توجيهاتو ته يې وسيله بايد په حق او حقانيت باندې يو بل ته توصيه کول وي، يو بل ته بايد تهول په صبر او حوصلې، په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې توصيه وکړي.

د اسلام بله ګڼه دا ده چې په حيا باندې امر کوي، چې هم د هر خير او فضيلت بنسټ دی او هم له هر ډول شر څخه د انسان د ژغورنې ستر لامل دی، خو د هغه چا لپاره چې الله ورته توفيق ور په برخه کړی وي، له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «**اسْتَحْيُوا مِنَ اللهِ حَقَّ الحَيَاءِ. قَالَ**: **قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا نَسْتَحْيِي وَالحَمْدُ للهِ، قَالَ**: **لَيْسَ ذَاكَ، وَلَكِنَّ الِاسْتِحْيَاءَ مِنَ اللهِ حَقَّ الحَيَاءِ أَنْ تَحْفَظَ الرَّأْسَ وَمَا وَعَى، وَالبَطْنَ وَمَا حَوَى، وَلْتَذْكُرِ المَوْتَ وَالبِلَى، وَمَنْ أَرَادَ الآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الدُّنْيَا، فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ اسْتَحْيَا مِنَ اللهِ حَقَّ الحَيَاءِ**». [جامع الترمذي: ٢٤٥٨]

**ژباړه**: له الله څخه په حقه توګه حيا وکړئ، مونږ وويل: د الله رسوله! مونږ خو الحمدلله له الله څخه حيا کو، هغه ويل: حيا دغه نه ده، سمه دمه حيا له الله څخه

دا ده چې ته خپل سر او سر چې په څه شي مشتمل دی محفوظ وساتې، خيټه او مشمولات يې محفوظ وساتې، مرګ ځان ته راياد کړې او اخرت چې څوک غواړي نو هغه د دنيا ډول ډال پرېږدي، که څوک داسې وکړي نو له الله څخه يې حقه حيا وکړه.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې هغه څه نښه جوړول يې حرام کړي دي چې ساکښ وي، په صحيحينو کې له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه په څه شمېر کسانو باندې تېرېده او هغوی له مارغه څخه نښه جوړه کړې وه، خو چې ابن عمر رضي الله عنه يې وليد تول وتښتېدل، ابن عمر وويل: دا چا کړي دي؟ که هر چا دا کړي وي الله دې پرې لعنت و ورړوي، نبي صلی الله عليه وسلم پر هغه چا لعنت ويلی دی چې ساکښ مخلوق نه نښې جوړوي. (صحيح مسلم: ٥٨)

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې د ازاد سړي له پلورلو يې منع کړې ده، نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**قَالَ اللَّه: ثَلاَثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ: رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ، وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ، وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَهُ**».
[صحيح البخاري: ٢٢٢٧]

**ژباړه**: الله پاک وايي: د قيامت په ورځ به زه له درې ډوله خلکو سره جنګ کوم: هغه څوک چې زما په نوم لوظ وکړي او بيا غدر وکړي، او هغه څوک چې ازاد انسان وپلوري او نرخ يې وخوري، او هغه څوک چې په مزدورۍ څوک ونيسي، خپل عمل ترې پوره واخلي او مزدوري ورنه کړي.

د تېر حديث په رڼا کې د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې هغه چا ته سخت وعيد اوروي چې له مزدور څخه کار اخلي او هغه ته پوره مزدوري نه ورکوي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې ساحر او کاهن په خپل عمل درامد کې تصديقول حرام ګڼي، نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَطَيَّرَ أَوْ تُطِيِّرَ لَهُ، أَوْ تَكَهَّنَ أَوْ تُكُهِّنَ لَهُ، أَوْ سَحَرَ أَوْ سُحِرَ لَهُ**». [الجامع الصحيح للسنن والمسانيد: ١٧ / ٣٣٣]

**ژباړه**: له مونږ څخه هغه څوک نه دی چې يا بدپالي نيسي او يا ورله بدپالي نيول کيږي، يا خپله کهانت کوي او يا ورله کهانت وشي، يا خپله سحر کوي او يا ورله

سحر وشي، او څوک چې کاهن ته راشي او په خپلو خبرو کې يې تصديق کړي نو په محمد صلى الله عليه وسلم نازل شوي دين يې کفر وکړ.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې العياذ بالله (قِدَادَه) يې حرام کړې ده، قداده دې ته ويل کيږي چې له سرې سره پردې ښځه واچول شي، که د سړي لپاره ښځه سړي راوستي او که ښځې خو حرامه ده.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې مسلمان ته د تکليف ورکولو په نيت زوردارو ته يې چغل خوري حرامه کړې ده.

دا سلامي دين بله ګټه دا ده چې د بل چا د ملکيت غصب يې حرام بللی دی، ځکه غصب د ظلم او ورانکاری يو ډول دی او له ظالمانو سره الله مينه نه کوي.

د اسلامي دين بله ګټه دا ده چې په استقامت او سرښندنې خلکو ته دعوت ورکوي، استقامت په ټولو کارونو، په ټولو حالتونو او اقوالو او افعالو کې د اعتدال نوم دی، په استقامت سره نفس په افضل ترين او کامل ترين حالت کې وي، په دې حالت کې له نفس څخه نه خو کوم قبيح کار صادريږي او نه ورته ذم او ملامتيا متوجه وي، استقامت هله منځ ته راځي چې د اسلامي شريعت شريف احکامو باندې عملي کار مخه واخلي، منګولې پرې کلکې کېښودلی شي او تر حدودو يې عدوان ونه شي، نېک او فاضل اخلاق يې عملي بڼه ولري او د کمال صفتونه يې په نفس کې شته شي، الله پاک فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ﴾ [سورت فصلت: ۳۰]

ژباړه: هغه خلک چې وايي زمونږ رب الله دی او بيا په دې خبره کلک ولاړ وي، ملائک پرې رانازليږي او ورته ډاډ ورکوي چې هيڅ خوف او ترس مه کوئ او مه خفه کېږئ، د هغو جنتونو دې درته مبارک وي چې له تاسو سره يې وعدې کېدلی شوې.

او الله پاک خپل پيغمبر ته وايي:

﴿فَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطۡغَوۡاْۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ﴾ [سورت هود: ۱۱۲]

**ژباړه:** چې ځنګه درته امر کيږي هغه ډول په دين کلک او مضبوط ودريږه او هغه څوک هم چې له تاسره دي او هيڅ ډول سرغړونه مه کوئ، الله ستاسو عملونو لره ليدونکی دی.

او نبي صلی الله عليه وسلم هم سفيان بن عبدالله ته وويل: «**قُلْ رَبِّيَ اللهُ ثُمَّ اسْتَقِمْ**».
[جامع الترمذي: ۲٤۱۰]

**ژباړه:** ته داسې ووايه چې الله زما رب دی او بيا پرې کلک ودريږه.

د اسلامي بله ګټه دا ده چې که يو څه يې حرام کړي دي نو په بدل کې يې ورله ډېر ښه څيز روا کړی دی، هم د حرام شده شيانو ځای نيسي او هم انسان له حرامو بې غمه کوي، د استسقاء بالازلام د حرمت متعلق چې امام ابن القيم رحمه الله تفصيلي شننه کړې ده چې الله پاک استسقام بالازلام حرام کړی دی خو په بدل کې يې ورله دعاء استخاره نېک عوض ورکړی دی، که يې ربا حرام کړې ده نو بديل کې يې ګټوره سوداګري ده.


اسلام په خلکو قمار بازي حرامه کړې ده او په بدل کې يې ورله د اسونو او اوښانو او غشو مسابقه باندې د ماليت خوراک روا کړی دی.

که اسلام په خلکو ورېښم حرام کړي دي نو په عوض کې يې ورله قيمتي او نايابه د ورۍ، د کتان او مالوچو پوښاکونه هم ورکړي دي.

که اسلام په مسلمانانو نشه يي توکي حرامې کړي دي نو په بدل کې يې ورته خوندور او د روح او بدن لپاره ګټور څښاکونه هم ورکړي دي.

اسلام په ګرد انسانيت باندې پليت خوراکونه حرام کړي دي او په بدل کې يې ورته خوندور خواړه ورکړي دي، که د اسلامي تعليماتو پلټل داسې پېل کړو راته به جوته شي چې د ژوند په هيڅ اړخ کې اسلام په انسانانو باندې تنګي نه ده راوستې مګر په بل اړخ کې يې پرې پراخي راوستې ده، والله اعلم.

ای الله! په محمد صلی الله عليه وسلم او کورنۍ او په ټول ملګرو يې رحم وکړه.



# دیارلسم فصل

د اسلامي دين بله ګڼه دا ده چې په خپلو تشريعاتو او توجيهاتو کې ښه نيتونه، پاک زړونه او مقدسې موخې تقديروي، نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى**». [صحيح البخاري: ١]

**ژباړه:** د ټولو عملونو مدار په نيتونو پورې دی او د هرسړي لپاره به هغه څه وي چې ده يې نيت کړی وي.

په ښه نيت سره مباحات او عادتونه په اطاعت او الله ته په قربت بدليږي، که د خپل ژوند د تحفظ او د نفس د تقويې په خاطر څوک خوراک وکړي ترڅو د الله عبادت او واجبات په سمه توګه ادا کړی شي، د خپل اهل او بچو حقوق کې کوتاهي ونه کړي، نو د نېک نيت پر بنسټ يې دغه خوراک او څښاک د عبادت طبيعت اخلي، همدا ډول که څوک له خپلې بي بي يا وينځې سره د نفس د عفاف او د بچو د زيادت په خاطر همبستري وکړي نو د نېک نيت له مخې يې که څه هم ده خپل شهوت پر ځای کړ خو د عبادت طبيعت يې ودرلود، الله پرې انسان ته اجر او ثواب ورکوي، په دې هکله نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ**، **قَالُوا**: **يَا رَسُولَ الله، أَيَأتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ؟ قَالَ**: «**أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهَا وِزْرٌ؟ فَكَذَلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ**». [صحيح مسلم: ١٠٠٦]

**ژباړه:** تاسو کې د يو چا جماع هم د هغه لپاره صدقه ده، صحابه کرامو وويل: ای د الله رسوله! که مونږ کې څوک خپل شهوت ته راځي نو څنګه د هغه لپاره صدقه شمېرل کيږي؟ هغه وويل: که دغه اندام په حرام کې کيږدي نو ايا ګناه به پرې نه وي؟ نو که په حلالو کې يې استعمال کړي نو ثواب يې په کې دی.

د اسلامي دين بله ګڼه دا ده چې په مسلمان باندې د مغصوب او مسروقو شيانو

پلور او پېر حرام کړی دی، که څوک مغصوب یا مسروق شیان واخلي نو له ظالم سره یې مرسته وکړه، خو که مغصوب او مسروقو شیانو مدت د غاصب او سارق په ملکیت کې اوږد هم شي بیا هم ورله نه حلالیږي، ځکه د وخت ډېرښت د چا لپاره د حرامو د حلیت سبب نه شي جوړېدی او نه پرې د اصلي مالک حق ساقطیږي.

د اسلامي دین بله ګټه دا ده چې ربا یې حرامه کړې ده، ځکه ربا ویل کیږي دې ته چې پردی مال پکې څوک برناحق او بې عوض واخلي، که څوک یوه روپۍ په دوو روپو خرڅه کړي نو یوه روپۍ یې بې له کوم عوض اوبدل څخه راجلب کړه، ځکه د انسان مالیت د هغه د اړتیاو پورې معلق دی او عظیم حرمت لري.

دوهم: د خلکو ترمنځ د ربا معاملات د قرض په نوم انساني همدردي له منځ وړي.

دریم: ربا انسان د معیشت او مزدورۍ له مشقت څخه په کناره کوي، که څوک ربوي معاملات کوي نو کسب او کار یې هم نه وي، په دې سره د ډېرو خلکو ګټې له خاورو سره خاورې کیږي او له عمل او جد و جهد نه په کسالت کې لویږي، برسېره پر دې الله پاک په سودخور، سود ورکونکي او لیکوال او ګواه ټولو باندې لعنت هم ویلی دی.

د الله بندګانو! تاسو چې د اسلامي دین کوم محاسن واورېدل دا د اسلام د محاسنو له دریاب څخه څاڅکي و چې د خواره واره عرب پرې الله راغونډ کړل، د هغوی زړونه لیکې یې یوې کړې، اخلاق او طبیعتونه یې ورله مهذب کړل، د جنګ د ډګر نومیالي خلک یې ترې جوړ کړل، پراخه حکومت یې درلود، د ځمکې مشرق او مغرب یې په ولقه کې ولوید، د ځمکې په ټولو اړخونو کې یې اسلامي بیرغ رپاند پورته کړ، الله پاک فرمايي:

﴿وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا﴾

[سورت ال عمران: ۱۰۳]

ژباړه: د الله لورینه رایاده کړئ چې خپل منځ کې سره دښمنان وئ، ستاسو زړونه یې یو کړل او د نعمت له مخې یې ورونه ورونه جوړ شوئ.

او الله پاک فرمايي:

﴿وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ أَنتُمۡ قَلِيلٞ مُّسۡتَضۡعَفُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمۡ وَأَيَّدَكُم بِنَصۡرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ﴾ [سورت انفال: ٢٦]

ژباړه: او هغه وخت ياد کړئ چې په ځمکه کې بې وسه وئ او له دې څخه ډارېدئ چې خلک به مو يرغمال کړي، نو الله تاسو ته ځای درکړ او د خپلې مرستې له مخې يې ستاسو تاييد وکړ.

اسلامي دين داسې دی چې الله پاک د ټولې ځمکې پر مخ لکه د روښانه لمر په څېر نشر کړ چې وړانګې يې څوک نه شي پټولی، او د هغه ځليدونکي سپوږمۍ په څېر دی چې پلوشې يې ښکاره دي او نه يې ځلا بې نوره کېږي.

اسلام داسې دين دی چې تر بلې ورته دښمنان او حسدګر په شعوري او غير شعوري انداز نږدې کېږي، په حقانيت يې دښمنان او اغيار د خپلې ټيکنالوژۍ او نوښتونو له مخې ګواهي ورکوي، الله پاک فرمايي:

﴿سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ﴾ [سورت فصلت: ٥٣]

ژباړه: ډېر ژر به ورته مونږ د اسمان په کنارو کې او د دوی په نفسونو کې د خپل وحدانيت او حقانيت نښې وروښايو ترڅو ورته روښانه شي چې اسلام حق دی.

اسلام هغه دين دی چې اغيار او کينه ګر ورته د نزول له اولې ورځې راهيسې راز راز پلمې جوړوي خو دا نن هغه ډول پياوړی دی چې څنګه مخکې و، دوی زيار اوباسي چې رڼا يې له منځه يوسي خو نه يې اسلام بې نوره کړ او نه يې د اسلام منطق کمزوری کړ، الله پاک فرمايي:

﴿يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ [سورت صف: ٨]

ژباړه: دوی غواړي چې د خولو په پوکو سره د الله نور بې نوره کړي، الله خپل نور هرومره بشپړ کونکی دی که څه هم کافران يې بد ګڼي.

مسلمانه وروره! ستا لپاره همدومره بسنه کوي چې اسلامي دين د دنيا او اخرت په خير او سعادت مشتمل دی، په دنيوي او اخروي نعمتونو مشتمل دی، هر ډول

فضيلت ته يې دعوت او له هر ډول رذالت څخه د نفرت دعوت ورکوي، که د اسلامي په خورا متينې رسۍ منګولې مضبوطې کړې او په احکامو د عمل حرص ولرې، په ادابو يې ځان سينګار کړې نو ژوند به دې د سعادت او مرګ به دې هم د سعادت وي.

**ابن القيم رحمه الله وايي:**

**هَـذَا وَنَـصْرُ الدِّيـنِ فَـرْضٌ لازِمٌ *** لا لِلْكِفَايَـةِ بَـلْ عَلَى الأَعْيَـانِ**

خبره دا واوره چې د اسلامي دين مرسته لازمي او عيني فرض دي او فرض کفايي نه دي.

**بِيَـدٍ وَأَمَّا بِاللِّسَـانِ فَـإِنْ عَجَزْتَ *** فَبِالتَّوَجُّـهِ وَالدُّعَا بِجَنَـانِ**

يا به يې مرسته په لاس، يا په ژبه او که له دې بې توانه وې نو د کامل توجه په دعا سره يې بايد مرسته وکړې.

**مَـا بَعْـدَ ذَا وَاللهِ للإِيمَـانِ حَبَّـــ *** ـــةُ خَـرْدَلٍ يَـا نَـاصِرَ الإِيمَـانِ**

ای د ايمان مرستندويه! له دې وروسته د وربشې د دانې په اندازه هم په والله که ايمان وي.

**بِحَيَـاةِ وَجْهِـكَ خَـيْرَ مَسْـؤُولٍ بِهِ *** وَبِنُـورِ وَجْهِكَ يَـا عَظِيمَ الشَّـانِ**

ای د عظيم شان او شوکت څښتنه! ستا د مخ په ژوند او نور چې ډېر غوره مسؤل يې (چې څه ورنه غوښتل کيږي)

**وَبِـكَ الْمُعَـاذُ وَلا مَـلاذَ سِـوَاكَ *** أَنْـتَ غِيَـاثُ كُلِّ مُـلَدَّدٍ لَهْفَـانِ**

پر تا پورې مو پناه ده، له تا پرته بل د پناه ځای نشته، د رنځورانو او د حسرت څښتنانو مرستندويه يې.

**مَـنْ ذَاكَ لِلْمُضْطَرِ يَسْـمَعُهُ سِـوَاكَ *** يُجِيـبُ دَعْوَتَـهُ مَـعَ الْعِصْيَـانِ**

د مجبور انسان اواز له تا پرته نور څوک نه اوري چې د عصيان باوجود يې دعاګانې قبولې کړي.

**إِنَّـا تَوَجَّهْنَـا إِلَيْـكَ لِحَاجَـةٍ *** تُرْضِيـكَ طَالِبُهَـا أَحَـقَّ مُعَـانِ**

د څه اړتیاو غوښتو په خاطر درته مونږ توجه کو او په داسې کلماتو دې ثنا بیانو چې تا راضي کوي.

فَاجْعَل قَضَاهَا بَعْـضَ أَنْعُمِكَ الَّتِي *** سَـبَغَتْ عَلَيْنَـا مِنْـكَ كُلَّ زَمَـانِ

زمونږ دغه اړتیا پوره کول له خپلو ځینو هغو لورینو څخه وګرځوه چې ته یې راباندې هر مهال راوروې.

انْـصُرْ كِتَابَـكَ وَالرَّسُـولَ وَدِينَكَ *** الْعَـالِي الذِي أَنْزَلْـتَ بِالْبُرْهَـانِ

ته دې دخپل هغه کتاب او رسول او دین مرسته پخپله وکړه چې په دلیل دې رانازل کړي دي.

وَاخْتَرْتَهُ دِيناً لِنَفْسِـكَ وَاصْطَفَيْتَ *** مُقِيمَـهُ مِـنْ أُمَّـةِ الإِنْسَـانِ

هم دې دغه دین له ځان لپاره اختیار کړی او هم دې په انسانانو کې هغه څوک غوره بنده دی چې دین په سمه معنا ادا کوي.

وَرَضِيتَـهُ دِينـاً لِمَـنْ تَرْضَـاهُ مِنْ *** هَـذَا الْـوَرَى هُـوَ قَيِّـمُ الأَدْيَـانِ

په خلکو کې پر دغه دین ته د هغه چا لپاره هم راضي یې چې ته ترې خوشحاله یې او دا دین هم په ادیانو کې سید دین دی.

وَأَقِـرَّ عَـيْنَ رَسُـولِكَ الْمَبْعُـوثِ *** بِالدِّيـنِ الْحَنِيـفِ بِنَـصْرِهِ الْمُتَدَانِ

له شرک څخه پاک اسلامي دین په نزدې کومک او مرسته دې د خپل راستولي پیغمبر سترګې هم یخې کړه

وَانْـصُرْهُ بِالنَّـصْرِ الْعَزِيـزِ كَمِثْـلِ *** مَـا قَدْ كُنْـتَ تَنْصُرُهُ بِـكُلِّ زَمَانِ

او ته یې دومره غښتلې مرسته وکړه لکه مخکې چې به دې هر مهال او هر وخت د دې دین مرسته کوله.

يَـا رَبُّ وَانْـصُرْ خَـيْرَ حِزْبَيْنَا عَلَى *** حِزْبِ الضَّلالِ وَعَسْـكَرِ الشَّـيْطَانِ

ای رب کریمه! د ضلالت او شیطان په لښکرو باندې د خیر او فضیلت والا ډلې ته بری ورکړه.

يَـا رَبُّ وَاجْعَـلْ شَرَّ حِزْبَيْنَـا فِداً *** لِخِيَارِهِـمْ وَلِعَسْـكَرِ الْقُـرْآنِ

اى رب! په مونږ کې بدترينه ډله د غوره ډلې او د قراني عسکرو لپاره قربان او زار کړه.

يَـا رَبُّ وَاجْعَـلْ حِزْبَـكَ الْمَنْصُورَ *** أَهْـلَ تَرَاحُـمٍ وَتَوَاصُـلٍ وَتَـدَانِ

اى رب کريمه! خپل مصنور لښکر دې د متقابل رحم او تواصل لښکر وګرځوه.

يَـا رَبُّ وَارْحَمْهُـمُ مِنَ الْبِـدَعِ الَّتِي *** قَـدْ أُحْدِثَـتْ فِي الدِّيـنِ كُلَّ زَمَانِ

اى رب کريمه! ته دې په خپل لښکر مهربانه شه او له هغو بدعتونو يې سالم وساته چې په هر وخت په دين کې اضافه شوي دي.

يَـا رَبُّ جَنِّبْهُـمْ طَرَائِقَهَـا الَّـتِي *** تُفْـضِي بِسَـالِكِهَا إِلى النِّـيرَانِ

اي رب کريمه! له لارو څخه يې هم سالم وساته چې روان انسان پرې تر اوره رسوي.

يَـا رَبُّ وَاهْدِهِـمْ بِنُـورِ الْـوَحْيِ كَيْ *** يَصِلُـوا إِلَيْـكَ فَيَظْفَـرُوا بِجِنَـانِ

اى رب کريمه! د خپلې وحې نور ته يې مهتدين جوړ کړه ترڅو تا ته دورسيږي او په جنتونو باندې غازيان شي.

يَـا رَبُّ كُـنْ لَهُـمْ وَلِيّـاً نَـاصِراً *** وَاحْفَظْهُـمُ مِـنْ فِتْنَـةِ الْفَتَّـانِ

اى رب کريمه! ته يې کارساز او دوست شه او د هرفتنګر له فتنې څخه يې وژغوره.

وَانْصُرْهُـمْ يَـا رَبُّ بِالْحَـقِّ الذِي *** أَنْزَلْتَـه يَـا مُـنْزِلَ الْقُـرْآنِ

اى رب کريمه او د قران نازلونکيه! ته يې په هغه حق مرسته وکړه چې تا نازل کړې دى.

يَـا رَبُّ إِنَّهُـمُ الْغُرَبَـاءُ قَـدْ لَجَؤُا *** إِلَيْـكَ وَأَنْـتَ ذُو الإِحْسَـانِ

اى رب کريمه! ته د ډېر احسان والا يې او دوى له ديني ناحيې څخه نااشنا دي او ستا در ته درغلي دي.

يَـا رَبُّ قَـدْ عَادُوا لأَجْلِـكَ كُلَّ *** هَـذَا الْخَلْـقِ إِلا صَـادِقَ الإِيمَـانِ

اى رب کريمه! له رښتني مومن پرته يې نور له ټول مخلوق سره ستا د رضا په خاطر دښمني اعلان کړې ده.

قَـدْ فَارَقُوهُـمْ فِيكَ أَحْـوَجَ مَا هُمُ *** دُنْيـاً إِلَيْهِـمْ فِي رِضَى الرَّحْمَـنِ

ای رب کریمه! ستا د رضا په خاطر يې په دنيا کې ټول هغه څه پرېښي دي چې دوی ورته په سخته اړتيا کې ول.

وَرَضُـوا وَلايَتَـكَ الَّتِي مِـنْ نَالَهَا *** نَـالَ الأَمَـانَ وَنَـالَ كُلَّ أَمَـانِ

له تاسره دوستۍ د ترلاسه کولو باندې ډېر خوشحاله دي چې که دغه ولايت چا تر لاسه کړ نو ډېر امان يې تر لاسه کړ.

وَرَضُوا بِوَحْيِكَ مِنْ سِوَاهُ وَمَا ارْتَضَوْا *** بِسِـوَاهُ مِـنْ آرَاءِ ذِي الْهَذَيَـانِ

له ټولو او هرو بې بنسټو او دورغو اراؤ نه ستا په وحې ډېر خوشحاله دي.

يَـا رَبُّ ثَبِّتْهُـمْ عَلَى الإِيمَـانِ *** وَاجْعَلْهُـمُ هُـدَاةَ التَّائِـهِ الْحَـيْرَانِ

ای رب کریمه! په ايمان ورته ثبات او استقامت ورکړه او د هر للانده او حيران لپاره يې د لارښونکي جوړ کړه.

وَانْصُرْ عَلَى حِزْبِ النِّفَاقِ عَسَـاكِرَ الْـ *** إِثْبَـاتِ أَهْـلَ الْحَـقِّ وَالْعِرْفَـانِ

د اسماؤ او صفاتو په ټولو منکرينو باندې ستا د صفتونو د مثبتينو اهل حقو او دعلم پوهې خلکو ته برى ورکړه.

وَأَقِـمْ لأَهْـلِ السُّـنَّةِ النَّبَوِيَّـةِ الـ *** أَنْصَـارَ وَانْصُرْهُـمُ بِـكُلِّ زَمَـانِ

د نبوي سنتو تابعدارو لپاره په هر ځای او هر وخت کې مرستندوی پيدا کړه او هر مهال يې ته مرسته وکړې.

وَاجْعَلْهُـمُ لِلْمُتَّقِـينَ أَئِمَّـةً *** وَارْزُقْهُـمُ صَـبْراً مَـعِ الإِيقَـانِ

دوی د ټولو متقينو لپاره امامان وګرځوه او له يقين سره يې صبر روزي کړه.

تَهْـدِي بِأَمْـرِكَ لا بِمَا قَـدْ أَحْدَثُوا *** وَدَعَـوْا إِلَيْـهِ النَّـاسَ بِالْعُـدْوَانِ

چې ستا په دين خلکو ته لارښوني کوي نه په هغو بدعاتو چې دوی په دين کې جوړ کړي دي او خلک ورته په ظلم رادعوت کوي.

وَأَعِزَّهُـمْ بِالْحَـقِّ وَانْصُرْهُـمْ بِـهِ *** نَـصْراً عَزِيزاً أَنْـتَ ذُو السُّـلْطَانِ

په حق او حقانيت يې معزز او قوي مرسته يې وکړه، ته د واک او اختيار څښتن يې.

وَاغْفِـرْ ذُنُوبَهُـمُ وَأَصْلِـحْ شَـأْنَهُمْ *** فَلأَنْـتَ أَهْـلُ الْعَفْـوِ وَالْغُفْـرَانِ

ته يې ګناهونه وبخښه او چارې يې سمې کړه، ته د درګزرۍ او بخښنې والا ذات يې.

وَلَـكَ الْمَحَامِـدُ كُلُّهَـا حَمْـداً كَمَا *** يُرْضِيـكَ لا يَفْـنَى عَلَى الأَزْمَـانِ

ستا لپاره ډېره او په زمانو زمانو پوره او دومره کامله ثنا ده چې تا راضي کوي.

مِمَّـا تَشَـاءُ وَرَاءَ ذَلِـكَ كُلِّـهِ *** حَمْـداً بِغَـيْرِ نِهَايَـةٍ بِزَمَـانِ

له دې وروسته دې هم ستا لپاره د وختونو په استمرار چې انتهاء نه لري دومره ډېره ثناء وي چې ستا خوښه وي.

وَعَلَى رَسُـولِكَ أَفْضَـلُ الصَّلَـوَاتِ *** وَالتَّسْـلِيمِ مِنْكَ وَأَكْمَـلِ الرِّضْوَانِ

ستا په استازي دې تر هر څه غوره ترين او اکمل ترين درود او سلامونه وي

وَعَلَى صَحَابَتِـهِ جَمِيعـاً وَالأُلَى *** تَبِعُوهُـمُ مِـنْ بَعْـدُ بِالإِحْسَـانِ

د هغه په ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم او په هغو خلکو چې په نېکه طريقه يې د دوی پېروي کړې ده.

ای الله! په محمد صلی الله عليه وسلم او کورنۍ او په ټولو ملګرو يې رحم وکړه.

# په پای کې درته د يو عالم دين لنډه خبره

د ټولنې نشو نما ته ځير شه او د لومړي پرمختګ لاملونه يې علم کې راوله، درته به جوته شي چې په يوه خبره څه شي راټول کړي ول؟ د افرادو حزم او عزم يې څه شي محکې يوړ؟ د ټولنې غړي يې څنګه سره يو کړل؟ او د مجد او شرافت څوکې ته کوم شي ورپورته کړل چې په ټولو خلکو به يې سياست او حکومت کو؟

دوی ايکې يواځې اسلامي دين محکې وړي وو چې غښتلي اصول، پياوړی بنسټ او پرېکړو ته شموليت او کمال لري، دا دين په مينه او محبت باعث، الفت ته داعي، د نفسونو پاکونکی او زړه له ګندګۍ او پليتې څخه پاکوي، دا دين د ځلانده حق په پلوشو عقلونه روښانه کوي او د بشري ټولنو په جوړښت کې له انسان سره مرسته کوي، د وجود تحفظ يې کوي، پر خپلو پيرکارو غږ کوي چې خپل مدني حالتونه روغ رمټ وساتي، د اسلامي دين له راتګ وړاندې د جاهليت دور ته ښه ځير شه چې انسانيت په همجيت او تفرقو ويشل شوی و، غير انساني رويو او ګردو بداخلاقيو پرې واک درلود، کله چې اسلام راڅرګند شو ټول يې يو کړل او قوت يې ورته بخشش کړ، نفسونه يې ورله په تهذيب او عقلونه يې ورله په نورانيت وپالل، اخلاق يې ورله اصلاح کړل او احکام يې ورله سم کړل، له دې کبله يې په ټولې نړې راج وموند او په عدل او انصاف يې پر خلکو حکومتولي کوله.

ای الله! ستا له عذاب نه راته نجات راکړې او ستا په ذکر مو ښايسته کړې، ستا په اوامرو مو بوخت وساتې او ستا ښايسته پرده له مونږ څخه مه پورته کوه، د خپل لطف او احسان له مخې ته په مونږ لورينه وکړه، ستا په عبادت او ذکر له مونږ سره مرسته وکړه، ای الله! ستا له عذاب نه مو وساتې او ستا عقاب نه راته امان راکړې.

ای الله! د څه شي واک او اختيار چې دې راته راکړی دی ته راسره پکې کومک وکړې او استقامت راته پکې راکړې.

ای الله! له هغې دنیادارۍ نه درپورې پناه غواړو چې د اخرت د ګټو مخه نیسي، او د هغه ژوند نه درپورې پناه غواړو چې د مرګ ګټې له منځه وړي، او د هغه امېد څخه هم درپورې پناه غواړو چې د کار او کسب ترمنځ مانع واقع کیږي.

ای الله! مونږ ته، زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته په خپل رحم باندې بخشش او مغفرت وکړې.

ای الله په محمد صلی الله علیه وسلم او کورنۍ او ملګرو یې رحم وکړې.

# د ليکوال د ژوند سوانح

د ليکوال د ژوند سوانح مو د هغه د ځوی عبدالحميد بن عبدالعزيز بن محمد السلمان له کتاب (**فتح المنان بترجمة الشيخ عبدالعزيز بن محمد السلمان**) څخه رانچوړ کړې ده، کتاب څلورم چاپ لري او په (۱٤۱٤هـ-۱۹۹۳م) کال کې دار طويق په رياض کې نشر کړی دی.

## د شيخ رحمه الله نسب:

شيخ رحمه الله عالم، مفسر، اصولي، فقيه، پرهيزګار او عابد انسان و، خپل نوم يې عبدالعزيز، د پلار نوم يې محمد، د نيکه نوم يې عبدالرحمن بن عبدالمحسن اسم کنيه يې ابومحمد وه، په روقه کې د بنواساعده څخه د مشهورې قبيلې عتيبه له کندي دی.

بنواساعده چې شيخ رحمه الله يې غړی دی د لومړي ځل لپاره د زلفي په ښار کې ميشت وه تر دا مهاله يې په زلفي کې غړي هم ميشت دي، د نورو علماؤ ترڅنګ يې شيخ رحمه الله هم شهرت لري، شيخ رحمه الله په زلفي ښار کې د قضاء او د جامع مسجد خطابت دندې لرلې، د زلفي ښاريانو ترمنځ شيخ رحمه الله ډېر ښه نوم لري او د عوامو ترمنځ يې ښې معنوي خبرې رواج لري، د ديارلسمې هجرې پيړۍ په اخرو وختونو کې ترې دوه غړي (عبدالرحمن او د هغه ورور محمد) د عنيزې ښار ته راغلل، له عبدالرحمن څخه ګڼ شمېر بچي هلته پيدا شول چې يو هم محمد د ليکوال پلار و چې لا يې مونږ په تعارف بوخت يو.

## د شيخ رحمه الله پيدايښت او د علم حصول پسې هلې ځلې

شيخ رحمه الله د عنيزې په ښار کې د رمضان د مياشتې د په پنځلسمې شپې په ديارلس سوه اووه يا نهه ديرشتم کال باندې فاني دنياګۍ کې سترګې وغړولې، په ديندراه، پرهيزګاره او د علم او زهد په کورنۍ کې رالوی شوی دی، دا لا

ماشوم و چې پلار يې ومړ، د پلار له مړيني وروسته يې مور بي بي رقيه بنت الشيخ عبدالعزيز بن الشيخ محمد بن ابراهيم السناني پالل په غاړه واخستل.

په (١٣٤٥هـ) کال کې د محمد بن عبدالعزيز الدامغ ترڅارنې لاندې د تحفيظ په مدرسه کې شامل شو، نږدې درې کاله وروسته يې له دې مدرسې څخه فراغت وشو او بيا د صالح بن ناصر بن صالح رحمه الله په مدرسه کې شامل شو او هلته يې ليک لوست او حساب زده کړل، نږدې درې کاله وروسته له دې مدرسې څخه هم په داسې حالت کې فارغ شو چې په ليک لوست او حساب کې يې ښه مهارت درلود، هېره دې نه وي چې قران کريم يې ايکې يواځې په دوو کلونو کې ياد کړی و او دغه مهال اوولس کلن و.

په (١٣٥٣هـ) کې د قصيم له نامتو عالم او محقق شيخ عبدالرحمن سعدي رحمه الله څخه قرائت پيل کړ او تر لس کالو ورسره پاتې شو، دغه مهال يې ځينې متنونه لکه **زاد المسقنع، بلوغ المرام، الفية بن مالک** او داسې نور ډېر متنونه حفظ کړي ول.

شيخ رحمه الله له غښتلي عالم دين او ستر مجدد شيخ الاسلام ابن تيميه او د هغه له پياوړي شاګرد او ديني عالم شيخ الاسلام ابن القيم الجوزيه رحمهما الله نه ډېر متاثره و، د دواړو ليکنو ته يې مخه کړه او په ځېر سره يې د مطالعې لاندې ونيول، او ډېر علم يې ترې زده کړل چې د شيخ رحمه الله په کتابونو کې اثرات په څرګند ډول برېښي، په ځانګړي توګه (**العقيدة الواسطيه**) چې شيخ رحمه الله يې تر ډېر مهاله د تدريس دنده هم په غاړه لرله او د خپلو شاګردانو د تفهيم لپاره يې په ياد کتاب باندې د سوال او ځواب په شکل کې ليکنه هم وکړه او الحمدلله په ډېر مدارسو او معهدونو کې ترې شاګردان مستفيد شول.

د دې ترڅنګ يې پرې د (**الکواشف الجلية عن معاني الواسطية**) په نوم مفيده او ګټوره شرحه هم وليکله چې جامعو شروحو کې شمېرل کيږي، الحمدلله تر دا مهال پرې له ماسره د ګران پلار او ستر عالم دين عبدالله بن عبدالعزيز بن باز رحمه الله هغه ليکل هم پراته دي چې کله ورته ما دعقيدة الواسطيه ياده شرحه په دار الافتاء کې د خپلې دندې په مهال وړاندې کړه وېويل: (الکواشف الجلية) کتاب مونږ ډېر ښه پېژنو.

د كتاب اړوند دا تزكيه الحمدلله په دې دلالت كوي چې هم د علماؤ ترمنځ شهرت او هم علمي ارزښت لري، خو الحمدلله د شيخ رحمه الله ټولې ليكنې د علماؤ ترمنځ معروفې او مشهورې او د باور وړ دي.

**تنبيه:**

د نجد د علماؤ د ترجمو او تعريف ترڅنګ ځينو ليكوالانو د محترم شيخ رحمه الله د نژدې ملګري شيخ سليمان بن ابراهيم بن محمد البسام رحمه الله په ترجمه كې ذكر كوي چې ده د قصيم علامه او ستر دين پوهه او محقق شيخ عبدالرحمن بن ناصر السعدي رحمه الله څخه كتابونه لوستلي ول، ما يې ترې د صحت اړوند وپوښتل او هغه ځواب راكړه چې:

دغه كتابونه خفيف قرائتونه ول او په مفهوم معنا باندې درس نه و، بلكې هغه د قصيم په علامه اوستر دين پوهه شيخ عبدالرحمن بن ناصر السعدي رحمه الله درسونه تر هغه راغونډول ترڅو يې له نګرانۍ لاندې فارغ التحصيل شو.

## د شيخ رحمه الله كارنه:

شيخ رحمه الله په (١٣٦٩هـ) كال كې د رياض ښار ته تشريف راوړ، د نهه ورځو له تيرېدو وروسته د سعودي عام مفتي سماحة الشيخ محمد بن ابراهيم ال الشيخ د (سمحة) په مسجد كې د امامت په دنده وګماره او تر (١٤٠٥هـ) كال پورې پر امامت پاتې و.

په (١٣٧٠/١٢/٢٤هـ) كې د رياض په معهد علمي كې د تدريس په مقدسه دنده وګمارل شو او بيا يې له دې څخه معهد امام الدعوة العلمي ته تبديلي وشوه، هلته يې د توحيد، فقه، تفسير او حديث ديني علومو تدريسي بوختيا لرله، شيخ رحمه الله لومړی استاذ و چې په علمي معهدونو كې ګمارنه وشوه، ترپنځو كالو پورې تدريس وكړ او بيا يې په كال (١٤٠٤/٠١/١٠هـ) كې تقاعد وكړ او تدريسي مدت يې تر پايه ورسېد، په وروستيو دوو كلونو كې تاليف ته فارغ شو او ليكنې يې په كې وكړې.

تكراراً ورته د قضاء د منصب وړانديز وشو خو دلچسپي يې پكې وانه خسته چې ترڅنګ يې له نورو ګڼ شمېر منصبونو څخه هم په ټېپه انكار كړی و، په دې

خوښ و چې پاتې زندګي هم په علمي معهدونو کې په تدريسي امورو کې تېره کړي ترڅو په تاليف کې ورسره تدريسي دنده مرسته وکړي او الله يې د علم او معرفت په نشر او اشاعت کې هغه امېدونه رښتيا کړل چې ده به يې ارزوګانې لرلې.

په (١٤٠٤هـ) کال کې د امام محمد بن سعود الاسلامية نړيوال پوهنتون د (اسلامي احکامو د څېړنو په مجال کې د فرمانروا شاه فيصل نړيوال مډال) ته کانديد کړ، دغه مډال شيخ رحمه الله په بېلابېلو اسلامي احکامو کې دولس ليکنې لرلې.

## د شيخ رحمه الله تاليفات او علمي اثار

شيخ رحمه الله د ليکنو په ميدان کې ډېر کار وکړ، د عقيدې او فقه په مېدان کې يې ګڼ شمېر ارزښتناک علمي اثار قلمبند کړ، ليکلي اثار يې نږدې شلو ته رسيږي چې زياتره يې ټوکونه لري.

علمي اثار يې ګڼ شمېر ځله تکراراً چاپ شوي او د ځينو کتابونو چاپ شمېر خو يې بيخي له شلم ځل هم اوړي، د اجر او ثواب په نيت يې د هر چاپ مالي زيار خپله او يا د خيرښېګړو مينوالو يې مالي زيار اخستی دی، شيخ رحمه الله د خپلو کتابونو په چاپ او نشر هېڅ مالي نرخ نه اخست او نه يې د کتاب حقوق پلورل، بلکې د الله د رضا په خاطر به يې د خپلو کتابونو حقوق د کار خير مينوالو ته وقفاً پرېښودل او هر مسلمان ته به يې د کتاب حقوق ښښل چې د وقف لله لپاره به يې کتابونه چاپول.

ځينو حکومتي ارګانونو يې هم کتابونه نشر ته سپارلي دي لکه رابطة العالم الاسلامي يې (**الكواشف الجلية عن معاني الواسطية**) کتاب خپور کړی، الرئاسة العامة لادرارات البحوث العلمية والافتاء والدعوة والارشاد يې نهه کتابونه خپاره کړي دي چې يو يې (**الأسئلة والأجوبة الفقهية المقرونة بالأدلة الشرعية**) او بل يې (**موارد الضمآن لدروس الزمان**) کتابونه دي، د تېر په څېر يې رئاسة الحرس الوطني يې هم له (**الأسئلة والأجوبة الفقهية المقرونة بالأدلة الشرعية**) څخه د عبادتونو بخش په ځانګړي توګه چاپ او نشر کړی دی.

د شيخ رحمه الله کتابونه له سعودي څخه بهر نورو ملکونو هم د الله د رضا لپاره مفت چاپ او توزيع کړې دي لکه قطر، امارات او مصر.

څلور کتابونه يې دا مهال اردو ته هم ژباړل شوي دي او په هند او نور ملکونو کې توزيع او نشر ته سپارتل شوي دي.

همدا ډول شيخ رحمه الله به خپل زياتره وخت ليک او تاليف ته وقف کړی و، خپل کتابوونه به يې پښکې تصحيح کول او په مستحقو شاګردانو به يې توزيع کول ترڅو ګټه ترې پورته کړي.

## د شيخ رحمه الله علمي اثار

**أ) په تفسير او علوم قران کې دوه کتابونه لري:**

١ -: [**الأنوار الساطعات لآيات جامعات**] يا په بل نوم [**البرهان المحكم في أن القران يهدي للتي هي أقوم**]، دا کتاب دوه ټوکونه لري، د لومړي ځل لپاره په رياض کې مطابع نجد په (١٤٠١هـ) کال کې چاپ کړی دی.

٢ -: [**دعاء ختم القران الكريم**] په حجم کوچنی کتاب دی، د لومړي ځل لپاره په دمشق کې دارالحياة په (١٣٨٦هـ) کال کې چاپ کړی دی.

ياد کتاب د (**المناهل الحسان في دروس رمضان**) کتاب په اخر کې هم چاپ شوی دی.

**ب) په عقيده کې درې کتابونه لري:**

١ -: [**الأسئلة والأجوبة الأصولية على العقيدة الواسطية**]، کتاب يو ټوک لري، د لومړي ځل لپاره په قاهره کې المطبعة اليوسفية (١٣٨٢هـ) کال کې چاپ او نشر کړی دی، هېره دې نه وي چې دا د شيخ رحمه الله لومړی کتاب و چې د چاپ په ښه خپور شو.

٢ -: [**مختصر الأسئلة والأجوبة الأصولية على العقيدة الواسطية**]، دا کتاب يو ټوک لري، په اصل کې دا کتاب د وړاندې مخکښي کتاب اساس دی.

٣ -: [**الكواشف الجلية عن معاني الواسطية**] لوی ټوک دی، د لومړي ځل لپاره مؤسسة مكة للطباعة و الاعلام په (١٣٨٩هـ) کال کې چاپ او نشر کړ.

**ج) په فقه کې شپږ کتابونه لري:**

١ -: **[الأسئلة والأجوبة الفقهية المقرونة بالأدلة الشرعية]**، کتاب اووه ټوکونه لري، کتاب النکاح ته پکې رسېدلی و خو کتاب پوره نه دی، د کتاب چاپ او نشر په دې ټوګه شوی دی:

**لومړی ټوک**: له طهارت څخه یې پیل اخلي، د لومړي ځل لپاره په قاهره کې مطبعة المدني په (١٣٨٤هـ) کال کې چاپ کړی دی.

**دوهم ټوک**: له کتاب الزکاة څخه پیل اخلي، د لومړی ځل لپاره په قاهره کې المطبعة الیوسفیة په کال (١٣٨٦هـ) کې چاپ کړی دی.

**دریم ټوک**: له باب الهدي والأضحیة څخه پیل اخلي، او د لومړی ځل لپاره په لبنان کې مطابع الامان بدرعون په (١٣٨٧هـ) کې چاپ او خپور کړی دی.

**څلورم ټوک**: له کتاب البیع څخه پیل اخلي، د لومړي ځل لپاره به دمشق کې دار الحیاة په (١٣٨٨هـ) کال کې چاپ او خپور کړی دی.

**پنځم ټوک**: له کتاب الحجر څخه پیل اخلي، او د لومړي ځل لپاره په ریاض کې مطابع نجد التجاریة په (١٣٩١هـ) کې چاپ او نشر کړی دی.

**شپږم ټوک**: له کتاب الغصب نه پیل اخلي، او د لومړي ځل لپاره به ریاض کې مطابع نجد التجاریة په (١٣٩٢هـ) کال کې چاپ او نشر کړی دی.

**اووم ټوک**: له باب الهدیة والعطایا نه پیل اخلي، اود لومړي ځل لپاره په ریاض کې مطابع المدینة په (١٤٠١هـ) کې چاپ او نشر کړی دی.

٢ -: **[اتحاف المسلمین بما تیسر من أحکام الدین]** یاد کتاب دوه ټوکونه لري، د لومړي ځل لپاره په ریاض کې مطابع الاشعاع په (١٤٠٣هـ) کال کې چاپ او نشر کړی دی.

٣ -: **[التلخیصات لِجُلِّ أحکام الزکاة]**، کوچنی حجم لري.

٤ -: **[أوضح المسالک الی أحکام المناسک]**، یاد کتاب یو ټوک لري، دلومړی ځل لپاره په ریاض کې مطابع نجد التجاریة په (١٣٩٢ هـ) کال کې چاپ او نشر کړی دی.

٥ -: **[المناهل الحسان في دروس رمضان]**، ياد كتاب يو ټوك لري، د لومړي ځل لپاره په دمشق كې دار الحياة په (١٣٨٦ هـ) كال كې چاپ او نشر كړى دى.

٦ - **[الكنوز الملية في الفرائض الجلية]** ياد كتاب هم يو ټوك لري، د لومړي ځل لپاره په رياض كې مطابع المدينة په (١٤١٢هـ) كال كې چاپ او نشر كړى دى.

**د) د دين په محاسنو كې يو كتاب لري:**

١ -: **[من محاسن الدين الاسلامي]** كوچنى ټوک دى، د **(موارد الضمآن لدروس الزمان)** كتاب ترڅنګ يې اصل چاپ شوى دى.

**هـ) په نبوي معجزاتو كې يو كتاب لري:**

١ -: **[من معجزات النبي صلى الله عليه وسلم]** يو ټوک دى، د دې كتاب اصل هم د **(موار الضمآن لدروس الزمان)** ترڅنګ چاپ شوى.

**و) په شعرونو، زهد او حكمتونو كې هم يو كتاب لري:**

١ -: **[مجموعة القصائد الزهديات]** ياد كتاب دوه ټوكه لري، دلومړي ځل لپاره په رياض كې مطابع الخالد للأوفست په (١٤٠٩ هـ) كال كې چاپ او نشر كړى دى.

**ز) په وعظ، نصيحت او ارشاد كې شپږ كتابونه لري:**

١ -: **[موارد الضمآن لدروس الزمان]** ياد كتاب شپږ ټوكونه لري، په اصل كې ياد كتاب د **(المناهل الحسان في دروس رمضان)** فرعه ده، له دې كبله د چاپ لومړى ځل هم نه لري، بلكې په درې ټوكونو شپږم چاپ په (١٣٩٥هـ) كال كې صادر شو.

٢ -: **[مفتاح الأفكارللتأهب لدار القرار]**، ياد كتاب درې ټوكونه لري، د لومړي ځل لپاره په رياض كې مطابع المدينة په (١٤١٣هـ) كې چاپ او نشر كړى دى.

٣ -: **[ارشاد العباد للاستعداد ليوم المعاد]** ياد كتاب يو ټوک لري، د لومړي ځل لپاره په رياض كې مطابع الخالد للأوفست په (١٤٠٦هـ) كې چاپ او نشر كړى دى.

٤ -: **[ايقاظ أولي الهمم والأبصار الى اغتنام الأيام الخالية]** ياد كتاب يو ټوک لري، د لومړي ځل لپاره په رياض كې مطابع الخالد للأوفست په (١٤٠٧هـ) كې چاپ او نشر كړى دى.

٥ -: **[سلاح اليقظان لطرد الشيطان]** ياد كتاب يو ټوک لري، د لومړي ځل لپاره مطابع الخالد للأوفست په (١٤٠٨هـ) كال كې چاپ او نشر شوى دى.

٦ -: **[اغتنام الأوقات في الباقيات الصالحات]**، ياد كتاب يو ټوک لري، د لومړي ځل لپاره په رياض كې مطابع الخالد للأوفست په (١٤٠٩هـ) كې چاپ او نشر كړى دى.


شيخ رحمه الله په خپلو او د نورو علماؤ په تاليفاتو كې د شعرونو ډېرې قصيدې لري، لكه هغه قصيده چې شيخ عبدالله بن جار الله الجار الله يې د **(نصيحت)** عنوان لاندې په خپل كتاب **(الثمار اليانعة من الهلمات الجامعة)** په (٤٢٩-٤٣٠) مخونو كې ذكر كړې ده، د شيخ جار الله كتاب هم په رياض كې مطابع الخالد للأوفست په (١٤٠٧هـ) چاپ او نشر كړې ده، كه څه هم شيخ جار الله ورته قصيده نه ده منسوب كړې خو قصيده د شيخ عبدالعزيز بن محمد السلمان رحمه الله ده، د قصيدې مطلع دا ده:

**أُخَيَّ اسْتَمِعْ مِنِّيْ هُدِيْتَ نَصِيْحَةً ... بِقَوْلِ حريٍّ بِالصَّوابِ وَنَافِعِ**

**تكميل:**

د شيخ رحمه الله دا تعارف مې له خپل كتاب **(أعذب الموارد في سيرة الشيخ الوالد)** څخه راخستې ده هېر دې نه وي چې ياد كتاب د شيخ رحمه الله ذاتي سيرت ته كامل شمول لري، خو كتاب مخطوط دى.

الحمدلله الذي تتم بنعمته الصالحات



IslamHouse.com

islamhouseps IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧

ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH

P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# د اسلامي دين ښېګڼې او فايدې

د کتاب په اړه: اسلام د ټولو اسماني دينونو وروستی دين دی، اسلام يې اعلی ترين او غوره ترين دين دی، اسلام يې پوره او ښايسته دين دی، ډېر کماليات او ځانګړنې لري چې بل دين يې نه لري، مذکوره ژباړل شوی کتاب يې په خپل فصيح اسلوب په هر اړخ کې ګرد محاسن او ښايسته خصلتونه يادوي، ليکوال رحمه الله په کې د اسلام او ايمان او احسان محاسن ذکر کړي دي، د نکاح، طلاق او پلور او پېر او د حدودو متعلق ښه والی ذکر کړی دی، مؤلف رحمه الله پکې د دنيا مذمت او فاني حلاوت هم څېړلی دی، ياد کړي يې دي چې حلاوت يې چيچل دي، دنيا ټول واکدار خلک د ځان غلامان کړي دي او خپل زهر يې پرې څښلي دي خو د زندګۍ په دومره اوږده موده کې يې پرې خپل خواږه ونه څښل، خواږه د جنت خواږه دي، هغه څوک بريالی دی چې دنيا يې د خپل رب د اطاعت له کبله طلاقه کړې وي، او دنيا هغه متقي انسان ته ځان ورکوي چې بيخي يې غواړي نه، د کتاب منځ پانګه ډېره ښايسته، ډولي او په اسلوب سمبال منځ پانګه ده چې تعبير ترې نه شي کېدای، مذکوره کتاب د عظيم شان او شوکت او د لوړې مرتبې حامل دی، الله دې دا کتاب له ليکوال، له ژباړن، او د چاپ اړوند ټولو برخوالو چې بې تحاشا کوښښونه يې پکې کړي دي په ښه توګه قبول کړي




IslamHouse.com
OsoulCenter
www.osoulcenter.com
Rabwah